د افغانستان اسلامي جمهوریت
د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# عقاید

## (الفقه الأکبر)

## اتم ټولګی

(د دیني مدارسو لپاره)



د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ. ش.

عقاید - اتم ټولګی - د دیني مدارسو لپاره

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، پیرودل او پلورل یې منع دي.

curriculum@moe.gov.af

**د افغانستان اسلامي جمهوریت**

د پوهنې وزارت

د تعلیمي نصاب د پراختیا لوی ریاست

# عقاید

## (الفقه الأکبر)

## اتم ټولګی

### (د دیني مدارسو لپاره)

د چاپ کال: ۱۳۹۸ هـ . ش.

**مؤلفان**

- نعمت الله محمودي
- سعيد الرحمن سيد
- رقيب الله ابراهيمي

**علمي ايډيټ**

- سيد احمد اشرفي
- ګل آقا شايق

**د ژبې ایډیټ**

– محمد قاسم هيله من

**ديني، سياسي او فرهنګي کميټه**

– محمد آصف کوچی
– محمد نسیم قاضي زاده

**إشراف**

ـ دکتور شېرعلي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې رئيس.

بسم الله الرحمن الرحیم



## ملي سرود

دا وطن افغانستان دی — دا عزت د هر افغان دی

کور د سولې کور د تورې — هر بچی یې قهرمان دی

دا وطن د ټولو کور دی — د بلوڅو د ازبکو

د پښتون او هزاره وو — د ترکمنو د تاجکو

ورسره عرب، ګوجر دي — پامیریان، نورستانیان

براهوي دي، قزلباش دي — هم ایماق، هم پشه یان

دا هیواد به تل ځلیږي — لکه لمر پر شنه اسمان

په سینه کې د اسیا به — لکه زړه وي جاویدان

نوم د حق مو دی رهبر — وایو الله اکبر وایو الله اکبر

## بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

الحمد لله رب العالمین والصلوة والسلام علی رسوله محمد و علی آله و أصحابه أجمعین، أما بعد:

د پوهنې تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې د نظام بنسټ جوړوي او د هېواد د اوسنیو او راتلونکو نسلونو په علمي، فکري او سلوکي ودې او پراختیا کې بنسټیز او ارزښتمن رول لري.

تعلیمي نصاب باید د وخت په تېرېدو او د ژوندانه په بېلابېلو ډګرونو کې له بدلون او پرمختګ او د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هم د مضمون او محتوا او هم د معلوماتو د ورکړې د لارو چارو له مخې، بدلون او پراختیا ومومي.

د تعلیمي نصاب په ډګر کې یو هم د اسلامي زده کړو نصاب دی چې بیا کتنې او ودې ته یې جدي اړتیا لیدل کېده؛ ځکه له یوې خوا باید د دیني مدرسو فارغان د ټولنې د معنوي مخکښانو په توګه د معارف د هغو د پوره پام وړ وګرځي او له بلې خوا د دیني مدرسو په نصاب کې د اسلام د سپېڅلي دین عقاید، احکام او لارښوونې راغلې دي چې د انساني ژوند د ټولو اړخونو بشپړ نظام او قانون او د نړۍ د خالق او پرودګار د وروستني پیغام په توګه د قیامت تر ورځې پورې، د بشریت د لارښوونې دنده سرته رسوي.

د اسلامي امت عالمانو د تاریخ په اوږدو کې د اسلامي معارف او د اسلامي تعلیماتو د سیستم په رامنځته کولو، پراختیا او بډاینه، په تېره بیا د اسلامي نړۍ د علمي مرکزونو او مؤسسو د تعلیمي نصاب په تدریجي وده کې، خپله دنده سرته رسولې ده.

د اسلامي علومو تاریخ ته کره کتنه، دا څرګندوي چې د دیني مدرسو او علمي مرکزونو نصاب تل د اسلام د تلپاتې او ثابتو احکامو پر بنسټ، د ټولنې له اړتیاوو سره سم، هر وخت او هر ځای پراختیا موندلې ده.

زموږ ګران هیواد افغانستان د علمي ځلانده تاریخ په درلودلو سره د علم او پوهې زانګو او د وخت لوی علمي مرکز و چې د اسلامي ستر تمدن په جوړښت کې یې مهم رول درلود. د علم او فرهنګ په مختلفو ډګرونو، په ځانګړې توګه د عقایدو، تفسیر، حدیث، فقهې او د فقهې د اصولو په څېر په شرعي علومو کې د زرګونو پوهانو او عالمانو شتون، زموږ ددې وینا پخلی کوي.

په اوسني عصر کې د اسلامي ویښتابه له پراختیا سره سم زموږ په هېواد کې اسلامي زده کړو د ثومره والي او ثرنگوالي له مخې زیات بدلون مونډلی او د هېواد کوچنیان او ځوانان په ډېره مینه او لیوالتیا د اسلامي زده کړو مرکزونو او مدرسو ته مخه کوي.

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د خپل مسؤولیت او دندې له مخې د هېواد له اساسي قانون سره سم د اسلامي زده کړو د کیفي او کمي پراختیا او په هغې کې د اسلامي زده کړو د نصاب په اړه د پام وړ گامونه پورته کړي دي.

په دې لړ کې د پوهنې وزارت، د هېواد د ډاډ وړ تجربه لرونکو عالمانو، استادانو او متخصصانو څخه په بلنه د دیني مدرسو د تعلیمي نصاب، د لا ښه کولو لپاره، مروج کتابونه، د متونو د شرحې او توضیح او د فعالیتونو، ارزونو او تمرینونو په ورزیاتولو د درسي کتابونو له نویو معیارونو سره سم چمتو کړل.

هیله من یم، د پوهنې وزارت د عالمانو او متخصصانو د ستاینې وړ دا هڅې، په افغانستان کې د اسلامي زده کړو د لا پراختیا او بډاینې او د لوی خدای جل جلاله د رضا د ترلاسه کولو لامل شي.

وبالله التوفیق

دکتور محمد میرویس بلخي

د پوهنې وزیر

## مقدمه

### درنو استاذانو او ګرانو زده کوونکو!

د اسلام مبارک دین، بشریت ته د الله تعالی د وروستي پیغام او د ژوند د کامل نظام په توګه، په یوه سلسله باورونو او قلبي اعتقاداتو، په اخلاقي سلوکو او ارزښتونو او عملي احکامو او تکالیفو مشتمل دی، چې عقاید، اخلاق او اعمال په ترتیب سره د دې دري ګونو اړخونو بیان کوي.

څرنګه چې عقاید د دري واړو څانګو اساس او بنسټ تشکیلوي او ټولې دیني زده کړې که اخلاق دي که عبادات دي او که احکام له عقایدو څخه سرچینه اخلي، نو د عقیدې اصلاح او پخول د بندګانو په مکلفیتونو کې تر ټولو لومړیتوب لري.

عقیده په ژوند کې د ډاډ لامل ګرځي، نیکمرغي رامنځ ته کوي او د اخلاقو او اعمالو د قبول او سمسورتیا سبب جوړیږي. الله تعالی فرمايي: ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ (النحل: ٩٧) ژباړه: چا چې نیک عمل تر سره کړ، که نارینه وي او که ښځینه او دی مؤمن هم وي، نو هرو مرو به (په دنیا کې) سپیڅلی ژوند وربه برخه کړو او(په آخرت کې به) تر ټولو د ښو کړو بدله په عوض کې ورکړو.

او الله مکره که د چا عقیده ناسمه وي، د دنیا ژوند يې په کړاوونو تیریږي او په آخرت کې به د الله تعالی د عذاب مستحق ګرځي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى﴾ (طه: ١٢٤) ژباړه: او څوک چې زما له پند (قرآن) څخه مخ واړوي نو بې شکه د ده لپاره (په دنیا کې) تنګ ژوند دی او د قیامت په ورځ به يې ړوند راپورته کوو.

د عقیدې د اهمیت له کبله وو چې د رسول الله ﷺ د دعوت زیاته برخه د عقایدو اصلاح ته ځانګړې کړای شوې وه، د مکي پړاو په دیارلس کلنه موده کې د قرآن تر ټولو زیات ټینګار د عقایدو په اصلاح را څرخیږي.

تر هغه وروسته د اسلام له لومړۍ پیړۍ څخه د عقایدو د علم مسایل د تحقیق، مناقشې او له سمې عقیدې څخه د دفاع له پاره مطرح شوي او په علمي مرکزونو کې دې علم خپل لوړ مقام تر نن ورځې پورې ساتلی.

د دې علم ارزښت ته په کتو د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزارت د نصاب د پراختیا اداري لازمه وګڼله چې د عقایدو مضمون د دیني مدارسو په منځنۍ دوره کې ځای پر ځای کړي، او د اوم، اتم او نهم ټولګي لپاره يې مستقل کتابونه تالیف کړل، د یادونې وړ ده، چې د اووم او اتم ټولګي لپاره په پښتو او دري ژبو باندې مسایل تالیف شول، او په نهم ټولګي کې په عربي ژبه کتاب تالیف شو، الله تعالی دې مؤلفینو او مدرسینو ته پوره پوره اجرونه ورکړي، او د دې کتابونو ګټه دې عامه وګرځوي.

والله ولي التوفیق

# د مطالبو لړلیک

سرلیک | مخ

د عقایدو تعریف -.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۱
د ایمان بنسټونه (۱).-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۳
د ایمان بنسټونه (۲).-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ٦
د الله تعالی توحید.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.- ۹
د الله تعالی صفتونه.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۱۱
ذاتي او فعلي صفتونه.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۱۳
د الله تعالی صفات ازلي دي-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۱٦
قرآن کریم د الله تعالی کلام دی.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.- ۱۸
د الله تعالی صفتونه مثل نه لري(۱) -.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۲۱
د الله تعالی صفتونه مثل نه لري(۲) -.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.- ۲٤
قضاء او قدر حق دي.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۲٦
ایماني فطرت او د الله تعالی پیژندنه.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۳۰
د بنده ګانو افعال.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۳۳
د پیغمبرانو علیهم السلام عصمت.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.- ۳٦
د انبیاء علیهم السلام شمېر، دندې او صفتونه یې-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ۳۹
د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ځینې صفات-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ٤۲
له پیغمبرانو وروسته غوره خلک.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-.-. ٤٥

# د مطالبو لړلیک

سرلیک — مخ


د ګناه په کولو مسلمان نه کافر کېږي ۴۸

د اهل سنت والجماعت عقاید ۵۱

معجزه او کرامت ۵۴

د الله تعالی رؤیت ۵۸

ایمان ۶۰

د ایمان او اسلام ترمنځ توپیر ۶۲

د الله تعالی معرفت او عبادت ۶۵

د عالم برزخ حالتونه ۶۹

شفاعت ۷۲

میزان او حوض ۷۴

حساب، جنت او دوزخ ۷۶

د قرآن کریم د آیتونو تر منځ غوره والی ۷۹

د الله تعالی نږدېوالی، لرېوالی او د نبي ﷺ معراج ۸۲

د قیامت نښې ۸۶

د ایمان نواقض ۸۹

په ژوند کې د ایمان اغېزې او ګټې ۹۱

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

إن الحمدلله، نحمده ونستعینه ونستغفره ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسیئات أعمالنا من یهده الله فلا مضل له ومن یضلل فلا هادي له وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شریک له وأشهد أن محمداً عبده ورسوله ﷺ.

پر هر انسان باندې تر ټولو د مخه د الله تعالی او د هغه د رسول پیژندل، د رسالت تصدیق فرض او لازم دی، انسان باید نړی ته د خپل راتګ موخه له مرګ څخه وروسته د بېرته ورته ځای وپیژني. د دې مسائلو د بیان لپاره تر ټولو غوره تالیف شوی متن د امام اعظم ابوحنیفه نعمان بن ثابت د فقه اکبر په نامه کتاب دی چې ګټه یې ډېره او زده کړه یې آسانه ده، له دې امله د پوهنې وزارت، د دیني مدرسو د اتم ټولګي لپاره د دې متن تدریس وټاکه، د تعلیمي نصاب د پراختیا ریاست لیکوالو ته دنده وسپارله چې دغه متن د اتم ټولګي د زده کوونکو له ذهني سویې سره سم تدوین کړي، په دې توګه لیکوالو د هغې په تدوین کې لاندې ټکي په پام کې نیولي دي:

۱- پر لوستونو باندې د فقه اکبر وېشل او د هر لوست په پیل کې د فقه اکبر د متن لیکل.

۲- د فقه اکبر پر متن باندې له پیل کولو څخه مخکې یو لوست لیکل شوی چې په هغو کې د عقیدې معنا، موضوع، غرض، عقیدې ته اړتیا او د دې علم مصدرونه تشریح شوي دي.

۳- د لوستونو ترمنځ تړاو په پام کې نیول شوی دی.

٤- د هر لوست موضوع په آسانه ډول د زده کوونکو له علمي سویې سره سمه شرحه شوې ده.

۵- هغه اختلافي مسائل، چې امام رحمه الله ورته پرته له تفصیل او مناقشې اشاره کړې ده، په مناسب ډول شرح شوي دي.

٦-د مسائلو ترمنځ د نظم او تسلسل د ساتلو لپاره ځینې مسائل مخکې، وروسته شوي دي.

۷ـ د مسائلو په اثبات کې په قرآني آیتونو او صحیحو نبوي احادیثو تکیه شوې ده.

۸- د هر لوست په پای کې د لوست په اړوند پوښتنې راغلې چې له یوې خوا زده کوونکو ته لوست تکرار او له بلې خوا ورته د لوست مفاهیم په آسانه ډول زده کړای شي.

۹- د متن په شرح کې د ملا علي قاري او ابوالمنتهي په شروحو تکیه شوې، چې د فقه اکبر دوه معتبرې شرحې ګڼل کیږي او په ځینو ځایونو کې د امام طحاوي د عقیدې له شرحې څخه، چې ابن ابی العزالحنفي لیکلې، استفاده شوې ده.

۱۰- د کتاب په پای کې دوه لوستونه زیات شوي، چې په یوه کې د ایمان نواقض او په بل کې په ژوند کې د ایمان اغېزې او ګټې بیان شوې دي، دا مطالب د فقه اکبر په متن کې نشته، خو د زده کوونکو د علمي سویې د لوړوالي په موخه ور زیات شوي دي.

۱۱- په پای کې الله تعالی ته دعاکوو چې د دې کتاب د تدریس له لارې لوستونکو ته د اهل سنت د عقیدې په درېیژندلو ګټه ورسوي، ځکه الله تعالي ښه مرستندوی او د خیر او شر یوازنی واکمن دی.

"لیکوالان"

# د عقایدو تعریف

عقاید د عقیدې جمع ده، عقیده په لغت کې له عقد څخه اخیستل شوې. عقد، ټینګو تړلو او غوټه کولو ته وایي. عرب «اعتقد الشئ» هغه مهال وایي چې یو شی ښه ټینګ او محکم وتړل شي. العقود: کلکو وعدو ته وایي. څرنګه چې دیني عقیده د زړه په تل کې ځای نیسي او غوټه خوري، له دې امله ورته عقیده او اعتقاد ویل کیږي. [1]

عقیده په اصطلاح کې[2] هغه شي ته ویل کیږي چې سړی پرې خپل زړه تړي او ټینګ باور پرې پیدا کوي، په داسې ډول چې په آسانۍ سره له هغه څخه راګرځېدل ناشونی وي.

نو عقاید هغه باورونه دي چې شک ته پکې لاره نه وي، لکه د الله تعالی پر وجود او د هغه د رسولانو پر بعثت او له مرګ وروسته په بیا ژوندون عقیده کول.

## د عقایدو د علم موضوع

د ایمان بنسټونه د دغه علم موضوع ده، چې عبارت دي، له: پر الله تعالی ایمان، د الله تعالی پر ملایکو ایمان، د الله تعالی پر کتابونو ایمان، د الله تعالی پر رسولانو ایمان، د قیامت پر ورځ ایمان او په دې ایمان چې د خیر او شر پیښېدل په هره اندازه چې وي، د الله تعالی له لوري دي (په قضا او قدر باندې ایمان درلودل).

## د عقایدو د علم موخه

د عقیدې ټینګوالی او د قطعي دلائلو په رڼاکې د دیني عقایدو پر اثبات قدرت حاصلول.

## د عقایدو ارزښت او هغې ته اړتیا

د عقایدو علم له نورو علومو څخه دی، ځکه د دې علم په واسطه انسان خپل پروردګار پېژني او هغه هدف پېژني چې الله تعالی انسان د هغه لپاره پیداکړی دی. د دې علم په وسیله د انسان عقیده سمېږي او له شک او وهم څخه خوندي پاتې کېږي. همدارنګه د سمې عقیدې له لارې انسان د هغه څه مستحق ګرځي چې الله تعالی یې له مؤمنانو سره وعده کړې ده، لکه: د

---

١ - د ابن منظور تصنیف (لسان العرب) ٣ جلد ٢٩٩ مخ، همدارنګه د زمخشري تالیف (اساس البلاغة) ٢ جلد ١٣١ مخ وګوره.

٢ - د شیخ شلتوت تالیف (الاسلام عقیدة و شریعة) ٢٢ مخ او د محمد حب الله تالیف (الحیاة الوجدانیة و العقیدة الدینیة ٢٠٣ مخ له لږ تغیر سره.

دښمنانو پر وړاندې يې مرسته، دوی ته هدايت او لارښوونه، په ځمکه کې د دوی پياوړي کول او د ځمکې خليفه ګرځول، ښه روزي، عزت او هر ډول نيکمرغي ورکول[١] او په آخرت کې يې له دوی سره د جنت الفردوس وعده کړې چې په هغو کې به تل اوسېږي.[٢]

## د اسلامي عقيدې مصدرونه

اسلامي عقيده د الله تعالی له کتاب او د رسول الله ﷺ له احاديثو څخه اخيستل کيږي، ځکه د عقيدې علم له مغيباتو څخه بحث کوي او د هغو په هکله وګړي د عقل او حواسو په واسطه معلومات او پوهه نشي ترلاسه کولای، يوازې د الله تعالی وجود او د پيغمبر ﷺ رښتينوالی د عقل په واسطه هم پيژندل کيدای شي. نو د دې علم تفاصيل بايد له وحې څخه وپيژندل شي.

**فعاليت:**

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د عقايدو د علم د ارزښت په اړه له يو بل سره بحث وکړي.

**ارزونه:**

١- د عقيدې لغوي معنا څه ده؟

٢- عقيده په اصطلاح کې څه ته وايي؟

٣- د عقيدې د علم موضوع او موخه څه شی دی؟

٤- د اسلامي عقيدې مصدرونه ووایاست.

٥- عقل ته په کومو عقيدوي مسائلو کې د مصدر په توګه رجوع کيږي؟

**کورنۍ دنده:**

د اسلامي عقيدې د غوره والي او ګټو په هکله يوه لنډه مقاله وليکئ.

١ - د ذکرشويو وعدو لپاره لاندیني آيتونه وګورئ:
(د الروم سورت، ٤٧ آيت، د الحج سورت، ٣٨ آيت، د البقرة سورت، ٢٥٧ آيت، د الحج سورت ٥٤ آيت، د النساء سورت ١٤١آيت، د النور سورت ٥٥ آيت، د الاعراف سورت ٩٦ آيت، د المنافقون سورت ٨ آيت، د النحل سورت ٩٧ آيت).

٢ -.د الکهف سورت، ١٠٧ او ١٠٨ آيتونه. او د لقمان سورت، ٨- ٩ آيتونه

# د ایمان بنسټونه (۱)

أَصلُ التوحيدِ، وما يَصِح الإعتقادُ عليه، يَجِب أَن يقولَ آمنتُ باللهِ، وَملائكتهِ، وكُتُبِهِ،

**ژباړه**: د توحید بنسټ او هغه څه چې عقیده پرې صحیح کېږي دا دی چې یو شخص ووایي: ما ایمان راوړی په الله تعالی، د هغه په ملائکو او د هغه په کتابونو ...

## شرح

**د توحید تعریف**: توحید د تفعیل باب دی چې په لغت کې د یو شي په یووالي حکم کولو ته وایي. په اصطلاح کې په دې باور لرل دي چې یوازې الله تعالی د عبادت وړ او د کایناتو خالق، متصرف او مدبر دی او په خپلو اسماوو او صفاتو کې شریک او سیال نه لري.

د عقایدو علم ته د توحید علم هم ویل کېږي، ځکه چې توحید د عقایدو بنسټ ګڼل کېږي، نو په حقیقت کې په مهم جزء سره د کل نومول دي.

## د ایمان د بنسټونو تفصیل

### ۱- پر الله تعالی ایمان راوړل

د ایمان لومړنی رکن په الله تعالی باندې ایمان دی؛ یعنې په زړه تصدیق او پر ژبه باندې په دې اقرار کول دي چې: الله تعالی موجود دی او یوازې الله تعالی د کایناتو پیدا کوونکی، متصرف، مدبر او د نېکو نومونو او لوړو صفاتو خاوند دی.

۱- له هر ډول عیب، ضعف او ناوړه صفاتو څخه پاك دی، شریك او سارى نه لري، هېڅ ته اړ نه دی او نور ټول مخلوقات ده ته اړ دي، له دې امله یوازې او یوازې د عبادت وړ د همده سپېڅلې ذات دی او بس. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ ۝ اللَّهُ الصَّمَدُ ۝ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ۝ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ﴾[الإخلاص: ۱_٤]

ژباړه: ووایه هغه الله دی، یوازې یو، الله هېڅ ته اړ نه دی او ټول هغه ته اړ دي، نه هغه څوك

زېږولي دي او نه هغه زېږول شوی دی او هېڅوک د هغه سيال نه دی.
همدارنګه فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاءُ الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا﴾ [الاعراف:١٨٠]
ژباړه: الله د غوره نومونو خاوند دی، هغه په هماغه غوره نومونو سره وبولئ.

**٢- پر پرښتو ايمان:**

د ايمان دويم بنسټ پر پرښتو باندې باور لرل دي. پرښتې هغه نوراني مخلوقات دي چې خپل ځانونه په مختلفو شکلونو سره جوړولای شي او په نارينه يا ښځينه سره يې توصيف نشي کېدای. دوی هغه عالم دی چې موږ يې ليدلای نشو.

د ملايکو په حقيقت، کيفيت او شمېر باندې يوازې الله تعالی پوهېږي، موږ يې يوازې هغه صفات پېژنو چې په قرآن کريم او احاديثو کې ذکر شوي دي، لکه: دوی د دوو، درېو، څلورو او يا له هغې نه د زياتو وزرونو خاوندانې دي، له آدم عليه السلام څخه مخکې پيدا شوي دي، تل د الله تعالی عبادت کوي، الله تعالی ته نږدې دي، له ګناهونو او خطاګانو څخه پاکې دي، د الله تعالی مکرم او معزز مخلوق دي، له الله تعالی څخه په قول کې نه مخکې کېږي، هغه څه کوي چې الله تعالی يې ورته امر وکړي، د الله تعالی له عبادت څخه نه ستړې کېږي، د الله تعالی پر وړاندې پرته له اجازې د شفاعت اختيار نه لري.

ملايکې د الله تعالی لوڼې نه دي، لکه څرنګه چې د مکې د مشرکينو او د ځينو نورو خلکو دا عقيده وه. چې د اخلاص په سورت کې يې داسې رد راغلی دی، الله له هيچا سره نسبي اړيکې نه لري. بل ځای الله تعالی فرمايي: ﴿أَمِ اتَّخَذَ مِمَّا يَخْلُقُ بَنَاتٍ وَأَصْفَاكُم بِالْبَنِينَ﴾ [الزخرف، ١٦].

ژباړه: آيا له خپل مخلوق نه د ځان لپاره لوڼې غوره کړې او تاسو يې په زامنو سره سرلوړي کړي يئ.

همدارنګه الله تعالی د مکې د مشرکينو د عقيدې د رد په اړه فرمايي: ﴿وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَنِ إِنَاثًا أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ﴾ [الزخرف: ١٩]

ژباړه: دوی ملايکې چې د رحمان ذات خاص بندګان دي، ښځې وګڼلې، آيا دوی د هغو د جسم جوړښت ليدلی دی؟ د دوی شاهدي به وليکل شي او دوی به د هغې په باب وپوښتل شي.

**٣- پر آسماني کتابونو ايمان:**

پر آسماني کتابونو ايمان، په دې باندې کلک يقين ته ويل کېږي چې دا کتابونه د الله تعالی کلام دی، د

ده له لوري وخت په وخت پېغمبرانو ته را نازل شوي او انسانانو ته پکې د نیکمرغۍ او هدایت لارې ښوول شوې دي.

قران کریم له دغو کتابونو څخه ځینې ذکر کړي، لکه: د ابراهیمعليه السلام صحیفې، تورات، انجیل او زبور. موږ اسلام دې ته دعوت کړي یو، پر دغو او نورو هغو کتابونو، چې د الله تعالی له لوري نازل شوي او شمېر یې معلوم نه دی، ایمان ولرو.[1] د دې ټولو کتابونو وروستنی کتاب، قرآن کریم دی. پر ټولو خلکو دا فرض دي چې پر قرآن کریم باندې ایمان راوړي پر احکامو یې عمل وکړي، ځکه قرآن کریم د ټولو مخکینیو کتابونو احکام په لنډ ډول رانغښتي او پخواني کتابونه یې منسوخ کړي دي. په قرآن کریم کې هېڅ ډول تحریف او بدلون نه دی راغلی، خو نور آسماني کتابونه له تحریف او بدلون څخه خوندي نه دي پاتې شوي.

**فعالیت**:

زده کوونکي دې د ایمان د دوو لومړنیو بنسټونو په هکله له یو بل سره بحث او مناقشه وکړي.

**ارزونه**:

١- د ایمان له بنسټونو څخه مطلب څه دی؟

٢- پر الله تعالی ایمان څه ته ویل کېږي؟

٣- ملایکې د کومو صفتونو خاوندانې دي؟

٤- پر قرآن کریم کې د کومو آسماني کتابونو یادونه شوې ده؟

٥- آیا د آسماني کتابونو شمېر په یقیني توګه معلوم دی؟

**کورنۍ دنده**:

د توحید د بنسټونو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې تر لسو کرښو لږه نه وي.

---

١ - د آسماني کتابونو د شمېر په اړه د ملاعلي قاري شرح وګورئ.

# د ايمان بنسټونه (۲)

وَ رُسُلِهِ، وَالبعثِ بَعدَ المَوتِ، والقَدَرِ خَيرِهِ وَشَرِّهِ مِنَ اللهِ تعالى.
وَالحسابُ، وَالميزانُ، وَالجنةُ، وَالنارُ، وَ ذلكَ كُلُّهُ حَقّ.

**ژباړه**: او (ما ايمان راوړی) د الله تعالی پر رسولانو او له مرګ څخه وروسته پر بيا را ژوندي کېدو (د قيامت په ورځ) او ايمان مې راوړی پر دې چې د خير او شر اندازه د الله تعالی له لوري ده.
او باور لرم چې حساب، ميزان، جنت او اور (دوزخ) ټول حق دي.

## شرح

### ۴- پر پېغمبرانو عليهم السلام ايمان

د جمهورو علماوو له نظره رسول هغه چا ته ويل کېږي چې ځانګړی شريعت او کتاب ولري او نبي تر دې عام دی، چې له متن څخه هم داسې ښکاري او امام بن الهمام[1] هم دا خبره غوره ګڼلې چې د نبي او رسول تر منځ توپير نشته. پر هر پيغمبر باندې که نوی کتاب پرې نازل شوی وي او که نه وي، ايمان راوړل فرض دي.

د ټولو پيغمبرانو د دعوت موخه يوه ده او هغه د الله تعالی توحيد او يوازې د هغه عبادت کولو ته بلنه ده. لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴾ [الانبياء، ۲۵]

ژباړه: موږ چې له تانه مخکې هر پېغمبر لېږلی دی، هغه ته موږ همدا وحې کړې ده چې له ما پرته بل څوک د عبادت او بندګۍ وړ نشته، نو تاسې همدا زما بندګي وکړئ. همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾[النحل : ۳۶]

ژباړه: موږ په هر امت کې يو پيغمبر لېږلی او د هغه په وسيله مو ټول خبر کړل چې" د الله بندګي وکړي او د طاغوت له بندګۍ ځان وژغوري.

---

۱- د ابن الهمام نوم محمد د عبدالواحد زوی، د هدايې د شرح (فتح القدير) مؤلف دی.

## ۵- د قیامت پر ورځ ایمان

دا د دنیا له ژوند وروسته په بل ژوند ایمان او باور دی، چې آخرت بلل کیږي. انسانان به د قیامت په ورځ له قبرونو راپورته کیږي، یو ځای کې به را ټولیږي، د قیامت پر ورځ ایمان، د عملنامو ویشل، حساب، میزان، حوض، صراط، شفاعت، جنت، دوزخ او هغه څه، چې الله تعالی په دواړو (جنت او دوزخ) کې پیدا کړي دي، ټول نغاړي. د قیامت پر ورځ ایمان لرل د دین له ضروریاتو څخه دي او انکار ترې کفر دی، ځکه الله تعالی د قرآن کریم په ډېرو آیتونو کې ذکر کړی چې ځیني یې دا دي:

الله تعالی فرمایي: ﴿وَبِالآخِرَةِ هُمْ يُوقِنُونَ﴾ [البقرة ، ٤]

ژباړه: او مؤمنان پر آخرت باور لري.

له قبرونو څخه د بیا را پاڅېدلو په اړه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ثُمَّ إِنَّكُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ تُبْعَثُونَ﴾ [المؤمنون، ١٦].

ژباړه: بیا به د قیامت په ورځ په یقیني ډول تاسې راپاڅول شئ.

## ۶- پر قدر باندې ایمان

پر قدر له ایمان څخه مطلب دا دی چې الله تعالی مخلوقات پیدا کړل نو قدر (اندازې) یې هم ورته ټاکلې دي. ټول هغه ښه او بد چې پیښیږي یا نوي پیدا کیږي، هغه یې په لوح محفوظ کې لیکلي دي.

الله تعالی په دې اړه فرمایي: ﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾ [الفرقان: ٢].

ژباړه: او هر شی یې پیدا کړ، بیا یې د هغه یو برخلیک وټاکه.

په بل ځای کې الله تعالی فرمایي: ﴿إِنَّا كُلَّ شَيْءٍ خَلَقْنَاهُ بِقَدَرٍ﴾[القمر، ٤٩]

ژباړه: موږ ټول شیان په یو تقدیر سره پیدا کړي دي.

پر قدر ایمان فرض دی، په دې معنا که ښه واقع کیږي یا بد، که ګټه وي او یا زیان او هغه څه چې په هغه یې احاطه کړې، له ځای او زمان څخه او هغه څه چې په دې مرتبیږئ چې عبارت دي له عذاب او ثواب څخه، دا ټول د الله تعالی له لوري دي. په دې هم باید پوه شو چې الله تعالی د انسانانو د برخلیک په اړه په لوح محفوظ کې دا هر څه د وصف په ډول لیکلي، یعني داسې چې

انسان به داسې او داسې وکړي، د امر او الزام په ډول يې نه دي ليکلي. [1]

**فعاليت:**

زده کوونکي دې د ښوونکي په مرسته د ايمان دګټو په هکله له يو بل سره بحث او څېړنه وکړي.

**ارزونه:**

۱- د رسول او نبي تر منځ توپير بيان کړئ.

۲- پيغمبران د څه لپاره را ليږل شوي دي؟

۳- د قيامت په ورځ ايمان، پر کومو شيانو له ايمان لرلو څخه عبارت دي؟

٤- په تقدير ايمان لرل د کوم دليل له مخې ضرور دي؟

**کورنۍ دنده:**

په پنځو کرښو کې د قيامت په ورځ د ايمان مطلب وليکئ.

---

۱ - د دې موضوع پوره تفصيل به په ځانګړي لوست کې د قضاء او قدر تر عنوان لاندې وڅېړل شي.

# د الله تعالی توحید

وَاللهُ تعالی وَاحدٌ لا مِن طَريقِ العددِ، وَلكن مِن طريقِ أَنَّهُ لا شريكَ له، لم يلد، ولم يولد، ولم يكن له كفوا أحد.
لا يُشبهُ شيئًا من الأشياءِ من خلقهِ، ولا يُشبههُ شيءٌ من خَلقهِ.

**ژباړه**: الله تعالی یو دی، خو د اعدادو له مخې نه، بلکې په دې معنا چې شریک نه لري، نه له چا څخه زېږېدلی او نه يې څوک زېږولي دي او نه سیال لري.
په مخلوق کې هېڅ ته ورته نه دی او نه ده ته کوم شی ورته دی.

په مخکینۍ لوست کې مو د ایمان بنسټونه ذکر کړل. په دې لوست کې به د لومړي بنسټ (پر الله تعالی ایمان) او د هغه پر توحید بحث وکړو.

## شرح

د عدد له مخې یووالی دې ته ویل کېږي چې دوه، درې، څلور او داسې نور عددونه ورپسې راځي. د عدد له مخې یووالی له دوو څخه مخکېوالی دی، خو الله تعالی د یوازیتوب په معنا یو دی، چې هېڅ شریک او ساری نه لري. الله تعالی یو دی په ذات او صفاتو کې شریک او مثل نه لري، څکه الله تعالی فرمایي: ﴿قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ﴾ [الإخلاص: ١]
ژباړه: ووایه الله یو دی. یعنې د الله تعالی ذات یو دی او په صفاتو کې هم یوازې دی (سیال نه لري).

په دې مبارک آیت کې د مکې د مشرکانو ادعاوې رد شوې ، چې هغوی به ویل: پرښتې د الله تعالی لورګانې دي او د یهودو ادعاوې رد شوې ، چې هغوی به ویل: عزیر د الله تعالی زوی دی، او هم د نصرانیانو ادعاوې رد شوې، چې هغوی به ویل: مسیح (عیسی) عليه السلام د الله تعالی زوی دی.[١]

١ - ملا علي قاري د فقه الاکبر شرحه.

همدارنګه د نورو ټولو هغو فرقو عقیدې ردې شوې چې د الله تعالی له وحدانیت څخه منکرې دي.[1]

﴿الصَّمَدُ﴾ د الله په دې قول سره په ټولو ذکر شویو ډلو او د دوی په څېر د نورو ډلو تشې او غیر علمي ادعاوې رد شوې، ځکه الصمد، بې نیازه او غني ته ویل کېږي، یعنې الله تعالی هغه ذات دی چې ده ته ټول مخلوق اړ دی او دی پخپله هېچا ته اړ نه دی، لکه چې همدغه مطلب په یو بل آیت کې داسې بیانوي: ﴿وَاللَّهُ الْغَنِيُّ وَأَنتُمُ الْفُقَرَاءُ...﴾ [محمد: ۳۸]

ژباړه: الله خو غني دی او تاسې هغه ته اړ یاست....

کله چې الله تعالی غني دی او هېچا ته هم اړ نه دی، نو بیا ولې خپل مخلوق په زوی ولی سره ونیسي، ځکه د زوی نیول خو د اړتیا له مخې کېږي.

د متن په وروستي قول سره (نه الله تعالی له چا سره مشابه دی او نه له مخلوق څخه څوک له ده سره مشابه دي) دلیل تمام او پوره شوی او همدارنګه د الله تعالی د دې قول: ﴿لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ﴾ شرح ده. له بل لوري زوی له پلار سره مشابه کېږي او الله تعالی نه پلار دی او نه زوی، نه پخپله حادث دی او نه محل د حوادثو دی. الله تعالی فرمایي: ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾[الشوری، ۱۱]

ژباړه: دکایناتو هېڅ شی هغه ته ورته نه دی، هغه د هر څه اورېدونکی اولیدونکی دی.

## ارزونه:

۱ـ د الله جَلَّ جَلَالُهُ د یو والي مطلب څه دی؟

۲ـ د دې جملې (الله واحد لا من طریق العدد) وضاحت وکړئ.

۳ـ په دې قول سره (قل هوالله أحد) د کومو خلکو د ادعاوو رد شوی دی؟

۴ـ د (الله الصمد) مطلب بیان کړئ.

## کورنۍ دنده:

د الله جَلَّ جَلَالُهُ د یو والي مطلب په پنځو کرښو کې واضح او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

---

۱ - ابو المنتهي د فقه الأکبر شرحه.

# د الله تعالی صفتونه

لَم يَزَل، وَلا يَزال، بأسمائِهِ وَصفاتِهِ الذَّاتيةِ، والفِعلِيَّةِ.

**ژباړه**: الله تعالی تلپاتې دی او له خپلو ټولو نومونو او خپلو ټولو ذاتي او فعلي صفتونو سره به تلپاتې وي.

## شرح

په دې لوست کې امام رحمه الله دا خبره څرګنده کړې چې الله موجود و او تل به موجوی وي، یعنې الله تعالی د ټولو څیزونو اول او آخر دی. په خپلو ټولو سپېڅلو نومونو او صفتونو له اول څخه نومول شوی او ستایل شوی دی، له نومونو او یا له صفتونو څخه یې کوم نوم او یا صفت ورته نوی نه دی پیدا شوی.[1]

**د الله تعالی نومونه**: الله تعالی د نېکو نومونو څښتن دی، د الله تعالی هر یو نوم د ده په یوه صفت دلالت کوي، د الله تعالی د نومونو په شمېر له ده څخه پرته نور څوک علم نه لري، په یوه حدیث شریف کې د الله تعالی نهه نوي (۹۹) نومونو ته اشاره شوې ده، خو پدې عدد کې منحصر نه دي.

د الله تعالی ځینې نومونه دا دي: واحد، احد، صمد، قیوم، خالق، مصور، رحمن، لطیف، رزاق، واسع، علیم، عزیز، حکیم، حافظ، هادي، محیي، ممیت او داسې نور.

د الله تعالی تر ټولو لوی اوجامع نوم د «الله» لفظ دی، الله د ده ذاتي نوم دی او د نورو ټولو نومونو معناګانوته شامل دی.

الله یعنې د عبادت وړ، د جلال، جمال او کمال د ټولو صفاتو خاوند، د الوهیت او ربوبیت لایق او له هر ډول عیب او نقص څخه پاک دی.

---

۱ - د دې موضوع تفصیل د (الله تعالی صفتونه ازلي دي) تر عنوان لاندې راځي.

موږ باید په خپلو دعاګانو کې د الله تعالی له نومونو څخه د غوره وسیلې په توګه استفاده وکړو او د هغو په واسطه الله تعالی ته دعا وکړو لکه څرنګه چې الله تعالی فرمایي: ﴿وَلِلّهِ الأَسْمَاء الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا﴾ [اعراف: ۱۸۰]

ژباړه: الله د غوره نومونو مستحق دی هغه په هماغه نومونو سره وبلئ.

## د الله تعالی د صفاتو ډولونه

د الله تعالی صفتونه په دوه ډوله دي: ذاتي صفتونه او فعلي صفتونه

۱- **ذاتي صفتونه**: دا هغه صفتونه دي چې پر ضد یې الله تعالی نه موصوفیږي، لکه: حیات، علم او قدرت. الله تعالی پر دې صفتونو باندې موصوف کیږي او ویل کیږي چې الله تعالی ژوندی، پوه او څواکمن دی، خو د دې صفتونو په ضد سره چې مرګ، ناپوهي او ناتواني ده، الله تعالی نه موصوفیږي.

۲- **فعلي صفتونه**: دا هغه صفتونه دي چې پر ضد یې الله تعالی موصوفیږي، لکه: تخلیق (پیداکول) ترزیق (روزي ورکول)، احیاء (ژوندکول) اماتت (مړه کول) او داسې نور، الله تعالی په دې صفتونو او د دې صفتونو په ضد سره هم موصوف کېدلای شي، نو ویل کیږي: الله تعالی فلان څیز پیدا کړ، فلاني ته یې روزي ورکړه او فلاني ته یې ورنه کړه، فلانی یې ژوندی کړ او فلانی یې مړ کړ.

**ارزونه**:

۱- د "لم یزل او لایزال باسمائه و صفاته الذاتیة و الفعلیة" مطلب واضح کړئ.

۲- د الله تعالی صفات څو ډوله دي؟

۳- د ذاتي او فعلي صفتونو تر منځ توپیر واضح کړئ.

**کورنی دنده**:

د الله تعالی د ذاتي او فعلي صفتونو په هکله په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکئ.

# ذاتي او فعلي صفتونه

أما الذاتيةُ: فالحياةُ، والقدرةُ، والعلمُ، والكلام، والسمعُ، والبصرُ، والإرادةُ.
وأما الفعليةُ: فالتخليقُ، والترزيقُ، والإنشاءُ، والإبداعُ، والصنعُ، وغير ذلك من صفات الفعل.
لم يزل ولا يزال بصفاته وأسمائه، لم يحدث له صفة، ولا اسم

**ژباړه**: د الله تعالی ذاتي صفتونه حيات (ژوند)، قدرت (څواک)، علم (پوهه)، کلام (خبرې کول)، سمع (اورېدل)، بصر (ليدل) او اراده دي.

د الله تعالی فعلي صفتونه: تخليق (پيدا کول)، ترزيق (روزي ورکول)، انشاء (پيدا کول)، ابداع (په نوي ډول پيداکول)، صنع (جوړول) او داسې نور فعلي صفتونه دي.

الله تعالی تل په خپلو نومونو نومول شوی او په خپلو صفتونو ستايل شوی او تل به په خپلو نومونو نومول کېږي او په خپلو صفتونو به ستايل کېږي، د الله تعالی لپاره نه نوی نوم پيدا شوی او نه ورته کوم نوی صفت پيدا شوی دی.

## شرح

### د الله تعالی ذاتي صفتونه

**۱- حيات**: دا د الله تعالی ازلي او ابدي صفت دی چې د الله تعالی لپاره د پوره علم غوښتنه کوي. الله تعالی په خپل ازلي او ابدي حيات هميشه ژوندی دی. الله تعالی فرمايي: ﴿اللَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ﴾ [البقرة: ۲۵۵] ژباړه: له الله ، هغه ژوندي ابدي ذات نه پرته چې ټول کائنات يې تنظيم کړي دي، بل هيڅ خدای نشته.

**۲- قدرت**: دا د الله تعالی ازلي صفت دی. الله تعالی په خپل ازلي او ابدي قدرت ستایل شوی، لکه چې فرمايي: ﴿وَاللَّهُ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾ [المائدة : ٤٠]

ژباړه: الله په هر څه قادر دی.

**۳- علم**: دا د الله تعالی له ذاتي صفتونو څخه دی. الله تعالی پر ټولو موجوداتو که هغه په ځمکه کې دي او که په آسمان کې، په خپل ازلي علم عالم دی، الله تعالی په دې اړه فرمايي:

﴿وَعِندَهُ مَفَاتِحُ الْغَيْبِ لاَ يَعْلَمُهَا إِلاَّ هُوَ وَيَعْلَمُ مَا فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ وَمَا تَسْقُطُ مِن وَرَقَةٍ إِلاَّ يَعْلَمُهَا وَلاَ حَبَّةٍ فِي ظُلُمَاتِ الأَرْضِ وَلاَ رَطْبٍ وَلاَ يَابِسٍ إِلاَّ فِي كِتَابٍ مُّبِينٍ﴾ [د الانعام: ٥٩]

ژباړه: له الله سره د غيبو کلیګانې دي چې له هغه نه پرته بل څوک پرې نه پوهېږي، په وچه او لمده کې چې هر څه دي، له ټولو څخه هغه خبر دی. له ونې څخه کومه داسې رالوېدونکې پاڼه نشته چې هغه پرې عالم نه وي. د ځمکې تورو تیارو کې کومه داسې دانه نشته، چې هغه پرې خبر نه وي. هیڅ وچ او لامده نشته مګر ټول په یو روښانه کتاب کې موجود او لیکل شوي دي.

**۴- کلام**: د الله تعالی له ذاتي صفتونو څخه کلام هم دی. الله تعالی په خپل هغه کلام سره چې د ده ازلي صفت دی، متکلم (خبرې کوونکی) دی، الله تعالی فرمايي: ﴿وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾ [د النساء سورت: ١٦٤ آيت]

ژباړه: . الله له موسی عليه السلام سره یقیناً خبرې کړې دي.

**۵-۶- سمع او بصر**: د الله تعالی له ذاتي صفتونو څخه سمع او بصر دي. الله تعالی سميع (اورېدونکی) او بصير (لیدونکی) دی. د ده له اورېدلو او لیدلو څخه هېڅ شی، که هر څومره پټ یا وړوکی هم وي، نه پټېږي.

**۷- اراده**: د الله تعالی له ذاتي صفتونو څخه یوه هم اراده ده. اراده هغه صفت دی چې دهغه په اساس الله تعالی په ټاکلي وخت کې، کوم کار ته اقدام وکړي یا یې پرېږدي، الله تعالی خپل کارونه په ارادې سره کوي، هېڅ شی د الله تعالی له ارادې پرته نشي کېدلای. هېڅ څوک د الله تعالی د ارادې مخنیوی نشي کولای. الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَحْكُمُ مَا يُرِيدُ﴾ [المائدة، ١].

ژباړه: بېشکه الله چې څه غواړي، هماغسې حکم کوي.

الله تعالی له ذکر شویو ذاتي صفتونو څخه پرته نور ذاتي صفتونه هم لري، لکه: احديت

(یووالی)، صمدیت (بې نیازتوب)، عظمت او کبریایي (لویوالی) او داسې نور.[1]

## د الله تعالی فعلي صفتونه

د الله تعالی ځینې فعلي صفتونه په دې ډول دي:

۱- **تخلیق**: د شیانو پیدا کول،

۲- **ترزیق**: ټولو مخلوقاتو ته روزي ورکول،

۳- **انشاء**: یو څیز د اول ځل لپاره پیدا کول،

۴- **ابداع**: د شیانو پیدا کول پرته له مخکیني مثال څخه، (نوښت)

۵- **صنع**: جوړول، خو په دې کې بیا استحکام او د نظام ډول په پام کې نیول شوی وي. الله تعالی فرمايي: ﴿صُنْعَ اللَّهِ الَّذِي أَتْقَنَ كُلَّ شَيْءٍ إِنَّهُ خَبِيرٌ بِمَا تَفْعَلُونَ﴾ [النمل ، ۸۸]

ژباړه: وګورئ د الله صنع (جوړښت) چې هر شی يې محکم کړی دی. هغه ستاسو پر کړو ښه خبر دی.

همدارنګه د الله تعالی داسې نور فعلي صفتونه لکه احیاء (ژوندي کول) افناء (مړه کول) او داسې نور هم شته.

## ارزونه

۱- د الله جل جلاله د ذاتي صفتونو مثالونه بیان کړئ.

۲- دالله جل جلاله د فعلی صفتونو لپاره مثالونه بیان کړئ.

۳- د الله تعالی د علم په هکله له قرآن کریم څخه دلیل راوړئ.

٤- د (لم یحدث له صفة ولا اسم) جملې مطلب څه دی؟

## کورنی دنده

د الله تعالی د ذاتي او فعلي صفتونو په اړه یوه لنډه مقاله ولیکئ.

۱. د ملاعلي قاري د فقه اکبر شرح او داسې نور وګورئ.

## د الله تعالی صفات ازلي دي

لَم يَزَل عالِمًا بعلمِهِ، وَالعِلمُ صفةٌ له في الأزلِ، وقادراً بقدرتِهِ، والقدرةُ صفةٌ لَهُ فی الأزلِ، ومتكلما بكلامِهِ، والكلامُ صفةٌ له في الأزلِ، وخالقاً بتخليقِهِ، والتخليقُ صفةٌ له فی الأزلِ وفاعلا بفعله، والفعلُ صفةٌ له في الأزلِ.

والفاعلُ هو اللهُ تعالی، و الفعلُ صفة له في الأزلِ.

والمفعولُ مخلوقٌ، وفعلُ اللهِ تعالی غيرُ مخلوقٍ.

وصفاتُهُ في الأزلِ غيرُ محدثةٍ، ولا مخلوقةٍ، وَمَن قَالَ إنها مَخلوقةٍ، أو مُحدَثَةٌ أو وَقَفَ أو شَكَّ فِيهَا فَهُوَ كافرٌ باللهِ تعالی.

**ژباړه**: الله تعالی تل په خپل علم سره عالم و. علم د ده لپاره ازلي صفت دی. او قادر دی په خپل قدرت سره او قدرت د ده لپاره ازلي صفت دی. او متکلم دی په خپل کلام سره او کلام د ده ازلي صفت دی. او خالق دی په خپل تخلیق (پیداکولو سره) او تخلیق د ده ازلي صفت دی. الله تعالی فاعل دی په خپل فعل سره او فعل د ده ازلي صفت دی. فاعل الله تعالی دی او فعل يې ازلي صفت دی.

مفعول مخلوق دی او د الله تعالی فعل مخلوق نه دی.

همدارنګه د الله تعالی صفتونه په ازل کې نه حادث دي او نه مخلوق. څوک چې وايي، د الله تعالی صفتونه مخلوق يا نوي پيدا شوي يا توقف او يا شک پکې وکړي، دا شخص پر الله تعالی کافر دی.

### شرح

کله چې امام اعظم رحمه الله د الله تعالی د نومونو او صفتونو د دواړو ډولونو (ذاتي او فعلي) لپاره مثالونه بيان کړل، نو په دې لوست کې دا په ډاګه کوي چې الله تعالی په دې صفتونو باندې په ازل کې موصوف و او تل به په دې صفتونو باندې موصوف وي، نو وېي ويل:

(لم يزل و لايزال...) يعنې الله تعالی تل د کمال په ټولو صفتونو موصوف و، نه نوی نوم ورته پيدا شوی او نه صفت، بلکې د الله تعالی ټول صفتونه ازلي دي، اول نه لري او ابدي دي، انتهاء

(پای) نه لري.

امام رحمه الله د دې موضوع د ښه وضاحت لپاره د الله تعالی ډېر مشهور صفتونه د مثال په ډول بیان کړي او فرمايي:

علم: الله تعالی په خپل هغه ازلي علم سره، چې د ده ازلي صفت دی عالم و. د الله تعالی علم ازلي او ابدي دی نه زيادت قبلوي او نه نقصان.

الله تعالی په خپل هغه قدرت سره چې د ده ازلي صفت دی، قادر دی، نو قدرت د الله تعالی ازلي او ابدي صفت دی.

الله تعالی په خپل هغه ذاتي کلام سره چې د ده ازلي صفت دی، متکلم او خبرې کوونکی دی، نو کلام د ده ازلي صفت دی، همدارنګه الله تعالی په ازل کې خالق و، نو تخليق د ده ازلي صفت دی.

همدارنګه الله تعالی فاعل دی او په خپل هغه فعل سره چې د ده ازلي صفت دی، فعل کوي، نو فاعل الله تعالی دی، له ده سره په فعل، صنع، حکم او امر کې هېڅوک شريک نه دی.

همدارنګه الله تعالی ته د مخلوق له پيدا کولو وروسته د خالق او باري نومونه نه دي پيدا شوي.

که څوک ووايي چې د الله تعالی صفتونه مخلوق دي او يا په دې کې توقف او يا شک وکړي نو دا شخص پر الله تعالی او د ده په صفاتو کافر دی.

**ارزونه:**

۱ـ د الله تعالی صفات ازلي دي که حادث؟

۲ـ که څوک د الله جل جلاله د صفاتو په ازليت کې توقف او يا شک وکړي، څه حکم لري؟

۳ـ په دې لوست کې د صفاتو د ازليت څو مثالونه ذکر شوي دي؟ بيان يې کړئ.

**کورنۍ دنده:**

د لوست لنډ مطلب په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# قرآن کریم د الله تعالی کلام دی

والقرآنُ كلامُ اللهِ تعالى، في المصاحفِ مكتوبٌ، وفي القلوبِ، محفوظٌ، وعلى الألسنِ مقروءٌ، وعلى النَّبيِّ عليه الصلاة والسلام مُنَزَّلٌ.

ولفظنا بالقرآنِ مخلوقٌ، وكتابتُنَا له مخلوقةٌ، وقراءتُنَا له مخلوقةٌ، والقرآنُ غيرُ مخلوقٍ.

وما ذكره الله تعالى في القرآنِ حكايةً عن موسى، وغيرِهِ من الأنبياءِ عليهم السلام، وعن فرعونَ، وإبليسَ فَإِنَّ ذلكَ كله كلامُ الله تعالى إخباراً عنهم، وكلامُ الله تعالى غيرُ مخلوقٍ، وكلامُ موسى، وغيرِهِ من المخلوقين مخلوقٌ.

والقرآنُ كلامُ الله تعالى فهو قديمٌ لا كلامِهِم، وَسَمِعَ موسىعليه السلام كلامَ الله تعالى كما في قوله تعالى "وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا".

وقَد كانَ اللهُ تعالى متكلماً، ولَم يَكُن كَلَّمَ موسى عليه السلام، وقد كان الله تعالى خالقا في الأزلِ، ولم يَخلُق الخَلقَ.

ليس كمثلِهِ شيءٌ، وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِير، فلما كَلَّمَ اللهُ موسى، كَلَّمَهُ بِكَلامه الذي هو له صفةٌ في الأزلِ.

**ژباړه**: قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، په مصاحفو کې لیکل شوی، په زړونو کې محفوظ دی، په ژبو لوستل شوی او پر نبي کریمﷺ باندې نازل شوی دی.

زموږ تلفظ په قرآن کریم باندې مخلوق دی او زموږ لیکل مخلوق دي، خو قرآن کریم غیر مخلوق دی.

او هغه چې په قرآن کریم کې الله تعالی له موسیعليه السلام ، نورو انبیاوو علیهم السلام یا له فرعون او ابلیس څخه حکایت کړی، دا ټول د الله تعالی کلام دی چې له دوی څخه حکایت کوي او

غیر مخلوق دی، خو د موسی عليه السلام او نور مخلوق خبرې مخلوق دي.

او قرآن د الله تعالی کلام دی، قدیم دی، خو د مخلوقاتو کلام قدیم نه دی. موسی عليه السلام د الله تعالی کلام اورېدلی. لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾ [النساء: ۱۶۴]

ژباړه: الله له موسی عليه السلام سره يقيني او له واسطې پرته خبرې کړې دي.

الله تعالی مخکې له دې چې له موسی عليه السلام سره خبرې وکړي، متکلم و او الله تعالی مخکې له دې چې مخلوق پیدا کړي، په ازل کې خالق و.

د کايناتو هېڅ شی هغه ته ورته نه دي، هغه د هر څه اورېدونکی او لیدونکی دی. کله چې الله تعالی له موسی عليه السلام سره خبرې وکړې، په هغه کلام يې ورسره خبرې وکړې چې دده ازلي صفت دی.

## شرح

**د قرآن کريم تعريف**: قرآن د فُعْلَان په وزن د قرأ مصدر چې په معنا د مقروء راغلی دی.

او په اصطلاح کې: قرآن کريم د الله تعالی کلام دی، چې د جبرئيل عليه السلام په واسطه يې په نبی کريم صلى الله عليه وسلم د بشريت د لارښوونې لپاره نازل کړی، په صحيفو کې ليکل شوی او موږ ته په تواتر سره له شک او شبهې پرته رانقل شوی او تلاوت يې عبادت دی، په سورت الفاتحه پيل شوی او په سورت الناس پای ته رسېدلی دی.

موږ په دې باور لرو چې قرآن کريم د الله تعالی کلام دی، پرته له کيفيته قولاً له ده څخه پيل شوی او د وحې په واسطه يې پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل کړی دی. په يقيني ډول يې مؤمنانو تصديق کړی او موږ ته په تواتر[1] رارسېدلی دی. د خلکو د کلام په څېر مخلوق نه دی، که څوک ووايي چې: دا د بشر کلام دی، کافر کيږي.

قرآن کريم مخلوق نه دی. پر قرآن کريم باندې زموږ تلفظ، تلاوت او ليکل ټول زموږ افعال دي. موږ او زموږ ټول افعال مخلوق دي، لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا

---

۱ - متواتر هغه روايت ته ويل کيږي چې د راويانو شمېر يې دومره وي چې په دروغو سره يې اتفاق ممکن نه وي.

تَعْمَلُونَ﴾ [الصافات، ۹٦]

ژباړه: په داسې حال کې چې الله تاسې هم پیدا کړي یئ او هغه اعمال هم چې تاسې یې کوئ،
خو قرآن کریم چې د الله تعالی کلام دی، غیر مخلوق دی.

**فعالیت**:

زده کونکي دې په دې اړه بحث وکړي. د الله تعالی او مخلوق د صفاتو تر منځ هېڅ ډول مشابهت نشته. ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ البَصِيرُ﴾ [الشورى،۱۱]

ژباړه: د کائناتو هېڅ شی د هغه په څېر نشته (هغه ته ورته نه دی) هغه د هر څه اورېدونکی او لیدونکی دی.

**ارزونه**:

۱- قران کریم تعریف کړئ.

۲- قرآن کریم، چې د الله تعالی کلام دی، قدیم(ازلي) دی که حادث؟

۳- په قرآن کریم زموږ تلفظ، کتابت، لوستل مخلوق دی که غیر مخلوق؟

**کورنی دنده**:

د قرآن کریم په هکله یوه پنځه کرښیزه مقاله ولیکئ.

# د الله تعالی صفتونه مثل نه لري(۱)

وصفاتُه كُلُّها بخلافِ صفاتِ المخلوقين.
يَعلَمُ لا كَعِلمِنَا، وَيَقدِرُ لا كَقُدرَتِنَا، ويرى لا كرؤيتنا، ويتكلمُ لا كَكَلامِنَا، وَيَسمَعُ لا كَسَمعِنَا، وَنحنُ نَتَكَلَّمُ بالآلاتِ، والحروفِ، و اللهُ تعالى يَتَكَلَّمُ بِلا آلةٍ ولا حروفٍ.
والحروفُ مخلوقةٌ، وكلام الله تعالى غير مخلوقٍ.
وهو شيءٌ لا كالأشياءِ، ومعنى الشيءِ إثباتُه بلا جسمٍ، ولا جوهرٍ، ولا عرضٍ

**ژباړه**: د الله تعالی صفتونه ټول د مخلوق له صفتونو سره مخالف دي.

الله تعالی پوهېږي، خو زموږ د علم په څېر نه، الله تعالی په هر څه قادر دی، خو زموږ د قدرت په څېر نه، الله تعالی ويني، خو زموږ د ليدلو په څېر نه، الله تعالی خبرې کوي، خو زموږ د خبرو په څېر نه، الله تعالی اوري، خو زموږ د اورېدلو په څېر نه. موږ د آلاتو او حروفو په واسطه خبرې کوو، خو الله تعالی له آلاتو او حروفو پرته خبرې کوي.

توري (حروف) مخلوق دي او د الله تعالی کلام غير مخلوق دی.

الله تعالی شی دی، خو د نورو شيانو په څېر نه. الله تعالی شی دی معنا يې داده: چې د الله تعالی ذات ثابت دی، خو جسم نه لري، جوهر او عرض هم نه دی.

## شرح

د الله تعالی صفتونه د مخلوق له صفتونو سره مشابه نه دي، لکه چې ذات یې د مخلوق له ذات سره مشابه نه دی. د الله تعالی په مثل هېڅ شی نشته، نه په ذات، نه په صفتونو او نه په افعالو کې. د الله تعالی پر ځانګړو صفتونو هېڅ یو مخلوق موصوف کېدای نشي. الله تعالی فرمايي:

﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ﴾

الله تعالی علم لري، خو زموږ د علم په څېر نه، ځکه موږ د آلاتو او اسبابو په مرسته د خپل فهم په اندازه پوهېږو، خو الله تعالی د ټولو شیانو په حقیقتونو په خپل ذاتي او ابدي علم سره پرته له اسبابو پوهېږي.

**یادونه:**

ابو عمرو بن العلاء[1] ته ځینو معتزله وو[2] وویل: غواړو چې لفظ د الله په دې آیت کې: ﴿وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَى تَكْلِيمًا﴾ [النساء: ١٦٤].

په نصب سره تلاوت شي، څو متکلم موسی شي نه الله تعالی، نو ابو عمرو بن العلاء ورته وویل: زه به دا آیت همداسې تلاوت کړم، خو تاسې به د الله تعالی له دې قول سره څه کوئ؟ ﴿وَلَمَّا جَاءَ مُوسَى لِمِيقَاتِنَا وَكَلَّمَهُ رَبُّهُ﴾ [الاعراف، ١٤٣].

په دې آیت کې د کلام فاعل «رب» دی.

د دې خبرې په اورېدو سره معتزلي حیران شو.[3]

---

١- ابو العلاء بن عمار التمیمي البصري، د عربي ژبې او ادبیاتو له لویو استاذانو شیخ او د قرآن کریم د اوو وتلو قاریانو له ډلې دی، په ١٥٤ هجري کال وفات شو. په دې اړه سیر أعلام النبلاء نومې کتاب وګورئ: ٦/٤٠٧ – ٤١٠.

٢ - معتزله د مسلمانانو یوه فرقه ده چې متاسفانه د الله تعالی د صفاتو په هکله منحرف شوي دي او قرآن کریم مخلوق ګڼي، د دې فرقې مؤسس واصل (٨٠-١٣١ هـ ق) و او نور مشهور شخصیتونه یې: ابو الهزیل علاف (ت: ٣٣٥) او ابراهیم نظام (ت: ٢٣١) دي.

٣- د ابن ابي العز د عقیدة الطحاوي شرح وګورئ: ١/١٧٧.

**ارزونه:**

١- د فقه اكبر د دې جملې (و صفاته بخلاف صفات المخلوقين) مطلب څه دی؟

٢- آيا كلام د الله تعالى له صفاتو څخه دی؟

٣- آيا الله تعالى ته شی ويلای شو؟ واضح يې كړئ.

**كورنۍ دنده:**

د ابو عمرو بن العلاء او معتزلي قصه د آيتونو له ژباړې سره په خپلو كتابچو كې وليكئ.

# د الله تعالی صفتونه مثل نه لري (۲)

ولا حَدَّ لَهُ، ولا ضِدَّ لَهُ، وَلا نِدَّ لَهُ، وُلا مِثل لَهُ.
وَلَهُ يَدٌ، و وَجهٌ، ونفسٌ، كما ذكره الله تعالى في القرآنِ فما ذكرهُ اللهُ تعالى في القرآنِ من ذكرِ الوجهِ، واليدِ، والنفسِ، فهو له صفات بلا كيفٍ.
ولا يقال إنَّ يَدَهُ قدرتُه، او نعمتُهُ لأنَّ فيه إِبطالَ الصفةِ وهو قولُ أهلِ القَدَرِ، والاعتزالِ ولكنَّ يَدَهُ صفتُهُ بلا كيفٍ.
وغضبُهُ، ورضاهُ صفتان من صفات الله تعالى بلا كيفٍ

**ژباړه**: الله تعالی حد، ضد، سیال او مثل نه لري.
الله تعالی د ید (لاس)، مخ او نفس خاوند دی لکه چي الله تعالی په قران کریم کی ذکرکړي دي. او هغه څه چي الله تعالی په قران کریم کي ذکرکړي لکه مخ، ید او نفس دا ټول د الله تعالی بلاکیفه صفتونه دي.
له ید څخه يي په قدرت یا نعمت سره تعبیر نشي کیدای، ځکه په دې کي یوصفت له منځه ځي، چي دا د قدریه وو او معتزله وو مذهب دی، بلکي ید يي بلاکیفه صفت دی.
او غضب او رضا دواړه د الله تعالی بلاکیفه صفتونه دي.

## د صفاتو په هکله د اهل سنتو عقیده

اهل سنت او جماعت ټول هغه صفتونه چي الله تعالی په قرآن کریم کي ځانته ثابت کړي او یا ورته رسول اکرم ﷺ ثابت کړي دي پرته له کیفیت او تأویل څخه مني.
د ید په اړه الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ الَّذِينَ يُبَايِعُونَكَ إِنَّمَا يُبَايِعُونَ اللَّهَ يَدُ اللَّهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ﴾
[الفتح: ۱۰]

ژباړه: ای پيغمبره! کومو کسانو چي له تاسره بیعت وکړ، هغوی په اصل کي له الله سره بیعت

وکړ، د هغوی د لاسونو له پاسه د الله تعالی ید دی.

الله تعالی د وجه (مخ) په اړه فرمايي: ﴿فَأَيْنَمَا تُوَلُّواْ فَثَمَّ وَجْهُ اللّهِ إِنَّ اللّهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾[البقرة: ۱۱۵]

ژباړه: هر لوري ته چې تاسې مخ واړوئ ، هماغه لوري ته د الله مخ دی، الله د ډېرې پراختيا خاوند او په هر څه پوهېدونکی دی.

د نفس په اړه الله تعالی له عيسی عليه السلام څخه حکايت کوي او فرمايي:﴿تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلاَ أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ إِنَّكَ أَنتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ﴾ [المائدة: ۱۱٦]

ژباړه: ته پوهېږې پر هغه څه چې زما په نفس کې دي او زه پر هغه څه نه پوهېږم چې ستا په نفس کې دي، په يقين چې ته پر ټولو پټو حقايقو عالم يې.

دا ټول صفتونه د الله تعالی بلاکيفه صفتونه دي، تاويل يکې نه کېږي، نو له (يد) څخه قدرت يا نعمت، له (وجه) څخه ذات مراد نه دی، ځکه چې په تاويل کې يې يو صفت له منځه ځي.

**غضب او رضا د الله تعالی دوه (بلاکيف) صفتونه دي**: د دې دواړو صفتونو کيفيت يوازې الله تعالی ته معلوم دی او تأويل هم پکې نه کوو، چې له رضا څخه د انعام اراده واخلو او له غضب څخه يې د انتقام اراده مراد کړو، بلکې دا دواړه صفتونه الله تعالی ته ثابتوو او ځرنګوالی يې نه بيانوو.[۱]

## ارزونه:

۱- دا چې وايي الله تعالی حد، ضد او مثل نه لري، د دې موضوع مطلب څه دی؟

۲- آيا له (يد) څخه په قدرت سره تعبير سم دی؟ واضح يې کړئ.

۳- آيا غضب او رضا د الله تعالی صفتونه دي؟

## کورنۍ دنده:

يد، وجه او نفس د الله تعالی صفتونه دي. په دې اړه يوه مقاله وليکئ چې له پنځو کرښو کمه نه وي.

۱ - د ابن ابي العز الحنفي د عقيدة الطحاوي شرح او د ملاعلي قاري د فقه اکبر شرح.

# قضا او قدر حق دي

خَلَقَ اللهُ تعالى الأشياءَ لا من شيءٍ.
وكانَ اللهُ تعالى عالمًا في الأزلِ بالأشياءِ قَبل كونِهَا، وهو الذي قَدَّرَ الأشياءَ وَقضَاهَا ولا يكونُ في الدنيا، ولا في الآخرة شيءٌ إلا بمشيئته، وعلمه، وقضائه، وقدره، وكتبه في اللوح المحفوظِ، ولكن كَتَبَهُ بالوصفِ لا بالحكم.
والقضاءَ، والقَدَرُ، والمَشِيئَةُ صفاتُهُ في الأزلِ بلا كيف.
يعلم الله تعالى في المعدوم في حالِ عَدَمِهِ معدوماً، ويَعلَمُ أنه كيف يكون إذا أَوجَدَهُ، ويعلم اللهُ الموجودَ في حالِ وجودِهِ، ويعلم أنه كَيفَ فناؤُهُ.
وَيعلَمُ اللهُ القَائِمَ في حالِ قيامِهِ قائماً، وإذا قَعَدَ فقد عَلِمَهُ قَاعِداً في حالِ قُعُودِهِ من غيرِ أن يتغيَّر عِلمُهُ، أو يَحدُثَ لَهُ علمٌ، ولكنَّ التَّغَيُّرَ، والاختلافَ يَحدَثُ عِندَ المَخلُوقِينَ

**ژباړه**: الله تعالى ټول شیان پیداکړل، خو دا شیان یې له بل شي څخه نه دي پیداکړي.

الله تعالى په ټولو شیانو (له پیداکولو څخه دمخه) په ازل کې عالم و. الله تعالى هغه ذات دی چې ټول شیان یې په یوه ټاکلې اندازه پیداکړي او نېټه یې ورته ټاکلې ده. په دنیا او آخرت کې هیڅ شی د ده له ارادې، علم، قضا او په لوح محفوظ کې له لیکلو پرته منځته نشي راتلای، خو دا ټول شیان الله تعالى د حکم په ډول نه، بلکې د وصف په بڼه لیکلي دي.
قضا، قدر او مشیت د الله تعالى بلاکیف ازلي صفتونه دي. الله تعالى پر معدوم باندې د عدم په حال کې علم لري او په دې هم پوهیږي چې دا به له پیدا کېدو وروسته څنګه وي. په موجود باندې د وجود په حال کې علم لري او په دې هم علم لري چې دا به څنګه له منځه ځي.

په ولاړ شخص باندې د ولاړو په حال کې علم لري، خو کله چې کېني، نو د کېناستلو په حال کې هم علم ورباندې لري، پرته له دې چې د ده علم تغیر وکړي او یا ورته نوی علم پیدا شي، بلکې تغیر او اختلاف مخلوق ته پیدا کېږي.

## شرح

**د قضاء او قدر معنا**: د څیزونو په رامنځته کېدو او د مخلوقاتو پر پیدایښت الهي فیصله قضا ده. اما د هغو منځته راتلل او پیدایښت یې په ټاکلې زمانه، ټاکلې اندازه او ټاکلې کیفیت سره قدر دی. په دې هکله الله تعالی فرمایي: ﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾ [د الفرقان سورت: ۲ آیت]

ژباړه: الله تعالی هر شی پېدا کړ، بیایې د هغه یو برخلیك او اندازه وټاکله.

**د مشیت معنی**: مشیت د ارادې په معنی دی، په قرآن کریم کې اراده په دوه ډوله راغلې ده:

۱- کَوني اراده. ۲- شرعي اراده.

شرعي اراده له محبت او رضا سره متضمنه ده خو کَوني اراده چې کله په مشیت ورڅخه تعبیر کېږي عامه ده، ټولو مخلوقاتو ته شامله ده او له محبت او رضا سره متضمنه نه ده.

## پر قضاء او قدر باندې ایمان:

پر قضاء او قدر باندې ایمان لرل د ایمان له اصولو څخه یو اصل دی، لکه څرنګه چې رسول کریم ﷺ په خپل یوه حدیث کې داسې بیان کړې دي: ﴿وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ﴾[1]

ژباړه: او دا چې ته ایمان ولرې په دې چې د خیر او شر اندازه دواړه د الله تعالی له لوري ده.

په قضاء او قدر باندې د ایمان درلودلو هدف دا دی، چې انسان باید ټینګ یقین او باور ولري هر هغه څه چې واقع کېږي، که خیر دی او که شر، ګټه ده او که زیان ټول د الله تعالی په قضا او قدر سره دي. الله تعالی فرمایي: ﴿مَا أَصَابَ مِن مُّصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِّن قَبْلِ أَن نَّبْرَأَهَا إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ ۞ لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ﴾[الحدید، ۲۲ – ۲۳]

ژباړه: نه دی رسېدلی هېڅ مصیبت په ځمکه کې یا ستاسې نفسونو ته، خو مخکې له هغې

---

۱ - صحیح مسلم - (۱ / ۲۸)

چې مونږ یې پیدا کړو په کتاب کې لیکل شوی دی، بېشکه دا کار الله ته ډېر آسان دی، (دا هر څه د دې لپاره دي) ترڅو تاسې پر هغه باندې چې د لاسه مو ووتل، خپه (زړه ماتي) نشئ او چې الله تاسې ته درکړل، پر هغه ونه غولېږئ، الله هر یو تکبر کوونکی (ځان لوی ګڼونکی) او فخر کوونکی (ځان ستایونکی) نه خوښوي.

د الله تعالی د قدر د صفت د اثبات او ایمان لپاره باید لاندې ټکي وپېژندل شي چې امام رحمه الله په دغه لوست کې ذکر کړي دي:

۱ـ الله تعالی ټول مخلوق پیدا کړي، خو له بل څه یې نه دي پیدا کړي. په دې معنا، تر دغه مخلوق مخکې داسې ماده نه وه، چې له هغې څخه یې پیدا کړل. الله تعالی په دې اړه فرمایي: ﴿بَدِيعُ السَّمَاوَاتِ وَالأَرْضِ وَإِذَا قَضَى أَمْراً فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ﴾ [البقرة: ۱۱۷].

ژباړه: هغه (الله تعالی) نوی (بې له مخکینۍ بېلګې) د آسمانونو او ځمکې پیداکوونکی دی او هر کله چې د یوه کار پرېکړه او اراده وکړي، نو بېشکه هم دغه خبره ده چې کله هغه کوم کار ته وایي، وشه! نو هغه کیږي، یعنې الله تعالی دا مخلوق په داسې ډول پیدا کړی چې مخکې یې ساری نه درلود.

۲ـ الله تعالی په ازل کې پر ټولو شیانو پوه و، الله تعالی فرمایي: ﴿وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا﴾ [الاحزاب ، ٤٠].

ژباړه: او الله پر هر څه عالم دی.

۳ـ الله تعالی ټول شیان له خپلې ارادې سره سم مقدر کړي او په مخلوق کې یې له خپل حکمت سره سم حکم کړی دی او په حقیقت یې پوه دی. الله تعالی فرمایي: ﴿أَلَا يَعْلَمُ مَنْ خَلَقَ وَهُوَ اللَّطِيفُ الْخَبِيرُ﴾ [الملك:۱٤]

ژباړه: خبردار! الله ښه پوهېږي په هغه څه چې پیداکړي یې دي، په داسې حال کې چې هغه باریک بین او باخبر دی.

٤ـ په دنیا او آخرت دواړو کې هېڅ شی د الله تعالی له ارادې، علم، قضاء او قدر څخه پرته نشي پیدا کېدای: الله تعالی فرمایي: ﴿وَمَا تَشَاؤُونَ إِلَّا أَن يَشَاء اللَّهُ إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا﴾ [ الدهر ،۳۰]

ژباړه: او ستاسي په خوښي سره څه نه کېږي، ترڅو چې د الله خوښه نه وي. بېشکه الله پوه او د حکمت خاوند دی.

٥ـ الله تعالی دا ټول شیان په لوح محفوظ کې لیکلي دي، خو د وصف په توګه یې لیکلي، نه د حکم په توګه، یعني داسي یې نه دي لیکلي چې فلانی باید داسې او هغسې وکړي. بلکې لیکلي یې دي چې فلانی به داسې او هغسې وکړي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَكُلُّ صَغِيرٍ وَكَبِيرٍ مُسْتَطَرٌ﴾ [القمر، ٥٣]

ژباړه: او هره وړه غټه خبره لیکل شوې ده.

٦ـ قضاء، قدر او مشیت د الله تعالی بلاکیف صفتونه دي. دا درې واړه صفتونه د الله تعالی صفتونه دي چې په قرآن کریم، سنتو او د امت په اجماع ثابت شوي ، خو څرنګوالی یې له الله تعالی پرته بل چا ته معلوم نه دی.

٧ـ الله تعالی پر معدوم باندې د عدم په حال کې هم علم لري. د الله تعالی علم کامل، ثابت او تغیر نه منونکی دی، ځکه د الله تعالی صفتونه د مخلوق د صفتونو په څېر نه دي. د الله تعالی علم د الله تعالی ازلي صفت دی، نو پر هر څه باندې په خپل ازلي علم سره پوهېږي او د معلوماتو په تغیر سره د الله تعالی علم تغیر نه مومي.



**ارزونه:**

١ـ د قضا او قدر معنی او د اثبات دلیل یې ووایئ.

٢ـ د قضا او قدر په مسئله کې امام رحمه الله کومو مهمو ټکو ته اشاره کړې ده؟

٣ـ د قضا او قدر د اثبات دلیل ذکرکړئ.



**کورنی دنده:**

د قضاء او قدر په اړه يوه لنډه مقاله ولیکئ.

# ايماني فطرت او د الله تعالى پېژندنه

خلق اللهُ تعالى الخلق سليما من الكفر والإيمان.
ثم خاطبهم، وأمرهم، ونهاهم، فَكَفَرَ مَن كَفَرَ بِفعلِه، وَإنكارِه، وَجُحُودِهِ الحقَّ بخُذلانِ اللهِ تعالى إياهُ.
وَآمَنَ مَن آمَنَ بِفعلِه، وَإقرارِه، وَتَصدِيقِهِ بتَوفِيقِ اللهِ تعالى إياهُ، ونصرته لهُ.
أَخرجَ ذُرِّيَةَ آدمَ مِن صُلبهِ فَجعَلَهُم عُقلاء فَخاطَبَهُم، وَأَمَرَهُم بالإيمانِ، وَنَهَاهُم عَنِ الكُفرِ، فَأَقَرُّوا لَهُ بالرُّبوبية، فكان ذلك منهم إيمانا، فَهُم يُولَدُونَ عَلى تِلكَ الفطرةِ، وَمَن كَفَرَ بَعدَ ذلِكَ فقَد بَدَّلَ وَ غيَّرَ، وَمَن آمَنَ وَصدَّقَ فَقد ثَبَتَ عَلَيهِ وَدَاوَمَ.
وَلَم يُجبر أَحداً مِن خَلقِهِ على الكُفرِ، وَلا عَلَى الإيمانِ، وَلا خلقه مُؤمِناً ولا كَافِراً، ولكن خَلَقَهُم أَشخَاصاً.
وَالإيمانُ والكفرُ فِعلُ العِبادِ، وَيعلَمُ اللهُ تعالى مَن يَكفُرَ في حالِ كُفرهِ كَافِراً، فإذا آمن بعد ذلك عَلِمَهُ مُؤمِناً في حالِ إيمانِه، وَأَحبَّهُ مِن غَيرِ أن يَّتَغَيَّرَ عِلمُهُ، وَصِفَتُهُ.

**ژباړه**: الله تعالى مخلوق له كفر او ايمان څخه خالي پيدا كړل.
او بيا يې ورته په ايمان باندې امر وكړ او له كفر څخه يې منع كړل، نو څوك چې كافر كېږي، هغه په خپل فعل او د الله تعالى په خذلان سره (له حق څخه په انكار كولو) كافر كېږي.
او څوك چې ايمان راوړي، هغه هم په خپل فعل سره او د الله تعالى له لوري په توفيق او مرستې سره اقرار او تصديق كوي او ايمان راوړي.
د آدم عليه السلام له ملا څخه يې دده اولاده پيدا كړه، بيا يې عقل وركړ، مخاطب يې وګرځول، په ايمان يې ورته امر وكړ او له كفر څخه يې منع كړل، نو دوى ټولو الله تعالى ته په ربوبيت اقرار وكړ. دا د دوى ايمان وګڼل شو. كله چې اوس پيدا كېږي، په همدغه فطري ايمان سره دنيا ته راځي. خو كه څوك بيا كافر كېږي هغه خپل دغه اقرار بدل كړ. څوك چې ايمان راوړي، هغه په خپل

اقرار وفا وکړه.

هېڅوک الله تعالی پر ایمان یا کفر نه دي مجبور کړي او نه يې له کسبي ایمان او یا کفر سره پیدا کړي دي، بلکې دوی يې مستقل اشخاص پیدا کړي.

ایمان او کفر د بندګانو فعلونه دي. همدارنګه الله تعالی پر کافر باندې د ده د کفر په حال کې خبر لري او کله چې ایمان راوړي، بیا هم الله ﷻ د ده په ایمان د ایمان په حال کې علم لري او دوست يې ګڼي، پرته له دې چې د الله ﷻ علم او صفت تغیر وکړي.

## شرح

الله تعالی مخلوق له ایمان او کفر څخه خالي پیدا کړ او دا صلاحیت يې ورکړ چې ایمان یا کفر قبول کړي او د نېکۍ او ګناه دواړو د سرته رسولو توان يې ورکړ. پر کفر یا پر ایمان يې مجبور نه کړل. اوس چې څوک کافر کېږي په خپل اختیار او فعل سره به کافر کېږي او انکار، عناد او تکبر به کوي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَجَحَدُوا بِهَا وَاسْتَيْقَنَتْهَا أَنْفُسُهُمْ ظُلْمًا وَعُلُوًّا فَانْظُرْ كَيْفَ كَانَ عَاقِبَةُ الْمُفْسِدِينَ﴾ [النمل،١٤]

ژباړه: دوی د ظلم او غرور له لارې له دغو نښانو څخه انکار وکړ. په داسې حال کې چې زړونو يې پرې باور (یقین) کړی و. اوس وګورئ چې د دغو مفسدانو پایله څنګه شوه.

البته دا باید په یاد ولرو چې الله له کافر سره مرسته نه ده کړې او خپل توفیق يې ورځنې سپمولی دی. همدارنګه مؤمن په خپل اختیار ایمان راوړی او دا د هغه خپل فعل او انقیاد دی، چې دا ټول د الله تعالی په مرسته او توفیق سره کوي. الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ اللَّهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ إِنَّ اللَّهَ بِالنَّاسِ لَرَؤُوفٌ رَّحِيمٌ﴾[د البقرة سورت: ٢٤٣ آیت]

ژباړه: الله تعالی ستاسې ایمان هېڅکله نه ضایع کوي، باور ولرئ چې الله پر خلکو ډېر مهربان او رحمت کوونکی دی.

## د الستُ عهد (میثاق):

الله تعالی د آدم عليه السلام ټوله اولاده هغه چې د قیامت تر ورځې پیدا کېږي، د آدم عليه السلام له ملا څخه د ورو ذرو په شکل پیدا کړه. بیا يې دوی ته عقل ورکړ او مخاطب يې وګرځول، په ا یمان يې مامور او له کفر څخه يې منع کړل. په پایله کې دوی ټولو د الله تعالی په ربوبیت اقرار وکړ. الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِي آدَمَ مِنْ ظُهُورِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلَى أَنْفُسِهِمْ

﴿أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا﴾ [الاعراف: ۱۷۲]

ژباړه: او ای پېغمبره! خلکو ته هغه وخت ور په زړه کړه چې ستا رب د آدم عليه السلام د اولادونو له شاګانو څخه د هغوی ځوځات راوېستلی، هغوی یې په خپله پر هغوی شاهدان ګرځولي وو او پوښتنه یې ورڅخه کړې وه "ایا زه ستاسې رب نه یم"؟ هغوی وویل" هرو مرو همدا ته زموږ رب یې، موږ پردې شاهدي وایو".

همدارنګه امام صاحب رحمه الله له دې ترون څخه د ایمان فطري والی استنباط کړی چې د روم سورت (۳۰) آیت پرې دلالت کوي او فرمايي: ﴿فَأَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا فِطْرَةَ اللَّهِ الَّتِي فَطَرَ النَّاسَ عَلَيْهَا لَا تَبْدِيلَ لِخَلْقِ اللَّهِ ذَلِكَ الدِّينُ الْقَيِّمُ وَلَكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾ [الروم،۳۰].

ژباړه: اې پېغمبره صلی الله علیه وسلم په یو لوری کېدو سره خپل مخ د دغه دین خواته برقرار وساته، پر هغه فطرت (محکم شه) چې پر هغه باندې الله تعالی انسانان پیدا کړي دي. د الله تعالی خلقت نشي بدلېدای، همدغه بیخي سم صحیح دین دی، خو ډېر خلک نه پوهېږي.

نبي کريم صلی الله علیه وسلم په دې اړه فرمايلي دي: «كُلُّ مَوْلُودٍ يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْيُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ»[1]

ژباړه: هر نوی پیدا شوی په خپل فطري دین سره پیدا کېږي، بیا یې وروسته مور او پلار یا یهودي ګرځوي، یا یې نصراني او یا یې هم مجوسي.

## ارزونه:

۱- فطرت څه معنا لري؟

۲- (خلق الله الخلق سليماً من الكفر و الايمان) معنا څه ده؟

۳- مخلوقاتو څه وخت الله تعالی ته په ربوبیت اقرار وکړ؟

## کورنی دنده:

د لوست لنډیز په خپلو کتابچو کې په خپلو الفاظو سره ولیکئ.

---

۱ - متفق علیه.

# د بندګانو افعال

وَجَمِيعُ أفعالِ العِبَادِ مِن الحركةِ، والسكونِ كَسبُهُم على الحقيقةِ، واللهُ تعالى خالقُهَا، وهي كُلُّهَا بمشيئتِهِ، وعِلمِهِ، وقَضَائِهِ، وَقَدَرِه.
والطاعاتُ كُلُّهَا كَانَت وَاجِبَةً بأمرِ اللهِ تعالى، وَبِمَحَبَّتِهِ، وَبِرَضَائِهِ، وَعِلمِه، وَمَشيئتِه، وَ قَضَائِه، وَتَقدِيرِه.
وَالمَعَاصِي كُلُّهَا بعِلمِه، وَقَضَائِه، وَتَقدِيرِه، وَمَشِيئَتِه لا بمحبتِهِ، ولا برضائِهِ، ولا بأمرِهِ.

**ژباړه**: د بندګانو ټول کارونه، لکه: حرکت، سکون او داسې نور په حقیقت کې د دوی کسب او الله تعالی يې خالق دی. دا ټول د الله تعالی په اراده، علم، قضاء او قدر سره کېږي.
ټول طاعتونه د الله تعالی په امر، محبت، رضا، علم، ارادې، قضاء او تقدير سره واجب شوي.
او ټول ګناهونه د الله تعالی په علم، قضاء، تقدير او مشيت سره پيدا شوي، خو نه يې پکې محبت، نه رضا او نه امر شته.

## شرح

**د بندګانو ټول افعال الله تعالی پيدا کړي دي**: د بندګانو ټول کارونه لکه: ايمان، کفر، طاعت، ګناه او داسې نور په حقيقت کې د بندګانو کسب دی او په دې کې پر بنده هيڅ ډول زور او تحميل نشته، بلکې ټول د دوی په اختيار او د دوی له نفسي غوښتنو سره سم صورت نيسي، په دې توګه يې ثواب او ګناه په اعمالو پورې تړلې ده. په حقيقت کې د دغو ټولو خالق يوازې يو الله تعالی دی. الله تعالی په دې اړه فرمايي: ﴿وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ﴾ [الصافات: ۹٦].
ژباړه: الله تعالی تاسې او ستاسې اعمال پيدا کړي دي.
د بندګانو ښه کارونه د الله تعالی په علم، امر، اراده، قضا او تقدير تر سره کېږي او دغه ټول يې په مينه او خوښه صورت نيسي. همدارنګه د بندګانو ګناهونه ټول د الله تعالی په علم، اراده،

قضا او تقدير واقع كيږي، خو په ګناهونو باندې الله تعالی نه امر ورته كوي او نه پرې خوښ دی.
الله تعالی فرمايي: ﴿إِن تَكْفُرُوا فَإِنَّ اللَّهَ غَنِيٌّ عَنكُمْ وَلاَ يَرْضَى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ وَإِن تَشْكُرُوا يَرْضَهُ لَكُمْ﴾ [الزمر: ۷]
ژباړه: كه تاسې كافر شئ، نو الله له تاسې بې نياز دی، او هغه د خپلو بنده ګانو لپاره كفر نه خوښوي او كه تاسې شكر وباسئ نو هغه دا شكر ستاسې لپاره خوښوي.

## د خلق او كسب تر منځ توپير

۱- كسب هغه كار ته ويل كيږي چې كسب كوونكی په كې مستقل نه وي، بلكې په ترسره كولو كې يې بل څوك هم ورسره مرسته كوي او خلق هغه كار دی چې يوازې خالق يې تر سره كوي.
۲- كسب هغه كار دی چې د آلې په واسطه تر سره كيږي او خلق هغه كار دی چې له آلې پرته ترسره كيږي.

## د بندګانو فعلونه دوه ډوله دي

۱- اختياري فعلونه: دا هغه كارونه دي چې انسان يې په ترسره كولو كې واك او اختيار لري، لكه: تګ راتګ، خبرې كول او داسې نور.
۲- اضطراري فعلونه: دا هغه كارونه دي چې نه پكې انسان قدرت لري او نه اختيار لكه: د لاس رپيدل يا د عصبي او هضمي سيستم حركت.

## د بندګانو د فعلونو په اړه كلامي مذهبونه

**۱- جبريه**: دوی وايي، انسان په هيڅ كار كې اختيار نه لري، هر څه چې ترسره كوي ښه وي يا بد، پرې مجبور دی، څكه الله تعالی فرمايي: ﴿قُل لَّن يُصِيبَنَا إِلاَّ مَا كَتَبَ اللّهُ لَنَا هُوَ مَوْلاَنَا وَعَلَى اللّهِ فَلْيَتَوَكَّلِ الْمُؤْمِنُونَ﴾ [التوبة: ۵۱]
ژباړه: دوی ته ووايه "موږ ته هېڅكله څه (زيان يا ښېګڼه) نه رسيږي، خو هغه چې الله راته ليكلي دي. الله تعالی زموږ مولا او كار جوړوونكی دی او مؤمنان بايد په الله تعالی توكل او هغه ته ځان وسپاري.
**۲- معتزله**: دوی وايي: بنده ګان د خپلو ټولو اختياري فعلونو پيدا كوونكي دي او الله تعالی په هغه كې هيڅ ډول كار نه لري، خو الله تعالی په دې ټولو كړنو علم لري.
**۳- اهل سنت او جماعت**: دې دلې منځنۍ لاره غوره كړې، وايي: د انسان ټول كارونه الله تعالی پيدا كړي دي. بنده يې په پيدا كولو كې هېڅ ډول اغېز نه لري، بنده يې يوازې كسب

کوي، ځکه کله چې انسان د یو څه کولو اراده وکړي، الله تعالی د هغه کار د سرته رسولو قدرت او توان ورکوي. الله تعالی په دې اړه فرمايي: ﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهُ تَقْدِيرًا﴾[الفرقان: ٢].
ژباړه: او هر شی یې پیدا کړی بیا یې په یو ځانګړې اندازې سره اندازه کړی دی.
که انسان د خپلو کارونو پیدا کوونکی وای، نو بیا باید د ټولو هغو کارونو چې د ده په واک کې دي، په تفاصیلو باندې هم عالم وای او دا خو هېڅ شوني نه ده چې د خپلو ټولو کارونو پر ټولو اړخونو دې عالم وي.
اهل سنت د جبریه وو استدلال چې په دې آیت سره یې کوي: ﴿قُل لَّن يُصِيبَنَا ...﴾ [التوبة: ٥١] ردوي او وايي: دغه آیت د انسان د اضطراري کارونو، غمونو او اندېښنو په اړه دی چې د انسانانو له قدرت څخه بهر وي او یوازې د الله تعالی د قدرت په ساحه کې وي، او د بنده د اختیاري فعلونو په باره کې نه دی.
همدارنګه اهل سنت وايي، که چیرې موږ بندګان په خپلو فعلونو کې مجبور وګڼو، معنا یې دا کیږي چې الله تعالی انسان په ګناه کولو مجبوروي او بیا عذاب ورکوي او دا ظلم دی، د الله د مطلق عدالت څخه خلاف کار دی او هیڅ مسلمان دا پایله نشي منلای.
اهل سنت د معتزله وو په رد کې وايي، که موږ بندګان د خپلو کارونو پیدا کوونکي وګڼو، نو دا د الله قدرت، اراده او خالقیت محدودوي چې په غوڅه توګه د دین له مسلماتو او قرآني نصوصو او حدیثو سره ښکاره تعارض لري. همدا وجه ده چې د اهل سنتو د مذهب حقانیت او اعتدال جوتیږي.

**ارزونه**:

١ـ آیا انسان د هغو کارونو خالق کېدای شي چې تر سره کوي یې؟
٢ـ د خلق (پیدایښت) او کسب تر منځ توپیر څه دی؟
٣ـ د انسان کارونه (افعال) په څو ډوله دي؟
٤- که چیرې موږ انسان د عمل په کولو مجبور وګڼو، نتیجه به یې څه وي؟
٥- که چیرې موږ انسان د خپلو افعالو خالق وګڼو، نتیجه به یې څه وي؟

**کورنۍ دنده**:

د انسان د افعالو په هکله په خپلو کتابچو کې د اهل سنتو د نظریو لنډیز ولیکئ.

# د پیغمبرانو (علیهم السلام) عصمت

والأنبياءُ عليهمُ الصلاة والسلام كُلُّهم مُنَزَّهُونَ عَنِ الصَّغائِرِ، وَالكَبَائِرِ، وَالكُفرِ، وَالقَبَائِحِ، وَقَد كَانَت مِنهُم زَلَّاتٌ، وَخَطَايَا.

**ژباړه**: پیغمبران علیهم السلام ټول له وړو او لویو ګناهونو، کفر او ناوړه کارونو څخه پاک دي، خوکله ناکله ترې زلات (غیرقصدي اشتباهات) او لغزشونه شوي دي.

## شرح

له آدم علیه السلام څخه، تر محمد ﷺ پورې، ټول پیغمبران له نبوت څخه مخکې اوروسته له ټولو لویو او وړو ګناهونو څخه پاک دي. په قرآنی آیتونو کې، چې د انبیاء علیهم السلام په اړه څه راغلي؛ هغه زلات (غیر قصدي اشتباهات او لغزشونه) دي، چې ګناهونه ورته نه ویل کیږي.

## ۱ـ د نبي او رسول تعریف

نبي: له نبأ څخه اخیستل شوی، چې خبر ته ویل کیږي؛ نو نبي هغه څوک دی چې خلکو ته د الله جل جلاله له لورې د ورکړل شوي پیغام خبر ورکوي.

رسول: له ارسال څخه اخیستل شوی دی؛ چې معنا یې د یوې ځانګړې موخې لپاره د چا لیږل دي؛ نو له دې مخې رسول هغه چا ته ویل کیږي، چې د الله جل جلاله له لورې د یوې ځانګړې موخې لپاره رالیږل شوی وي چې هغه د خلکو لارښوونه ده.

## د رسول او نبي تر منځ توپیر

د رسول او نبي تر منځ د توپیر په اړه د علماوو تر منځ اختلاف نظر وجود لري، چې په لاندې ډول بیانیږي:

۱- ځيني علماء وايې چي د رسول او نبي تر منځ توپير وجود نه لري، هر نبي رسول دی او هر رسول نبي دی، خو ځيني نور علماء بيا وايې چې د دوی ترمنځ توپير وجود لري چې دا قول راجح دی.

۲- نبي هغه چاته ويل کيږي چې مؤمني ټولنې ته راليږل شوی وي، لکه آدم عليه السلام او د بني اسرائيلو انبياء، چې له موسی عليه السلام څخه وروسته او له عيسی عليه السلام څخه مخکې وو. رسول هغه چاته ويل کيږي چې کفارو ته ليږل شوی او نوی شريعت ورکړل شوی وي، لکه: نوح عليه السلام، موسي عليه السلام، محمد صلی الله عليه وسلم او داسې نور.

۳ - نبي هغه چا ته ويل کېږي چې د خپل مخکني پيغمبر شريعت ته تبليغ کوي او رسول هغه چا ته ويل کېږي چې د يوه مستقل رسالت لپاره رالېږل شوی وي او نوی شريعت يې راوړی وي، نو هر رسول نبي دی خو هر نبي رسول نه دی.

## ۲- د انبياء عليهم السلام عصمت

ټول اسلامي امت په دې متفق دی چې انبياء عليهم السلام له نبوت څخه مخکې او وروسته له دروغ ويلو څخه، په ځانګړې ډول په هغو کارونو کې چې د احکامو په تبليغ، شرعي اوامرو او د امت په لارښوونې پورې اړه لري، معصوم او پاک دي.

همدارنګه د اهل سنت والجماعت په عقيده ټول انبياء له نبوت څخه مخکې او وروسته، له کفر او ټولو لويو ګناهونو څخه پاک دي خو له انبياوو څخه د وړو ګناهونو په صادريدلو کې د علماوو اختلاف دی.

۱- جمهور اهل السنت والجماعت وايي له انبياوو څخه واړه ګناهونه، چې د مروت خلاف نه وي او سليم طبيعتونه له هغو څخه نفرت نه کوي، صادريږي، خو بيا نه په هغو باندې ثابت پاتې کيږي او نه يې هم تکراروي.

۲-احناف وايي، انبياء عليهم السلام له نبوت څخه مخکې او وروسته له ټولو لويو او وړو ګناهونو څخه پاک دي، خو کله زلات (غيرقصدي لغزشونه) ترې صادر شوي دي چې هغو ته ګناه نه، بلکې (ترک الاولی) ويل کيږي.

## ارزونه:

۱ـ نبي او رسول تعریف کړئ.

۲ ـ د نبي او رسول تر منځ توپیر څه دی؟

۳ـ آیا انبیاء علیهم السلام له ټولو ګناهونو څخه پاک دي؟ دا موضوع روښانه کړئ.

## کورنۍ دنده:

د پیغمبرانو علیهم السلام د عصمت په هکله یوه لنډه مقاله، چې له لسو کرښو کمه نه وي، ولیکئ.

# د پیغمبرانو علیهم السلام شمېر، دندې او صفتونه يې

په قرآن کریم کې د ټولو پیغمبرانو نومونه نه دي ذکرشوي او نه بل کوم قاطع دلیل شتون لري چې د انبیاوو شمیر په کې ټاکل شوی وي. په دې اړه د علماوو راجح قول دا دی چې د پیغمبرانو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ کره شمېر معلوم نه دی.

په قرآن کریم کې یوازې د پنځه ویشتو (۲۵) پیغمبرانو نومونه ذکر شوي دي، چې پنځه یې اولوالعزم پیغمبران دي، چې عبارت دي له: نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ، ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ، موسی عَلَيْهِ السَّلَامُ، عیسی عَلَيْهِ السَّلَامُ، او محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه. له دغو (۲۵) پیغمبرانو څخه پرته نور پیغمبران په قرآن کریم کې په نومونو نه دي یاد شوي، لکه چې الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَرُسُلاً قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلاً لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ﴾ [النساء، ۱٦٤].

ژباړه: او ځینې پیغمبران مې لیږلي دي چې د هغوی یادونه مې مخکې تا ته کړې او ځینې نور مې لیږلي چې د هغوی یادونه مې تا ته نه ده کړې

**فعالیت**: زده کونکي دې د هغو پیغمبرانو نومونه، چې په قرآن کریم کې ذکر شوي، په خپلو منځونو کې تکرار کړي: آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ، نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ، ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ، اسحاق عَلَيْهِ السَّلَامُ، یعقوب عَلَيْهِ السَّلَامُ، داود عَلَيْهِ السَّلَامُ، سلیمان عَلَيْهِ السَّلَامُ، ایوب عَلَيْهِ السَّلَامُ، یونس عَلَيْهِ السَّلَامُ، موسي عَلَيْهِ السَّلَامُ، هارون عَلَيْهِ السَّلَامُ، زکریا عَلَيْهِ السَّلَامُ، یحیي عَلَيْهِ السَّلَامُ، عیسي عَلَيْهِ السَّلَامُ، الیاس عَلَيْهِ السَّلَامُ، اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ، یونس عَلَيْهِ السَّلَامُ، لوط عَلَيْهِ السَّلَامُ، هود عَلَيْهِ السَّلَامُ، صالح عَلَيْهِ السَّلَامُ، شعیب عَلَيْهِ السَّلَامُ، ادریس عَلَيْهِ السَّلَامُ، یسع عَلَيْهِ السَّلَامُ، ذالکفل عَلَيْهِ السَّلَامُ او محمد صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.

## د انبياء عليهم السلام دندې:

د انبياوو عليهم السلام ځينې مهمې دندې په لاندې ډول بيانېږي:

۱- يوازې د الله تعالى عبادت ته د خلکو را بلل، لکه چې الله تعالى فرمايي: ﴿وَلَقَدْ بَعَثْنَا فِي كُلِّ أُمَّةٍ رَسُولًا أَنِ اعْبُدُوا اللَّهَ وَاجْتَنِبُوا الطَّاغُوتَ﴾ [النحل: ۳۶]

ژباړه: موږ هر امت ته يو پيغمبر ولېږه (او د هغه په وسيله مو تول خبر کړل چې) "د الله بندګي وکړئ او د طاغوت له بندګۍ نه ځان وژغورئ"

۲- خپلو امتونو ته د الله جل جلاله له لوري د وركړل شويو احكامو تبليغ او رسول، د هغوی روزنه او د شريعت په رڼښتونې لار د هغوی برابرول دي.

الله جل جلاله فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ وَإِن لَّمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللَّهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ﴾ [المايده: ٦٧]

ژباړه: اې پيغمبره! خپل امت ته هغه څه ورسوه، چې تاته د خپل رب له لوري نازل شوي او كه ودې نه رسول؛ نو تا به خپل رسالت سرته نه وي رسولای (له چا نه مه وېرېږه) الله جل جلاله به دې د خلکو له زيان څخه خوندي وساتي.[1]

۳- د الله تعالى د قوانينو د پيروۍ په صورت كې خلكو ته په دنيا او آخرت كې د برياليتوب زيرى وركول او د نافرمانۍ په صورت كې د الله تعالى له عذاب او په دنيا كې له رسوايۍ څخه د خلكو وېرول دي. الله تعالى فرمايي: ﴿وَمَا نُرْسِلُ الْمُرْسَلِينَ إِلَّا مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ﴾ [الكهف: ٥٦]

ژباړه: موږ پيغمبران له زيري وركولو او ډارولو پرته د بل كوم كار لپاره نه لېږو.

٤- په نېكو اخلاقو او غوره آدابو د خلكو تربيه كول: پيغمبر صلى الله عليه وسلم فرمايي: ﴿إِنَّمَا بُعِثْتُ لأُتَمِّمَ مَكَارِمَ الأَخْلاَقِ﴾[2]

ژباړه: يقيناً زه د دې لپاره را لېږل شوى يم، چې غوره اخلاق تكميل او پوره كړم.

---

۱ ـ د پيغمبرانو د دندې او د هغوی د را استولو د موخو په هكله لاندې آيتونه كتلای شئ. الاحزاب، ۳۸ـ ۳۹. الانعام، ۹۰. النساء، ۵۹ـ ٦٤. النحل، ۸۹.

۲ - السنن الكبرى للبيهقي.

## د پیغمبرانو علیهم السلام صفتونه

رسولان او انبیاء علیهم السلام د الله تعالی بندګان او د انسانانو له ډلې څخه دي. هغوی د نورو انسانانو په څېر خوراک، څښاک، واده، اولاد او داسې نورو ته اړتیا درلوده. دوی هم د نورو انسانانو په څېر له هغو ټولو ستونزو سره مخامخ کېدل چې نور انسانان ورسره مخامخ کېږي، لکه: ناروغي، قوت، ضعف، غم، درد، مرګ او داسې نور.

پیغمبران د نړۍ په نظام کې تصرف نشي کولای، هیڅاته د خیر او شر رسولو واک نه لري او په غیبو نه پوهېږي، مګر په هغه اندازه چې الله تعالی ورته د هغو وحې کړې وي.

پیغمبران علیهم السلام ، له ټولو ګناهونو څخه معصوم، د ښو اخلاقو او لوړ عقل خاوندان، رښتیا ویونکي، امانت ساتونکي او له ټولو ناوړه صفتونو څخه پاک دي.

**ارزونه:**

۱ـ د پیغمبرانو علیهم السلام شمېر څومره دی؟

۲ـ د انبیاء علیهم السلام تر ټولو مهمې دندې کومې دي؟

۳ـ د پیغمبرانو علیهم السلام مهم صفات کوم دي؟ بیان یې کړئ.

**کورنۍ دنده:**

د پیغمبرانو علیهم السلام د صفاتو په هکله یوه لنډه مقاله، چې د پنځو کرښو څخه کمه نه وي، ولیکئ.

## د حضرت محمد ﷺ ځيني صفات

ومحمدٌ عليه الصلاة والسلام حبيبُهُ، وعبدُهُ، و رَسُولُهُ، ونَبيُّهُ، وصَفِيُّهُ، ونَقِيُّهُ، وَلَم يَعبُد الصَّنَمَ، ولَم يُشرِك باللهِ تعالى طُرفَةَ عَينٍ قطُّ، ولم يَرتَكِب صَغِيرَةً، ولا كَبيرَةً قَطُّ

**ژباړه**: محمد ﷺ د الله ﷻ محبوب، بنده، رسول، نبي او غوره کړای شوی دی. هېڅکله يې د ستر‌گو د رپ په اندازه نه د بتانو لمانځنه کړې او نه يې شرك کړی، نه يې لويه ګناه کړې او نه وړه.

### شرح

### د حضرت محمد ﷺ ځانګړتياوې

۱- نبي کريم ﷺ دوه مشهور نومونه لري چې دواړه په قرآن کريم کې ذکر شوي دي. په مخکينيو کتابونو کې په همدې نومونو د ده د پيغمبرۍ زېرې ورکړل شوی دی. يو نوم يې محمد دی. له ده مخکې په عربو کې دغه نوم ډېر دود نه و. د نبي کريم ﷺ دا نوم په قرآن کريم کې ذکر شوی، لکه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾

[آل عمران:١٤٤]

ژباړه: او محمد ﷺ نه دی، خو د الله ﷻ رالېږل شوی پيغمبر دی او له ده مخکې هم ډېر پيغمبران تېر شوي دي.[1]

بل نوم يې احمد دی، لکه څرنګه چې الله تعالی فرمايي: ﴿وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِنْ بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ﴾ [الصف : ٦]

ژباړه: او الله د عيسی له خولې فرمايي:(زه عيسی) زيری ورکوونکی يم د يو پيغمبر چې له مانه

---

١ ـ او همدا راز په سورت الاحزاب: ٤٠ آيت، الفتح: ٢٩ آيت، او سورت محمد په دوهم آيت کې ذکر شوی دی.

وروسته به راشي چي د هغه نوم به احمد وي.

۲- رسول اکرم ﷺ د لويو او غوره اخلاقو خاوند و. الله تعالی په دې اړه فرمايلي دي: ﴿وَإِنَّكَ لَعَلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾ [القلم : ٤]

ژباړه: او بېشکه ته د لوړو اخلاقو مرتبه لرې.

۳- حضرت محمد ﷺ له بعثت څخه مخکې د خلکو په منځ کې د امين په لقب سره مشهور و.

٤- رسول الله ﷺ زيری ورکوونکی، ويروونکی او د هدايت روښانه څراغ و. الله جل جلاله فرمايي ﴿يَا أَيُّهَا النَّبِيُّ إِنَّا أَرْسَلْنَاكَ شَاهِدًا وَمُبَشِّرًا وَنَذِيرًا﴾ [الاحزاب:٤٥]

ژباړه: اې پيغمبره! ته موږ د شاهد، زيری ورکوونکي او ويروونکي او د الله په اجازه د هغه لوري ته بلونکی او د بلې ډيوې په توګه ليږلی يې.

٤ـ نبي کريم ﷺ د لوړ شخصيت او ښه سلوك خاوند و، چې د ده په نبوت او رښتينولی يې شاهدي ورکوله. عبدالله بن سلام وايي، ما چې کله د نبي کريم ﷺ مخ وليد، راته څرګنده شوه، چې دا دروغجن مخ نه دی.[۱]

**د نبي کريم ﷺ لويې معجزې**: معجزه، خارق العاده او يا د عادت خلاف کار ته ويل کېږي، چې الله جل جلاله يې له خپل پيغمبر څخه د ده د تصديق لپاره صادروي، د نبي کريم ﷺ ځينې معجزې په لاندې ډول دي:

- د سپوږمۍ څيرېدل.
- د ګوتو له منځه يې اوبه راوتل.
- له ده سره د کاڼو تسبيح ويل.
- دده په برکت لږ خواړه او اوبه ډېرېدل.
- اسراء او معراج.
- له ټولو څخه لويه او تلپاتې معجزه يې قرآن کريم دی، چې د سړي حواس را ويښوي او له اختلاف او تناقض څخه پاك دی.

---

۱ ـ د عبدالله بن سلام وينا د عبد الوهاب النجار په سيرة النبوی ۲۱۷ مخ کې وګورئ.

الله ﷻ فرمايي: ﴿أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ اللَّهِ لَوَجَدُوا فِيهِ اخْتِلَافًا كَثِيرًا﴾[النساء: ٨٢]

ژباړه: آيا دوی فکر نه کوي، که دا قرآن د غير الله له لوري راغلی وای، ارومرو به يې پکې ډېر اختلاف موندلی وای.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿قُل لَّئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنسُ وَالْجِنُّ عَلَىٰ أَن يَأْتُوا بِمِثْلِ هَٰذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا﴾ [الإسراء: ٨٨]

ژباړه: ووايه که انسانان او پيريان ټول لاسونه يو کړي (او) د دغه قرآن په څېر د کوم شي د راوړلو هڅه وکړي، نو رابه يې نشي وړلای، که ټول يو له بل سره مرسته هم وکړي.

**ارزونه:**

۱ـ د نبي کريم ﷺ د صفتونو په هکله يو آيت ذکر کړئ.

۲ـ د رسول الله ﷺ د لويو اخلاقو په باره کې يو آيت وليکئ.

۳ـ د پيغمبر ﷺ د ځينو معجزو نومونه واخلئ.

**کورنی دنده:**

د رسول الله ﷺ د نبوت د اثبات په هکله يوه لنډه مقاله، چې له لسو کرښو کمه نه وي، وليکئ.

# له پیغمبرانو وروسته غوره خلک

وأَفضَلُ النَّاسِ بَعدَ النبيينَ عليهم الصلاة والسلام أبو بكرٍ الصديق، ثُمَّ عُمرُ بن الخَطَّابِ الفاروقُ، ثُمَّ عثمانُ بنُ عفانٍ ذو النورين، ثُمَّ علي بن أبي طالب المُرتَضَى رضوان الله عليهم أجمعين.
عابدين ثابتين على الحقّ، ومع الحقِّ نَتَوَلاهُم جَمِيعاً، ولا نَذكُرُ أَحَداً من أصحابِ رَسُولِ اللهِ إلا بخَيرٍ.

**ژباړه**: له پیغمبرانو وروسته تر ټولو غوره خلک حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه ، بیا حضرت عمر رضي الله عنه ، بیا حضرت عثمان بن عفان ذوالنورین رضي الله عنه بیا حضرت علي بن أبي طالب المرتضی رضي الله عنه دي.

دوی ټول عبادت کوونکي او پرحق کلك ولاړ وو. موږ له ټولو سره مینه او دوستي لرو او ټول صحابه رضوان الله علیهم اجمعین په ښو صفاتو سره یادوو.

## شرح

له پیغمبرانو وروسته تر ټولو غوره خلک د دې امت څلور لومړني خلیفه ګان – حضرت أبوبکر صدیق، حضرت عمر فاروق، حضرت عثمان غني او حضرت علي بن أبي طالب رضي الله عنهم دي.

### ۱- د حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه فضایل

د حضرت أبوبکرصدیق رضي الله عنه نوم له اسلام څخه مخکې عبد رب الکعبه و. بیا پر سپیڅلي اسلام له مشرف کیدو وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم په ده عبدالله نوم کېښود، د پلار نوم یې ابوقحافه عثمان بن عامر بن کعب او لقب یې صدیق دی. نوموړی مدینې منورې ته د هجرت پر مهال له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره د غار او لارې ملګری او د ناروغۍ په ورځو کې په لمانځه کې د ده نائب و.

په ټولو غزواتو، ستونزو او مشکلاتو کې یې له رسول کریمﷺسره اوږه په اوږه حضور درلود. رسول اکرمﷺ ده ته د جنت زېرى ورکړى. د نبي کریمﷺله رحلت څخه وروسته په ټولو چارو کې د هغه خلیفه او په خلافت یې ټولو صحابه کرامو اجماع وکړه. د ابوبکر صدیقرضي الله عنه د خلافت موده دوه کاله او څلور میاشتې وه.

## ۲- د حضرت عمر فاروقرضي الله عنه فضایل

نوم یې عمر د خطاب زوى، د نفیل لمسى او لقب یې فاروق او د اسلام دویم خلیفه دى. د قرآن کریم ځینې آیاتونه د هغه له نظر سره سم نازل شوي چې دا د ده په فضیلت دلالت کوي. همدارنګه د امت ټولو علماوو د ده د خلافت او فضیلت په اړه اجماع کړې ده، نوموړى د عشره مبشره له جملې څخه دى.

حضرت عمر فاروقرضي الله عنه له لس کاله او شپږ میاشتې خلافت څخه وروسته د ابو لؤلؤ مجوسي (لعنة الله علیه) له خوا په شهادت ورسېد. ده له خپل وفات څخه مخکې د خلیفه د ټاکلو لپاره د صحابه وو شپږ کسیزه شورا ټاکلې وه. نوموړې شورا حضرت عثمانرضي الله عنه خلیفه وټاکه.

## ۳- د حضرت عثمان بن عفانرضي الله عنه فضایل

نوم یې عثمان بن عفان بن العاص بن أمیة او ذوالنورین یې لقب دى. حضرت عثمانرضي الله عنه د اسلام دریم خلیفه او د نبي کریمﷺ له دوو لوڼو رقیې او أم کلثوم رضي الله عنهما سره یې یوه په بلې پسې نکاح کړې وه چې له برکته یې د ذو النورین لقب ورکړل شو. کله چې د نبي کریمﷺ دویمه لور (ام کلثوم) مړه شوه؛ نو رسول اللهﷺ وویل، که زما دریمه لور هم واى؛ نو هغه به مې هم ورکړې واى چې دا د عثمانرضي الله عنه په فضیلت دلالت کوي.

حضرت عثمانرضي الله عنه د بیعة الرضوان په وخت کې رسول اللهﷺ د مکې خلکو ته د پیغام رسولو لپاره د خپل استازى په توګه لېږلى و. کله چې مسلمانانو له رسول اللهﷺ سره بیعت وکړ، نو خپل لاسونه یې د رسول اللهﷺ په لاس کې ایښودل، نبي کریمﷺ خپل یو لاس په بل لاس کې کېښود او د حضرت عثمانرضي الله عنه له خوا یې بیعت وکړ، چې په دې سره د نبي کریمﷺ لاس د حضرت عثمانرضي الله عنه نائب شو او دا هم د ده په فضیلت دلالت کوي. نوموړى هم د عشره مبشره له جملې څخه دى. په داسې حال کې، چې د قرآن کریم په تلاوت

بوخت و، د باغي بلواګرو له خوا په شهادت ورسېد.

### ۴- حضرت علی کرم الله وجهه

نوم يې علی بن أبی طالب بن عبدالمطلب بن هاشم بن عبد مناف دی. نوموړی د مسلمانانو څلورم خليفه او د نبي کريمﷺ زوم، د تره زوی او له عشره مبشره وو څخه و. حضرت عليؓ د نبي کريمﷺ د دوو ګرانو لمسيو (حسن او حسين رضی الله عنهما) پلار و. رسول اللهﷺ د خيبر په ورځ د جهاد بيرغ ده ته ورکړ. نوموړی وروسته له څلور کاله او نهه مياشتې خلافت څخه وروسته د عبدالرحمن بن ملجم (چې د خوارجو څخه و) له خوا په شهادت ورسېد.

## ارزونه

۱ـ له نبي کريمﷺ څخه وروسته غوره خلک څوک دي؟

۲ـ د ابوبکر صديقؓ د خلافت موده څومره وه؟

۳ـ عمر بن الخطابؓ له خپل شهادت څخه وروسته د خليفه د ټاکلو په اړه څه وکړل؟

٤- حضرت عثمانؓ ته ولې د ذوالنورين لقب ورکړ شو؟

٥- د حضرت عليؓ د خلافت موده څومره وه؟

## کورنۍ دنده:

د څلورو خليفه ګانو د خلافت او فضيلت په هکله يوه مقاله وليکئ.

# د ګناه په کولو مسلمان نه کافر کیږي

ولا نُكَفِّرُ مُسلِماً بِذَنبٍ مِنَ الذنوبِ، وإن كانت كبيرةً إذا لَم يَستَحِلَّها.
ولا نُزيلُ عَنهُ اسمَ الإيمانِ، وَنُسَمِّيه مُؤمَناً حقيقةً، وَيجوزُ أن يَكونَ مُؤمِناً فَاسِقاً غَيرَ كَافِرٍ.

**ژباړه**: موږ مسلمان د ګناه په کولو که لويه ګناه هم وي، تر هغې کافر نه ګڼو، چې ګناه يې روا نه وي ګڼلې.

موږ له مسلمان څخه د ايمان نوم نه لرې کوو په حقيقې توګه ورته مؤمن وايو او کېدای شي، يو مسلمان فاسق وي نه کافر.

## شرح

**موږ مسلمان دګناه په کولو کافر نه ګڼو**: کله چې يو مسلمان ګناه وکړي، که وړه ګناه وي يا لويه، موږ يې د دې ګناه له امله کافر نه ګڼو، تر هغه پورې چې دا ګناه روا کار و نه ګڼي، خو که چېرې ګناه روا وګڼي نو بيا يې ايمان له منځه ځي.

## د ګناه ډولونه

ګناهونه په دوه ډوله دي:

**۱ـ کبيره ګناهونه**: دا هغه ګناهونه دي، چې حرمت يې د قرآن او حديث په قاطع نص ثابت وي، په دنيا کې ورته حد ټاکلی او يا په آخرت کې يې د عذاب وعيد ورکړې شوی وي. (۱)

**۲ـ صغيره ګناهونه**: دا هغه ګناهونه دي، چې په دنيا کې ورته حد نه وي ټاکل شوی او په آخرت کې ورته ځانګړی وعيد نه وي راغلی.

۱ ـ الکباير للذهبی ۷ التعريفات للجرجانی صفحه ۳۵.

## د لویې ګناه د کوونکي حکم

صحابهٔ کرام، تابعین، اهل السنت والجماعت او د امت معتبر علماء په دې عقیده دي، چې د ګناه له امله یو مسلمان له اسلام څخه نه وځي، خو فاسق بلل کېږي. هغه څوک چې تر مرګه په ګناه اخته وي او توبه ونه باسي؛ نو دا مسلمان د الله ﷻ په اراده پورې اړه لري، که الله ﷻ وغواړي ګناه به یې وبښي، جنت ته به یې بوزځي او که الله ﷻ وغواړي؛ نو د ګناه له امله به یې دوزخ ته بوزځي؛ خو بیا هم د ایمان له امله بالاخره له دوزخ څخه راوځي او جنت ته به ځي؛ ګناهګار مؤمن د تل لپاره په دوزخ کې نه پاتې کېږي، ځکه الله پاك په قرآن کریم کې هغو مسلمانانو ته، چې په خپلو کې جنګ کوي، مؤمنین ویلی دي او د ایمان صفت یې له دوی څخه نه دی سلب کړی، په داسې حال کې چې د مسلمان سره جنګ یوه لویه ګناه ګڼل کېږي.

په دې اړه الله تعالی فرمایي: ﴿وَإِن طَائِفَتَانِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ اقْتَتَلُوا فَأَصلِحُوا بَينَهُمَا فَإِن بَغَت إِحْدَاهُمَا عَلَى الْأُخرَى فَقَاتِلُوا الَّتِي تَبغِي حَتَّى تَفِيءَ إِلَى أَمرِ اللَّهِ فَإِن فَاءَتْ فَأَصلِحُوا بَينَهُمَا بِالعَدْلِ وَأَقسِطُوا إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُقسِطِينَ﴾ [الحجرات: ۹]

ژباړه: که د مسلمانانو دوې ډلې سره پخپل منځ کې په جګړه اخته وې، تاسې د خپلو دغو دوو (ډلو) ترمنځ روغه جوړه وکړئ. که بیا د دوی یوه ډله پربله زیاتی وکړي؛ نو تاسې هماغه ډلې سره جګړه وکړئ، چې زیاتی کوي، تردې چې د الله ﷻ امر ته غاړه کېږدي او که د الله حکم ته یې غاړه کېښوده؛ نو ترمنځ یې په عدل سره سوله وکړئ او انصاف کوئ. الله ﷻ ته انصاف کوونکي ګران دي.

همدارنګه د رسول الله ﷺ د احادیثو په اساس د لویې ګناه مرتکب د اسلام له ملت څخه نه دی خارج شوی او د هغه عذاب یې د الله تعالی ارادې ته سپارلی دی. له عبادة بن الصامت رضي الله عنه څخه روایت دی، نبي کریم ﷺ په داسې حال کې چې د صحابه وو یوه ډله ترې چاپېره ناسته وه، وویل: «راشئ له ما سره په دې خبره بیعت وکړئ، چې له الله ﷻ سره به شریک نه جوړوئ، غلا، زنا، اولاد به نه وژنئ، پر یو بل به بهتان نه لګوئ او په نیکو کارونو کې به زما نافرماني نه کوئ، چا چې دغه بیعت پوره کړ (وفا یې پرې وکړه)، اجر او ثواب یې پر الله ﷻ دی او چا چې له دغو کارونو څخه کوم کار وکړ؛ که په دنیا کې یې له عذاب سره مخ شو، نو دا د

ده لپاره کفاره ده او پر چا چې الله ﷻ پرده واچوله؛ نو دا به الله ﷻ ته وړاندې کېږي، که خوښه یې وه، ببښنه به ورته وکړي او که خوښه یې وه، عذاب به ورکړي؛ عباده رضي الله عنه وايي: موږ ورسره په دغې بیعت وکړ». [1]

**ارزونه**:

۱- آیا د کبیره گناه په کولو سره مسلمان کافر کېږي او که نه؟

۲- د گناه ډولونه څو دي؟

**کورنۍ دنده**:

زده کونکي دې د لویوگناهونو په اړه په خپلو کتابچو کې یوه مقاله ولیکي.

---

۱- رواه بخاری

# د اهل سنت والجماعت عقايد

والمسحُ على الخفينِ سنةٌ، والتراويحُ في ليالي شهرِ رمضانَ سنةٌ، والصلاةُ خلفَ كلِّ برٍّ وفاجرٍ جائزةٌ.

ولا نقولُ إن المؤمنَ لا تضره الذنوبُ، ولا نقولُ إنه لا يدخلُ النَّارَ، ولا نقولُ إنه يَخلُدُ فيها، وإن كانَ فاسقاً بعد أن يَخرُجَ من الدنيا مؤمناً.

ولا نقولُ، إن حسناتِنا مقبولةٌ، وسيئاتنا مغفورةٌ، كقولِ المرجئة، ولكن نقولُ من عمل حسنةً بجميع شرائطِهَا خاليةً عن العيوب المُفسِدَةِ، ولم يُبطِلهَا بالكفرِ، والرِّدةِ والأخلاقِ السيئةِ، حتى خرجَ من الدنيا مؤمناً فإنَّ الله تعالى لا يُضَيِّعُهَا بل يقبلُهَا منه، ويُثيبه عليها.

وما كان من السيئاتِ دون الشركِ، والكفرِ، ولم يَتُب عَنهَا صَاحِبُهَا، حتى ماتَ مؤمناً فإنه مؤمنٌ في مشيئةِ اللهِ تعالى إن شاءَ عَذَّبَهُ بالنارِ، وإن شاءَ عَفَا عَنهُ، وَلَم يُعَذِّب بالنارِ أصلاً.

وَالرياءُ إذا وَقَعَ في عملٍ منَ الأعمالِ فإنَّهُ يُبطِلُ أَجرَهُ، وَكَذَلِكَ العُجْبُ.

**ژباړه**: پر موزو مسحه سنت ده. د روژې په مياشت کې د شپې تراويح سنت دي. په هر نيک کاره او بدکاره امام پسې لمونځ کول روا دي.

موږ نه وايو، چې مؤمن ته ګناه زيان نه رسوي. موږ دا هم نه وايو، چې ګناهګار مؤمن به دوزخ ته نه داخلېږي. دا هم نه وايو، چې دغه ګناهګار مسلمان به په اور کې تل وي، که څه هم فاسق وي، خو کله چې د ايمان په حال کې مړ شي نو د تل لپاره په اور کې نه پاتې کېږي.

دا هم نه وايو، چې ټول نيک کارونه مو قبول او ګناهونه مو ببښل شوي دي، لکه څرنګه چې مرجئه وايي. هو! موږ وايو چا چې ښه کار له ټولو شرطونو سره وکړ او له مفسدو او باطلو عيبونو څخه پاک و؛ او په کفر ارتداد او ناوړو اخلاقو سره يې باطل نه کړي، ترديې چې د ايمان په

حالت کې له دنیا لاړشي؛ نو نیک عمل یې الله ﷻ نه ضایع کوي، بلکې قبلوي یې او ثواب پرې ورکوي.

کوم ناوړه کارونه یې چې کړي وي، په دې شرط چې له شرك او کفر ښکته وي او توبه ترې ونه باسي تر هغه چې د ایمان په حالت کې له گناه سره مړ شي؛ نو دا مؤمن دی او د الله ﷻ په ارادې پورې تړلی دی، که الله ﷻ وغواړي عذاب به ورکړي او که وغواړي وبه یې ښښي.

کله چې په یوه نیك عمل کې ریا پیداشي؛ نو ثواب یې له منځه ځي او همدارنگه که تکبر او عجب په کې پیدا شي نو بیا یې هم ثواب له منځه ځي.

**شرح**:

په دې لوست کې نهه مسئلې ذکر شوې، چې په لاندې ډول بیانېږي:

۱ــ پر موزو باندې مسحه کول سنت دي، چې په متواترو احادیثو سره ثابته ده، د مقیم لپاره یوه ورځ او یوه شپه او د مسافر لپاره درې شپې او درې ورځې اجازه ورکړل شوې ده.

۲ـ تراویح: د روژې په میاشت کې د شپې تراویح کول له نبي کریم ﷺ څخه عملاً ثابت دي، هغه تراویح کړې او بیا یې پر امت باندې د شفقت له امله چې پرې فرض نشي، په جماعت سره پرې اېښې دي، بیا عمر رضي الله عنه دا سنت را ژوندي کړل او په پرله پسې توگه یې په جماعت سره اداء کړل او ویې ویل: د دغو سنتو ژوندي کول یو ښه کار دی چې ما په نوښت ترسره کړ.[۱]

۳ـ په لمانځه کې د هر نیك کاره او بد کاره سړي امامت: د لمانځه د امامت لپاره یوازې اسلام شرط دی، نو په هر مسلمان پسې که ښه سړی وي او که بد، لمونځ روا دی، خو په بدکاره (فاسق) پسې لمونځ کول مکروه دي.

٤ـ گناه مؤمن ته زیان رسوي: د ایمان په راوړلو انسان حقیقي مؤمن بلل کېږي؛ خو دا چې گناهونه کوي، نو فاسق مؤمن دی.

٥ـ گناهگار مؤمن په دوزخ کې د تل لپاره نه پاتې کیږي: که مؤمن د گناه له امله اور ته داخل شي، نو د ایمان له امله به په پای کې له اوره بېرته راوځي.

---

۱- د امام مالك مؤطا

٦ـ د عملونو قبلول او د ګناه بښل د الله تعالی په اختيارکې دي: دا عقيده نه لرو چې زموږ ښه کارونه قبول شوي او ګناهونه مو بښل شوي دي، بلکې دا د الله تعالی ارادې پورې اړه لري.

٧ـ الله تعالی د نيکو عملونو بدله د خپلې مهربانۍ له مخې ورکوي. چا چې له ټولو شرطونو سره سم په اخلاص د ايمان په حالت کې له ريا او کبر څخه پاک ښه کار وکړ، الله ﷻ د خپلې مهربانۍ له مخې ورته بدله ورکوي؛ سره له دې، چې په الله ﷻ باندې دا ته د اجر ورکول واجب نه دي.

٨ـ ګناه کار مؤمن د الله په اراده کې دی: چا چې له شرک پرته کومه ګناه وکړه او د ايمان په حالت کې مړ شو، خو له ګناه څخه يې توبه نه وي کړې، د ده په اړه پرېکړه د الله ﷻ په ارادې پورې تړاو لري، که الله تعالی وغواړي ښښنه به ورته وکړي او که وغواړي عذاب به ورکړي. لکه چې الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ اللّهَ لاَ يَغْفِرُ أَن يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَلِكَ لِمَن يَشَاء وَمَن يُشْرِكْ بِاللّهِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلاَلاً بَعِيدًا﴾ [النساء، ١١٦]

ژباړه: الله ﷻ دانه بښي، چې شرک ورسره وشي، له شرک پرته نور ټول ګناهونه بښي، هغه چاته چې وغواړي او چا چې له الله ﷻ سره شرک وکړ؛ نو په لرې اندازه لار ورکی شو.

٩- ريا د عمل ثواب له منځه وړي: ريا (تظاهر او ځان ښودنه)، کبر او عجب هغه ناوړه خصلتونه دي چې د انسان د ټولو نيکو اعمالو ثواب له منځه وړي.



**ارزونه**:

١ـ آيا د مسافر او مقيم لپاره پر موزو د مسحې کولو په موده کې توپير شته؟

٢ـ د تراويح لمونځ په روژه کې د اهل سنت په نزد څه حکم لري؟

٣ـ ريا کول د انسان عمل ته څه تاوان رسوي؟



**کورنۍ دنده**:

ددې لوست لنډيز په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# معجزه او کرامت

وَالآياتُ ثابتةٌ للأنبياءِ، والكراماتُ للأولياءِ حقٌّ.
وأما التي تكونُ لأعدائِهِ مثلِ إبليسَ، وفرعونَ، والدجالَ فيمَا رُوِيَ الأخبارُ أنهُ كان ويكونُ لهُم لا نُسَمِّيهَا آياتٍ، ولا كراماتٍ.
ولكن نُسَمِّيهَا قَضَاءَ حَاجَاتِهِم، وَذلكَ لأنَّ اللهَ تعالى يَقضِي حَاجَاتِ أَعدَائِهِ اِستِدرَاجاً لَهُم، وعقوبةً لَهُم فَيَغتَرُّونَ بِهِ، وَيَزدَادُونَ طُغيَاناً، وكفراً، وَكُلُّهُ جَائِزٌ مُمكِنٌ.

**ژباړه**: د انبياوو معجزات ثابت او د اولياوو كرامتونه حق دي.

او هغه خارق العاده كارونو ته، چې د الله ﷻ له دښمنانو، لكه شيطان، فرعون او دجال، څخه صادر شوي او په حديثو كې راغلي؛ نه معجزه وايو او نه كرامت.

بلكې د دوى د اړتياوو پوره كول ورته وايو. دا ځكه چې الله ﷻ د استدراج په ډول د خپلو دښمنانو اړتياوې پوره كوي او دا د دوى لپاره په حقيقت كې عذاب دى، ځكه ددې له امله دوى دوكه كېږي او ګناهونه، سر غړوني او كفر يې ډېرېږي او دا ټول شوني دي.

## شرح

هغه خارق العاده كار، چې له نبي څخه صادر شوى وي، معجزه او كه له نېك مسلمان څخه صادر شوى وي كرامت دى. كه له فاسق مسلمان او يا كافر څخه صادر شوى وي، استدراج بلل كېږي.

**۱ـ معجزه**: معجزه په لغت كې له عجز څخه اخيستل شوي او عاجز كوونكي ته ويل كېږي. [۱]

په اصطلاح كې معجزه يو خارق العاده كار دى، چې د پيغمبر په لاس، چې د نبوت دعوه يې

۱ ـ تعريف يې په مخكې درس كې هم تير شوى دى. ۲ـ شرح المقاصيد ۲ج ۱۷۵صفحه.

کړې وي، صادرېږي او نور خلك يې له تر سره کولو څخه عاجز وي او په قرآن کريم کې ورته آيت ويل شوی دی.

**۲ - کرامت**: کرامت په لغت کې عزت ته ويل کېږي او په اصطلاح کې هغه خارق العاده کار دی، چې د الله ﷻ د اولياوو په کړنو کې ليدل کېږي او د نبوت دعوی ورسره نه وي.

## ولي چا ته ويل کېږي؟

الله ﷻ فرمايي: ﴿ أَلا إِنَّ أَوْلِيَاء اللّهِ لاَ خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلاَ هُمْ يَحْزَنُونَ ۝ الَّذِينَ آمَنُواْ وَكَانُواْ يَتَّقُونَ﴾ [يونس: ۶۲_۶۳]

ژباړه: ياد ساتئ د الله ﷻ پر اولياوو به څه وېره نه وي او نه به غمجن کېږي. دا هغه خلك دي چې ايمان يې راوړی او تل تقوا لرونکي دي.

د صحابه وو او اولياوو کرامت په قرآني آيتونو ثابت دی او تاييد يې پر هغو پېښو سره کېږي، چې له صحابه کرامو او اولياوو څخه په موثقو کتابونو کې روايت شوې او واقع کيدل يې تاييدوي.

## په قرآن کريم کې د کرامت بېلګې

د مثال په توګه په قرآن کريم کې ذکر شوي چې حضرت مريم ته به په غير موسم کې تازه ميوې ورکول کيدې، لکه چې الله ﷻ فرمايي:

﴿وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ﴾ [آل عمران : ۳۷]

ژباړه: او زکريا يې د هغې پالونکی وګرځوه، زکريا به چې هر وخت محراب ته ورته، نو له هغې سره به يې د خوراك او څښاك څه ناڅه ميندل. پوښتنه به يې کوله: مريم! دا تا ته له کومه راځي؟ هغې به ځواب ورکاوه، د الله له لوري راغلي دي، د الله چې چاته خوښه شي بې حسابه روزي ورکوي.

همدارنګه په غار کې د اصحاب الکهف درې سوه او نهه کاله بې خوراکه وخت تېرول.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَبِثُوا فِي كَهْفِهِمْ ثَلَاثَ مِائَةٍ سِنِينَ وَازْدَادُوا تِسْعًا﴾ [الكهف، ۲۵].

ژباړه: او دوی په غار کې درې سوه او نهه کاله وخت تېر کړی و.

**۳- استدراج**: استدراج په لغت کې درجه په درجه او کم کم د چا جګول یا ښکته کېدل دي.

او په اصطلاح کې هغه کارونه دي، چې د عادت خلاف له فاسق یا کافر څخه صادرېږي او دا د دې لپاره، چې دی ورو ورو مغروره شي او د الله د عذاب په لومو کې ونښلي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِ فَتَحْنَا عَلَيْهِمْ أَبْوَابَ كُلِّ شَيْءٍ حَتَّى إِذَا فَرِحُواْ بِمَا أُوتُواْ أَخَذْنَاهُم بَغْتَةً فَإِذَا هُم مُّبْلِسُونَ﴾. [الانعام،٤٤]

ژباړه: نو هر کله چې هغوی هغه نصیحت هېر کړ چې ورته شوی و، نو موږ د هر ډول نعمتونو دروازې ورته راپرانستلې، تر هغې چې پر هغو به خوشحاله شول، یو ناڅاپه مو هغوی ونیول نو بیا هغوی نهیلي وو.

او نبي کریم ﷺ فرمايي: [إِذَا رَأَيْتَ اللَّهَ يُعْطِي الْعَبْدَ مِنْ الدُّنْيَا عَلَى مَعَاصِيهِ مَا يُحِبُّ فَإِنَّمَا هُوَ اسْتِدْرَاجٌ].[1]

**ژباړه**: کله دې چې ولیدل چې الله ﷻ یو سړي ته په دنیا کې د هغه له خوښې سره سم هر څه ورکوي او هغه په خپله ګناه کلک وي، نو ته پوه شه چې دا استدراج دی.

## د کرامت او استدراج ترمنځ توپیر

۱- کرامت د الله تعالی په مرسته او توفیق له نیکو بندګانو څخه صادرېږي او د ولي ایمان او له شریعت سره موافق اعمال یې شرط دي، خو استدراج د الله تعالی له دښمنانو او فاسقو مؤمنانو څخه د دوی د دنیوي اړتیاوو د پوره کولو په غرض صادرېږي، لکه ابلیس، فرعون، دجال او داسې نور.

۲ـ اولیاء په کرامت سره دنیوي ګټې نه ترلاسه کوي، خو کافران او فاسقان په استدراج سره د خلکو پام ځانته اړوي. د استدراج له لارې د خلکو مالونه خوري او دنیوي ګټې ترلاسه کوي.

۳ـ کرامت الهي ورکړه ده، ولي د کرامت د ترلاسه کولو په غرض نېک عمل نه کوي، بلکې یوازې د الله تعالی د قربت لپاره ښه عمل کوي، نو کرامت د الله په احسان هغه ته ورکول کېږي.

بل دا دی چې کرامت د ولي په لاس کې نه دی، خو کافران او فاسقان د خارق العاده کارونو په

۱ ـ رواه احمد والطبرانی فی الکبیر والبیهقی فی شعب الایمان عن عقبة بن عامر، انظر جامع الاحادیث للسیوطی صفحه ۱۹۸۷.

ترسره کولو کې زيار باسي، چې د خلکو پام ځانته واړوي.

**ارزونه:**

۱ـ معجزه تعريف کړئ.

۲ـ کرامت تعريف کړئ.

۳ـ د معجزې او کرامت ترمنځ توپير ووایاست.

٤- استدراج د لغت او اصطلاح له مخې تعريف کړئ.

٥- د کرامت او استدراج فرق واضح کړئ.

٦- د استدراج د اثبات دلايل ذکر کړئ.

**کورنۍ دنده:**

د لوست لنډيز په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# د الله تعالی رؤیت

والله تعالى يُرى في الآخرةِ، وَيراهُ المؤمنونَ وَهُم في الجنةِ بأعيُنِ رؤوسِهِم بلا تَشبيهٍ، ولا كيفيةٍ، ولا يكونُ بينه، وبين خَلقِهِ مسافةٌ.

ژباړه: په قيامت کې به الله تعالی په سترګو ليدل کېږي، مؤمنان به يې په جنت کې د سر په سترګو ويني، په داسې ډول، چې تشبيه او څرنګوالی يې شونی نه دی او د الله تعالی او مخلوق ترمنځ به څه واټن (فاصله) موجود نه وي.

## شرح

په دنيا کې الله ﷻ په سترګو نه ليدل کېږی، ځکه د انسان سترګې عاجزې او د دې وړتيا نه لري چې الله تعالی وويني، خو په جنت کې د جنتي مؤمنانو لپاره د الله ﷻ ليدل په قرآن کريم او نبوي احاديثو ثابت دي.

**قران کريم**: الله ﷻ فرمايي: ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ * إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ﴾ [القيامة،٢٢ـ ٢٣]

ژباړه: په دغه ورځ به ځينې مخونه خوشحاله ښېرازه وي، خپل رب ته به کتونکي وي.

همدارنګه الله تعالی فرمايي: ﴿لِّلَّذِينَ أَحْسَنُوا الْحُسْنَىٰ وَزِيَادَةٌ ...﴾ [يونس: ٢٦]

ژباړه: د هغه چا لپاره چې نيکي يې کړې وي، ښه بدله ده او سربېره پردې زياتوالی (ورکول کېږي).

په پورتني آيت کې لکه څرنګه چې له حديث شريف څخه معلومېږي، له (حسنی) څخه جنت او له (زيادة) څخه د الله ﷻ ليدل مراد دي.

**احاديث**: نبي کريم ﷺ خپلو اصحابو ته وفرمايل: «إِنَّكُمْ سَتَرَوْنَ رَبَّكُمْ كَمَا تَرَوْنَ هَذَا الْقَمَرَ لَا تُضَامُّونَ فِي رُؤْيَتِهِ».[1]

١ ـ صحيح البخاري ت - (١ / ٥٦٥)

ژباړه: تاسو به خپل رب (پروردګار) خامخا وینئ (په جنت کې) لکه څرنګه چې تاسو دغه د
څوارلسمې سپوږمۍ وینئ او په لیدلو کې يې یو د بل مزاحم نه واقع کیږئ.

همدارنګه نبي کریم ﷺ فرمايي: [إِذَا دَخَلَ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَنَّةَ - قَالَ - يَقُولُ اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى تُرِيدُونَ شَيْئًا أَزِيدُكُمْ فَيَقُولُونَ أَلَمْ تُبَيِّضْ وُجُوهَنَا أَلَمْ تُدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَتُنَجِّنَا مِنَ النَّارِ - قَالَ - فَيَكْشِفُ الْحِجَابَ فَمَا أُعْطُوا شَيْئًا أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنَ النَّظَرِ إِلَى رَبِّهِمْ عَزَّ وَجَلَّ][1]

ژباړه: کله چې جنتیان جنت ته لاړشي، الله جل جلاله به ورته وايي تاسې څه غواړئ چې درته زیات يې کړم، دوی به ځواب ورکړي، آیا تا زموږ مخونه نه دي سپین کړي او جنت ته دې نه یو داخل کړي، له اور څخه دې نجات نه دی راکړی (یعنې تر دې زیات به موږ څه وغواړو)؛ نو الله جل جلاله به ورته پرده پورته کړي، (د جنتیانو له مخ نه؛ نو دوی به الله جل جلاله ته وګوري)؛ نو دوی ته (د جنت په ټولو نعمتونو کې) د الله جل جلاله تر لیدلو ډیر ښه نعمت نه دی ورکړل شوی.

د الله تعالی د دې لیدلو کیفیت او هیئت، نږدېوالی او لرېوالی ټول موږ ته معلوم نه دي، يوازې الله تعالی ته معلوم دي او موږ په هغه ډول ایمان پرې لرو څرنګه چې په نص سره ثابت شوی وي او د کیفیت د بیانولو کوښښ يې نه کوو.

## ارزونه:

۱ـ آیا جنتیان الله تعالی لیدلای شي؟

۲ـ په جنت کې د الله تعالی لیدل په څه شي ثابت دي؟

۳ـ په آیت کې د "الحسنى" او "زيادة" معناګانې واضح کړئ.

## کورنۍ دنده:

د الله تعالی د لیدلو په هکله د اهل سنت د نظر لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

---

۱ـ صحیح مسلم، ج ۱ ص ۱۱۲.

# ايمان

والإيمانُ هو الإقرارُ، والتصديقُ.
وإيمانُ أهلُ السَّماءِ، والأرضِ لايَزِيدُ، ولايَنقُصُ مِن جِهَةِ المؤمَن بِهَا، ويَزِيدُ، وَيَنقُصُ مِن جِهَةِ اليَقِينِ، وَالتَّصدِيقِ.
وَالمؤمِنُونَ مُستَوُون في الإيمانِ، والتوحيدِ، مُتَفَاضِلُونَ في الأعمالِ.

ژباړه: او ايمان اقرار او تصديق ته ويل کېږي.

او د آسمان او ځمکې د اوسيدونکو ايمان د (مؤمن به) له پلوه نه زياتيږي او نه کميږي. د تصديق او يقين له پلوه کميږي هم او زياتيږی هم.

او ټول مؤمنان په ايمان او توحيد کې سره برابر دي؛ خو په عملونو کې يو له بل څخه غوره والی لري.

## شرح

ايمان په لغت کې تصديق او باور ته ويل کېږي، الله ﷻ د يوسف عليه السلام د ورونو وينا نقل کوي او فرمايي: ﴿...وَمَا أَنتَ بِمُؤْمِنٍ لِّنَا﴾ [يوسف، ۱۷]

ژباړه: ته په موږ باور نه کوې.

په اصطلاح کې ايمان د زړه تصديق او د ژبې اقرار ته ويل کېږي. د چا په زړه کې چې تصديق پيدا شو، خو له عذر پرته يې په ژبه اقرار ونه کړ، د الله ﷻ په نزد مؤمن نه دی، همدارنګه که چا په ژبه اقرار وکړ، خو په زړه کې يې باور نه درلود، هغه هم مؤمن نشي کېدای.

## د ایمان زیاتوالی او کموالی

ایمان د مؤمن به په نسبت، یعنې هغه امور چې ایمان پرې واجب دی، نه زیاتېږي او نه کمېږي؛ نو ټول مؤمنان په اصل تصدیق (ایمان) کې سره برابر دي، ځکه (مؤمن به) هغه څه چې ایمان پرې واجب دی ثابت دي نه زیاتیږي او نه کمیږي چې په نص کې یې هم یادونه شوې ده، خو که کوم سړی په ځینو مؤمن به شیانو ایمان راوړي او په ځینو یې را نه وړي؛ مؤمن نه دی او نه یې دا د ایمان کموالی ګڼل کېږي، بلکې ایمان ترې په بشپړه توګه زایل کېږي، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتَابِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ...﴾ [البقرة،٨٥].

ژباړه: آیا تاسې په ځینې کتاب ایمان راوړئ او په ځینې کفر کوئ (یعني دا ایمان نه دی).

**په اعمالو کې غوره والی**: مؤمنان ټول په ایمان او توحید کې سره برابر دي او یو له بل څخه غوره والی نه لري، خو په عملونو کې بیا یو پر بل باندې غوره والی لري. هغه څوک چې نېک اعمال یې ډېر وي له هغه چا څخه چې نېک اعمال یې کم وي، غوره دی، الله تعالی فرمايي: ﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾ [الحجرات : ١٣]

ژباړه: په حقیقت کې د الله په نزد له تاسې نه تر ټولو زیات عزتمند هغه څوک دی، چې په تاسې کې تر ټولو زیات پرهیزګار وي.

### ارزونه

١ـ ایمان تعریف کړئ.

٢ـ آیا ایمان زیادت او نقصان قبلوي؟

٣ـ آیا مؤمنان په ایمان کې سره برابر دي؟

٤- آیا که څوک په ځینو آیتونو ایمان راوړي او په ځینو ایمان رانه وړي، مؤمن ګڼل کېږي؟

### کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د لوست لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکي.

# د ایمان او اسلام ترمنځ توپیر

والاسلامُ هُوَ التسليم، والإنقيادُ لأوَامِرِ اللهِ تعالى.

فَمِن طَرِيقِ اللُّغةِ فَرقٌ بَين الإسلامِ، والإيمانِ، وَلكن لا يَكُونُ إيمانٌ بِلا اسلامٍ، ولا يُوجَدُ إسلامٌ بلا إيمانٍ، وَهُمَا كَالظَّهرِ مَع البطنِ.

وَالدِّينُ اسمٌ واقعٌ على الإيمانِ، والإسلامِ، والشرائعِ كلها.

ژباړه: اسلام د الله جَلَّ جَلَالُهُ اوامرو ته تسلیم او غاړې ایښودلو ته وايي.

د لغت له مخې د اسلام او ایمان ترمنځ توپیر شته؛ خو ایمان له اسلام پرته او اسلام له ایمان پرته نه موجودیږي او دواړه د یو شي ظاهر او باطن غوندې دي.

او دین هغه نوم دی چې پر اسلام، ایمان او د شریعت په ټولو قوانینو یې اطلاق کیږي.

## شرح

## د اسلام او ایمان ترمنځ توپیر

د لغت له مخې ایمان په زړه باور کولو او اسلام انقیاد او غاړه ایښودلو ته ویل کیږي، د تصدیق او باور محل یوازې زړه دی او ژبه د زړه ژباړونکې ده، خو تسلیم په زړه، ژبه او ټولو اندامونو کیږي.

د اصطلاح له مخې اسلام او ایمان کله مترادف او کله مغایر معناوې لري:

۱ـ د ترادف حالت: کله د ایمان او اسلام معنا مترادف راځي یعنې په یو معنا راځي. که هر یو یوازې ذکر شي، نو ټول شریعت (عقاید، احکام او اخلاق) پکې راځي، په دې حالت کې اسلام او ایمان له یو بل سره لازم او ملزوم دي، یعنې له ایمان پرته اسلام او له اسلام پرته ایمان منځ ته نشي راتلای. الله تعالی فرمایي: ﴿وَقَالَ مُوسَى يَا قَوْمِ إِنْ كُنْتُمْ آمَنْتُمْ بِاللَّهِ فَعَلَيْهِ تَوَكَّلُوا إِنْ كُنْتُمْ مُسْلِمِينَ﴾[یونس: ۸۴]

ژباړه: موسیٰ خپل قوم ته وويل: ((اې: خلکو! که تاسې په رښتيا سره پر الله ايمان لرئ، نو پر هغه توکل وکړئ که مسلمانان يئ))

همدارنګه رسول اکرم ﷺ موږ ته اسلام داسې معرفي کوي: ﴿بُنِىَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ وَإِقَامِ الصَّلاَةِ وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ وَحَجِّ الْبَيْتِ وَصَوْمِ رَمَضَانَ﴾(۱)

ژباړه: اسلام په پنځو شيانو بنا شوی دی، پر دې باندې ګواهي ورکول چې له يو الله تعالی پرته بل څوک د عبادت وړ نشته، محمد ﷺ د الله تعالی بنده او پيغمبر دی. د لمانځه ادا کول دي، د زکات ورکول دي، د الله تعالی د بيت حج کول دي او د رمضان د مياشتې روژه نيول دي.

۲ـ د تغاير حالت: کله د ايمان او اسلام تر منځ توپير موجود وي، په دې حالت کې اسلام د شريعت په ظاهر باندې اقرار کول او عمل کولو ته ويل کېږي. ايمان د شريعت په ټولو احکامو د زړه باور کولو ته ويل کېږي. الله ﷻ فرمايي: ﴿قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُل لَّمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِن قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ﴾[الحجرات،۱٤].

ژباړه: اعرابو وويل، موږ ايمان راوړی، ته ورته ووايه، چې داسې مه وايئ، چې موږ ايمان راوړی دی، بلکې ووايئ، چې اسلام مو راوړی دی او ايمان لا ستاسې زړونو ته نه دی داخل شوی.

همدارنګه رسول اکرم ﷺ د جبرئيل عليه السلام په ځواب کې د اسلام په هکله داسې وفرمايل: [الإِسْلاَمُ أَنْ تَشْهَدَ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ وَتُقِيمَ الصَّلاَةَ وَتُؤْتِىَ الزَّكَاةَ وَتَصُومَ رَمَضَانَ وَتَحُجَّ الْبَيْتَ إِنِ اسْتَطَعْتَ إِلَيْهِ سَبِيلاً].

ژباړه: اسلام دې ته ويل کېږي چې ګواهي ورکړې چې له يو الله تعالی پرته بل هېڅوک د عبادت وړ او لايق نشته، او محمد ﷺ د الله تعالی رسول دی، لمونځ په ښه ډول ادا کړې، زکات ورکړې، د رمضان د مياشتې روژه ونيسې او که دې توان درلود نو د بيت الله حج وکړې.

وروسته يې د جبرئيل عليه السلام په ځواب کې د ايمان په هکله وفرمايل: ﴿أَنْ تُؤْمِنَ بِاللَّهِ وَمَلاَئِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ﴾.(۲)

---

۱ - صحيح مسلم - (۱ / ۳٤)

۲ - صحيح مسلم - (۱ / ۲۸)

ژباړه: (ايمان دې ته ويل کېږي) چې ته ايمان راوړې پر الله تعالی، د هغه پر ملايکو، د هغه پر کتابونو، د هغه پر رسولانو، د قيامت پر ورځ، او پر دې ايمان ولرې چې د خير او شر ټولو اندازه د الله تعالی له لوري ده.

**دين**[1]: د دين له لفظ څخه کله ايمان مراد وي او کله اسلام او کله ناکله له دين څخه د اسلامي شريعت ټوله محتوا مراد وي.

ايمان او اسلام دواړو ته ويل کېږي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا﴾ [النصر،٢].

ژباړه: او ته به وينې چې خلک د الله ﷻ په دين کې ډلې ډلې ننوځي.

**ارزونه**:

١ـ اسلام تعريف کړئ.

٢ـ د ايمان او اسلام لغوي معناوې وليکئ.

٣ـ ايمان او اسلام کله مترادف او کله متغاير وي. هره يوه له دې دواړو اړيکو څخه روښانه کړئ.

**کورنی دنده**:

د ايمان او اسلام په هکله يوه مقاله وليکئ.

---

١. دين: په عربي ژبه کې په څلورو معناوو راځي: ١.اطاعت او فرمان منـنه. ٢. حاکميت ٣. قضاوت ٤. بدله او جزاء، خو په شرعي اصطلاح کې علماوو دين داسې تعريف کړی: دين عبارت دی له هغه څه څخه چې الله تعالی وضع کړي خو هوښياران په خپل اختيار سره په دنيا او آخرت کې د صلاح او کاميابۍ په لوري رهنمايي کړي.

# د الله تعالى معرفت او عبادت

نَعرِفُ الله تعالى حقَّ معرفته كما وصف نفسَه في كتابهِ بجميع صِفَاتِهِ.
وليس يَقدِرُ أحد أن يعبد اللهَ حق عبادتهِ كما هو أهلٌ له ولكِنَّهُ يَعبُدُهُ بأمرِهِ كما أمرَهُ (في كتابه وسنة رسوله).
ويستوي المؤمنون كُلُّهُم في المعرفةِ واليقينِ والتوكلِ والمحبةِ والرضاءِ والخوفِ والرجاءِ والإيمان في ذلك ويتفاوتونَ فيما دون الإيمان في ذلك كُلِّهِ.
واللهُ تعالى مُتَفَضِّلٌ على عِبَادِهِ، عادلٌ قَد يُعطي مِن الثَّواب أضعَافَ مَا يَستَوجِبُهُ العَبدُ تَفَضُّلا مِنهُ وقد يُعَاقِبُ على الذَّنبِ عَدلاً مِنهُ وَقَد يَعفُو فَضلا مِنهُ.

ژباړه: موږ الله جَلَّ جَلَالُهُ په حقه بڼه پېژنو، په ټولو هغو صفاتو سره يې پېژنو، چې خپل ځان يې په قرآن کريم کې پرې موصوف کړی دی.

هېڅوک دا وس نه لري چې د الله جَلَّ جَلَالُهُ له شان سره سم د هغه عبادت وکړي؛ خو په امر يې عبادت کوي، لکه څرنګه چې يې په قرآن کريم او نبوي احاديثو کې ورته امر کړی دی.

ټول مؤمنان په يقين، توکل، محبت، رضا، وېره، هيله او ايمان کې سره برابر دي او تر ايمان کښته په نورو ټولو چارو کې سره توپير لري.

الله جَلَّ جَلَالُهُ پر خپلو بندګانو ډېر مهربانه او عادل دی. د خپلې مهربانۍ له مخې ورته کله د نيکو کارونو بدله څو چنده ورکوي او کله د خپل عدل له مخې د ګناه په اندازه د هغه سزا ورکوي او کله د خپلې مهربانۍ له مخې د ګناه ښښنه هم ورته کوي.

## د الله تعالى پېژندل

زموږ لپاره د الله جَلَّ جَلَالُهُ پېژندل لازم دي، په ټولو هغو صفاتو يې بايد وپېژنو چې الله تعالى خپل ځان پرې موصوف کړی او يا په احاديثو کې د ده لپاره ثابت دي.

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَلِلَّهِ الْأَسْمَاء الْحُسْنَى فَادْعُوهُ بِهَا وَذَرُواْ الَّذِينَ يُلْحِدُونَ فِي أَسْمَآئِهِ سَيُجْزَوْنَ

﴿مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴾.[الاعراف: ١٨٠]

ژباړه: او د الله ﷻ لپاره ښايسته نومونه دي، په هغو نومونو سره يې راوبلئ او هغه خلک پريږدئ، چې د الله ﷻ په نومونو کې الحاد (کوږ والی) کوي، هغوی ته به ډېر ژر د هغوی د (ناوړو) عملونو بدله ورکړشي.

په حديث کې له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول اکرم ﷺ **فرمايلي دي**: [إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلاَّ وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ.][1]

ژباړه: د الله ﷻ نهه نوي نومونه دي، چا چې زده کړل او د هغو د مفهوم په مقتضی يې عمل وکړ، جنت ته به لاړ شي.

له دغه حديث څخه دا نه لازميږي چې د الله ﷻ نومونه په نهه نوي کې منحصر دي، بلکې له دې پرته نور نومونه هم لري، نو له دې امله امام صاحب وويل: چې په ټولو صفاتو سره د الله ﷻ پېژندل په کار دي او د عدد تعين يې ونه کړ.

## د الله تعالی د بنده ګۍ حق

لکه څنګه چې امام ابوحنيفه وويل: (هېڅوک دا توان نه لري چې د الله تعالی له شان سره سم د هغه عبادت وکړي) نو له دې امله الله تعالی هېڅوک له خپل وس څخه پورته نه دي مکلف کړي، بلکې د هغوی له توان سره سم يې پرې تکليفونه وضع کړي دي، الله ﷻ فرمايي: ﴿لاَ يُكَلِّفُ اللّهُ نَفْسًا إِلاَّ وُسْعَهَا﴾[البقره: ٢٨٦].

ژباړه: الله ﷻ يو نفس له خپل وس څخه پورته نه دی مکلف کړی.

بنده بايد په بشپړ ډول د الله تعالی مطيع واوسي، په هر ځای او هر وخت کې د الله ﷻ او د هغه د رسول اطاعت وکړي او په دې کې د تغير او تبديل اختيار نه لري.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَرَبُّكَ يَخْلُقُ مَا يَشَاء وَيَخْتَارُ مَا كَانَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ سُبْحَانَ اللَّهِ وَتَعَالَى عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾. [القصص: ٦٨]

ژباړه: ستا رب هغه څه پيداکوي، چې هغه يې غواړي او پخپله خوښه (ستاسي لپاره) حکمونه غوره کوي؛ د خلکو لپاره په حکمونو بدلولو کې څه واک نشته، الله ﷻ پاک دی او له هغه څه

---

١ ـ مسلم: ج٨ص٦٣.

نه يې مرتبه ډېره لوړه ده، چې مشركان يې ورسره برخه وال بولي.

## د عبادت تعريف

عبادت په لغت كې خضوع او عاجزۍ ته ويل كېږي. هر عمل چې له بې حده مينې او هيلو سره يو ځاى شي عبادت ګڼل كېږي.

په اصطلاح كې عبادت د هر هغه څه جامع نوم دى، چې الله تعالى يې خوښوي او په هغه يې امر كړى وي.

د عبادت اصطلاحي تعريف ته په كتلو سره روا عادتونه، لكه: خوړل، څښل او داسې نور كه چېرې د الله تعالى د اوامرو پر ځاى كولو او د الله تعالى د پيروي كولو په نيت تر سره شي هم عبادت ګڼل كېږي.

**د عبادت د قبلېدلو شرطونه**: عبادت په اسلام كې هغه وخت د منلو وړ دى چې دوه شرطونه په كې يو ځاى شوي وي:

١- د نيت اخلاص.

٢- له محمدي شريعت سره سمون.

په عبادت كې د پورتنيو شرطونو شتون ضروري دى، لكه څرنګه چې الله تعالى فرمايي: ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾ [الكهف: ١١٠]

ژباړه: نو څوك چې له خپل پروردګار سره د يو ځاى كېدو په هيله وي هغه ته په كار ده چې ښه عمل وكړي او په بندګۍ كې له خپل رب سره بل څوك شريك نه كړي.

علماء وايي له نېك او صالح عمل څخه مراد د نبوي شريعت له ظاهر سره د هغه مطابقت او په عبادت كې له شريك نه نيولو څخه مراد اخلاص او له ريا څخه ځان ژغورل دي.

دا چې الوهيت د الله تعالى له ځانګړتياوو څخه ګڼل كېږي، نو عبادت او بندګي له الله تعالى څخه پرته بل چا ته روا نه ده او غير الله ته يې كول شرك دى.

د الله ﷻ پيغمبران توحيد او د يو الله تعالى بندګۍ ته د خلكو د رابللو لپاره رالېږل شوي دي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلَّا نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدُونِ﴾. [الانبياء: ٢٥].

ژباړه: ما ستا نه مخکې پیغمبران نه دي لېږلي، مګر د دې خبرې وحې مې ورته کړې چې له ما پرته بل څوک د عبادت وړ نشته؛ نو زما عبادت وکړئ.

مشرکانو هم د الله جل جلاله د ربوبیت په توحید باور درلود او الله تعالی یې د جهان خالق او رازق ګڼلو، خو انحراف یې د الوهیت په توحید کې موجود و، لکه چې الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَلَئِن سَأَلْتَهُم مَّنْ خَلَقَهُمْ لَيَقُولُنَّ اللَّهُ فَأَنَّى يُؤْفَكُونَ﴾[الزخرف،۸۷].

ژباړه: اوکه ته له هغوی پوښتنه وکړې چې چا پیداکړي دي، نو پخپله به ووايي چې الله، نو کوم لوري ته دوی اړول کېږي.

## د الله جل جلاله په پېژندنه کې مؤمنان سره برابر دي

ټول مؤمنان د الله جل جلاله د معرفت، توکل، محبت، د الله جل جلاله پر قضا رضایت، د هغه له غضب څخه په وېره او د رحمت په امید کې سره برابر دي، څکه دا ټول په یقین، باور او اخلاص پورې اړه لري او د یقین، باور او اخلاص په جوهر کې زیاتوالی او کموالی نه راځي او له دې څخه پرته په اعمالو کې سره متفاوت دي.

### ارزونه

۱ـ آیا مؤمنان په اصل معرفت کې سره برابر دي؟

۲ـ آیا د الله جل جلاله اسماء یوازې نهه نوي دي؟

۳ـ مؤمنان باید د الله تعالی عبادت څرنګه وکړي؟

### کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د لوست په اړه یوه مقاله ولیکي.

# د عالم برزخ حالتونه

وسؤالُ منكرٍ، ونكيرٍ حقٌ كائنٌ في القبرِ.
وإعادةُ الرُّوحِ إلى الجَسَدِ في قبرِهِ حَقٌ.
وضَغطَةُ القبرِ، وَعَذابُهُ حقٌ كائنٌ للكفارِ كُلِّهِم، ولِبَعضِ عُصَاةِ المؤمنينَ حقٌ جائزٌ.
وَكُلُّ شيءٍ ذكَرَهُ العلماءُ بالفارسيةِ من صفاتِ الله عزَّ اِسْمُهُ فجائزٌ القول به سِوَى اليَدِ بالفارسِيَّةِ وَيَجُوزُ أن يُقالَ (بروى خدا) أي عزَّ وجلَّ بلا تَشبيهٍ، ولا كَيفِيَّةٍ.

ژباړه: په قبر کې د منکر او نکير پوښتنه حق او هرو مرو کېدونکې ده.
په قبر کې بدن ته د روح راګرځېدل حق دي او د ټولو کفارو لپاره د قبر ټينګ نيول او عذاب حق دی او د ځينو ګناهګارو مؤمنانو لپاره د قبر عذاب حق او جايز دی.
د الله تعالی هغه صفات چې علماؤ فارسي ژبې ته ژباړلي تلفظ يې روا دی، خو دا له (يد) شخه پرته (په فارسي کې بايد دست ورته ونه ويل شي) خو دا روا ده چې وويل شي ( د خدای په روی خو تشبيه او کيفيت به يې نه څرګندوي.

## شرح

کله چې انسان مړ شي، نو د آخرت لومړي پړاو ته ننوځي، چې برزخ ورته ويل کېږي.

**برزخ**: په لغت کې د دوو شيانو تر منځ پردې ته ويل کېږي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿بَيْنَهُمَا بَرْزَخٌ لَّا يَبْغِيَانِ﴾ [الرحمن ، ٢٠].(١)

ژباړه: د دواړو در يابونو (تريو او خوږ) ترمنځ يوه پرده ده، چې دواړه له دغې پردې څخه تجاوز نه کوي.

**په اصطلاح کې**: برزخ د دنيا او آخرت تر منځ پردې او پړاو ته ويل کېږي. دا مرحله له مرګ څخه پيل او تر قيامته پورې دوام مومي، الله تعالی فرمايي: ﴿وَمِن وَرَائِهِم بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ

١ ـ اصول الدين الاسلامى صفحه ٣٨٠.

﴿يُبْعَثُونَ﴾[المؤمنون،١٠٠].

ژباړه: او تر دوی اخوا یوه پرده ده ترهغې ورځې پورې چې هغوی له مرګه وروسته بېرته را پورته شي.

**د نکير او منکر پوښتني**: نکير او منکر دواړه هغه ملايکې دي، چې مړي ته په قبر کې راځي او لاندې پوښتنې ترې کوي:

١- ستا رب څوك دی؟

٢- ستا دين کوم دی؟

٣- ستا نبي څوك دی؟

که مړی مؤمن وي ځواب ورکوي: رب مې الله ﷻ دی، دين مې اسلام دی او نبي مې محمد ﷺ دی. ملايک به په جنت کې د ده ځای وروپېژني او که منافق او يا کافر وي هغه ځواب ورکوي، (لا أدري) يعنی زه نه پوهېږم.

نو ملايک به يې د اوسپنې په ګرزونو ووهي او داسې چيغې به وکړي چې له انسانانو او پېريانو پرته يې نور ټول موجودات اوري.[١]

## بدن ته د روح راتګ

الله ﷻ په قبر کې مړي ته يو ډول ژوند وربښي، چې له امله يې مړی په قبر کې د عذاب يا نعمت احساس وکړي؛ چې دا ژوند په قرآن او سنت ثابت شوی خو موږ يې په څرنګوالی نه پوهيږو.[٢]

## د قبر ضغطه او تنګوالی

د قبر ټينګ نيول او تنګوالی حق دی او پر دې باندې يقين او باور کول واجب دي. نبي کريم ﷺ په هغه حديث کې چې عائشې رضي الله عنها ترې نقل کړی فرمايي، بې شکه د قبر لپاره ضغطه (ټينګ نيول) شته که څوك ترې بچ کېدای شوای؛ نو سعد بن معاذ رضي الله عنه به ترې بچ شوی وای.[٣]

١ - صحيح البخاري.

٢ ـ په دې اړه شرح عقيدة الطحاوية: ٢٦٧ مخ وګوره.

٣ ـ په دې اړه تهذيب الاثار د امام طبرى: ٣٢٨ حديث وګوره.

## د قبر عذابونه او نعمتونه

په قبر کې عذاب او نعمت په قرآن کریم او حدیث شریف سره ثابت دی:

**قرآن کریم**: الله تعالی د فرعونیانو په اړه فرمایي: ﴿النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ﴾.[غافر، ٤٦].

ژباړه: پر دوی باندې سبا او بېگا په (قبر کې) اور وروړاندې کېږي او په کومه ورځ، چې قیامت قایم شو، نو (ملایکو ته به وویل شي)، چې د فرعون آل سخت عذاب ته ننباسئ.

الله تعالی په دې آیت کې د فرعون آل په دوه ډوله عذابونو وېرولي دي. دویم ډول یې په لومړي ډول عطف کړی دی، چې عطف پخپله په مغایرت دلالت کوي، ویلي یې دي، دویم ډول عذاب به په قیامت کې ورته راځي، له دې څخه دا جوتیږي چې لومړی ډول عذاب به د مرگ او قیامت تر منځ ورکول کېږي چې هغه د قبر له عذاب څخه پرته بل څه نه دي.

**حدیث شریف**: نبي کریم ﷺ فرمایي: (إنما القبر روضة من رياض الجنة أو حفرة من حفر النّار).(١)

ژباړه: بې شکه قبر د جنت له باغچو څخه یوه باغچه او یا د جهنم له کندو څخه یوه کنده ده.

## ارزونه

١- د برزخ لغوي او اصطلاحي معنی ذکر کړئ.

٢- نکیر او منکر څوک دي او په قبر کې څه پوښتنې مطرح کوي؟

٣- د قبر د نعمت او عذاب په اړه د قرآن کریم او حدیث څخه دلایل ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

د قبر د احوالو په هکله یوه مقاله ولیکئ چې تر لسو کرښو کمه نه وي.

---

١ ـ دا حدیث امام ترمذي په ٦٤٦٢ شمیره باندې راوړی دی.

## شفاعت

وَشَفَاعَةُ الأنبياءِ عليهم السلام حقٌ، وَشَفَاعَةُ النبي صلى الله عليه وسلم للمؤمِنِين المُذنِبين، ولأهلِ الكَبَائِرِ منهم المُستَوجِبينَ العقابَ حقٌ ثابتٌ.

ژباړه: د انبياء عليهم السلام شفاعت حق دی او د نبي کريم ﷺ شفاعت د ګناهګارو مؤمنانو لپاره، چې د دوزخ وړګرځېدلي وي، حق او ثابت دی.

### شرح

**د شفاعت تعریف**: شفاعت په لغت کې وساطت ته ويل کېږي او په اصطلاح کې شفاعت له الله تعالی څخه د هغه چا په هکله د ښېنې غوښتل دي، چې د الهي عذاب وړګرځيدلی وي.

**د شفاعت ډولونه**: شفاعت په دوه ډوله دی:

**مقبول شفاعت**: دا شفاعت د مؤمنانو لپاره ثابت دی او د لاندې شرطونو لرونکی دی:

الف: شفاعت کوونکي ته د الله ﷻ اجازه (اذن) چې شفاعت وکړي؛ ځکه د الله له اجازې پرته څوک د چا لپاره شفاعت نشي کولای.

ب: هغه څوک چې دده په هکله شفاعت کيږي هغه  به موحد وي؛ ځکه مشرک او کافر له شفاعت څخه برخمن کيدای نشي.

**مردود شفاعت**: هغه شفاعت دی چې ذکر شوي شرطونه پکې راټول شوي نه وي.

مقبول شفاعت، بيا په دوه ډوله دی: عام شفاعت او خاص شفاعت.

**عام شفاعت**: عام شفاعت د انبياوو، اولياوو او شهداوو، صديقينو او صالحينو شفاعت دی، د ځينو ګنهګارو مؤمنانو لپاره د قيامت په ورځ چې د الله د عفوې وړ وګرځي او د دوزخ له اوره نجات ومومي او جنت ته ولاړ شي.

**خاص یا ستر شفاعت**:

دا شفاعت يوازې نبي کريم ﷺ ته ورکړل شوی چې په حديث شريف کې ورته «مقام محمود» ويل شوي دي.

د صحیحو او مهمو احادیثو په اساس د قیامت په ورځ به خلکك د حساب او کتاب د پیل لپاره ډیر وخت سرګردانه انتظار وباسي او هر امتي به له خپل پیغمبر څخه دا غوښتنه کوي چې په الهي دربار کې لاس په دعا شي او الله ته زارۍ وکړي چې الله پر مخلوقاتو رحم وکړي او د دوی حساب او کتاب پیل کړي، خو هر یو به معذرت وړاندې کوي او وايي به، د اسلام پیغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ ته ولاړ شئ. په پای کې به ټول نبي کریمﷺ ته مراجعه وکړي، نبي کریمﷺ به سر په سجده شي د الله جل جلاله ثنا او صفت به وکړي او بیا به له الله جل جلاله څخه غوښتنه وکړي. الله جل جلاله به ورته ووايي سر پورته کړه، غوښتنه وکړه، ستا غوښتنه د قبلیدو وړ ده، څه چې غواړې تا ته به درکول کېږي. په دې سره به د شفاعت دروازه پرانستل شي او ټول پیغمبران، ملایکې، ښه بنده ګان او شهیدان به شفاعتونه پیل کړي، چې دا شفاعتونه به د ځینو خلکو لپاره جنت ته د تلو، د ځینو لپاره د عذاب د تخفیف او د ځینو لپاره د درجو لوړېدو په اړه وي[1].

## ارزونه:

١- د شفاعت لغوي او اصطلاحي معنی څه ده؟ بیان یې کړئ.

٢- شفاعت په څو ډوله دی؟

٣- د مقبول شفاعت شرطونه څو او کوم دي؟

٤- شفاعت عظمی (ستر شفاعت) څرنګه دی او څوک یې کولای شي؟

## کورنۍ دنده:

د نبي کریمﷺ د شفاعت په اړه یوه مقاله ولیکئ چې له پنځو کرښو لږه نه وي.

---

١. لکه په دې اړه بخاری او مسلم کې حدیث راغلی دی

# ميزان او حوض

وَوَزنُ الأعمالِ بالمِيزانِ يَومُ القِيَامَةِ حقٌ، وحوضُ النبي عليه الصلاة والسلام حقٌ.

ژباړه: او د قيامت په ورځ پرتله باندې د عملونو تلل حق دي او همدا رنګه د نبي کريمﷺ حوض حق دی.

## شرح

### ۱ - د اعمالو تلل

الله ﷻ د قيامت په ورځ د خپلو بندګانو د اعمالو د تللو لپاره تله ږدي، عملونه يې پرې تلي او د ټولو خلکو په مخکې يې عملونه ښکاره کوي، د هغې تلې کيفيت موږ ته معلوم نه دی خو ايمان او باور پرې لرو.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا﴾.[الانبياء،٤٧].

ژباړه: او موږ به د قيامت په ورځ د انصاف تلې کېږدو؛ نو پر هېچا به هم تېرى نه کېږي.

همدارنګه نبيﷺ فرمايي: دوې کلمې دي، چې په ژبه سپکې، د الله ﷻ خوښې او په تله کې درنې دي؛ يو «سبحان الله وبحمده» او بل «سبحان الله العظيم».[1]

### ۲ـ د نبي کريمﷺ حوض

الله ﷻ به په قيامت کې زموږ پيغمبر حضرت محمدﷺ ته، ډير لوړ امتيازونه ورکوي. له هغې نه يو د هغه حوض دی، چې د کوثر په نامه يادېږي.

**کوثر**: د نبي کريمﷺ حوض دی چې د اوبو رنګ يې له سپينو زرو ښخه سپين دی، اوبه يې له واورې ښخه يخې، تر شاتو خوږې دي او له مشکو خوشبويه دي او ډېر پراخ دی، چې اوږدوالی او سور يې سره برابر دي او هره زاويه يې د يوې مياشتې د مزل په اندازه ده.

۱ ـ دا حديث امام بخارى په ٦٠٤٣ شميره او مسلم په ٧٠٢١ شميره راوړی دي.

نبيﷺ فرمايي: عَنِ ابْنِ أَبِى مُلَيْكَةَ قَالَ قَالَ عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– « حَوْضِى مَسِيرَةُ شَهْرٍ وَزَوَايَاهُ سَوَاءٌ وَمَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ الْوَرِقِ وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلاَ يَظْمَأُ بَعْدَهُ أَبَدًا ».(۱)

زما حوض د يوې مياشتې د مزل په اندازه پراخه دی او ټولې زاويې يې سره برابرې دي، اوبه يې له سپينو زرو څخه ډيرې سپينې او بوی يې له مشکو څخه ډير خوشبويه دی. پيالې يې د آسمان د ستورو په شان دي، چا چې ترې اوبه وڅښلې هېڅکله به تږی نشي.

دې حوض له جنت څخه سرچينه اخيستې ده او د حشر په ميدان کې دی، څوک چې د نبي کريمﷺ د شفاعت وړ وګڼل شي هغه به ورڅخه برخمن کيږي. الله تعالی دې موږ د ده له شفاعت او د کوثر له اوبو څخه نه بې برخې کوي.

## ارزونه:

۱- د انسانانو عملونه څه وخت تلل کيږي؟

۲- د اعمالو د تللو د اثبات لپاره دوه نقلي دليلونه ذکر کړئ.

۳- د نبي کريمﷺ د حوض د اثبات لپاره دليل ذکر کړئ.

## کورنی دنده:

د کوثر د حوض د صفاتو په هکله په خپلو کتابچو کې يوه لنډه مقاله وليکئ.

---

۱- رواه مسلم

## حساب، جنت او دوزخ

والقصاصُ فيما بينَ الخصوم بالحسناتِ يوم القيامةِ حقٌّ، وإن لم تكن لهم الحسناتُ فَطَرحُ السَّيئاتِ عليهم حقٌّ جائزٌ.
والجنةُ، والنارُ مخلوقتانِ لا تفنيانِ أبداً، ولا يفنى عقابُ اللهِ تعالى، وثوابُه سرمداً.
واللهُ تعالى يَهدِي مَن يشاءُ فضلاً منهُ، وَيُضِلُّ مَن يَشاءُ عَدلاً منهُ، وإضلالُهُ خُذلانُهُ.
وتفسير الخُذلانِ أن لا يُوَفِّقَ العَبدُ إلى مَا يَرضَاهُ، وَهُوَ عَدلٌ منهُ، وكذا عقوبةُ المخذولِ على المَعصِيَّةِ.
وَلا يَجُوزُ أن نَقُولَ إنَّ الشيطانَ يَسلُبُ الإيمانَ مِنَ العَبدِ المؤمنِ قَهراً وجَبراً، ولكن نَقُولُ العَبدُ يَدَعُ الإيمانَ فَحِينَئِذٍ يَسلُبُهُ مِنهُ الشَّيطَانُ.

ژباړه: د قیامت په ورځ له ظالم څخه د نیکیو اخیستل او مظلوم ته یې ورکول حق دي، که د چا نیکۍ نه وي؛ نو د مقابل لوري د ګناهونو باریدل پرې حق او جایز دي.

جنت او اور (دوزخ) همدا اوس موجود دي، چې تل به وي او هېڅکله له منځه نه ځي، همدارنګه د الله ﷻ له لوري ثواب او عذاب هم له منځه نه ځي.

الله ﷻ چې چا ته وغواړي د مهربانۍ له مخې هغه ته لارښوونه کوي، څوک چې وغواړي ګمراه کوي يې. ګمراه کول د خذلان په معنا دي.

او د خذلان معنی دا ده چې الله تعالی بنده ته د هغه کار توفیق نه ورکوي په کوم چې الله تعالی خوښیږي. دا د الله تعالی عدل دی. همدارنګه ګناهګار ته جزا ورکول د الله ﷻ له خوا عدل دی.

دا روا نه دي چې وویل شي: شیطان له بنده نه په زور ایمان سلبوي، بلکې وایو، چې کله بنده ایمان پرېږدي؛ نو بیا یې شیطان ترې سلبوي.

## د قیامت په ورځ د قصاص اخیستل

د قیامت په ورځ د الله په دربار کې ظالمان او متکبران د خپلو ناوړو کارونو په سزا رسیږي او له دوی څخه د مظلومانو او غمځپلو لپاره قصاص اخیستل کیږي، لکه څنګه چې د نبي کریم ﷺ له احادیثو څخه څرګندیږي د قیامت په ورځ به د ظالم نیکۍ را واخیستل شي او مظلوم ته به ورکړل شي او که د ظالم نیکۍ نه وي د مظلوم ګناهونه به ظالم اخلي پدې اړه نبي کریم ﷺ فرمايي:

(که په چا د چا څه حق وي؛ نو نن (په دنیا کې) دې ترې ځان خلاص کړي، مخکې له دې، چې بیا به نه دینار وي او نه درهم. که نېک عمل یې وي؛ نو د مظلوم د حق په اندازه به ترې اخیستل کېږي او که نه وي؛ نو د چا چې پرې حق وي د هغه ګناهونه به پرې بارېږي). [1]

## جنت او دوزخ همدا اوس شته او تل به وي

هغه (جنت او دوزخ) دواړه همدا اوس موجود دي او تل به وي، هېڅکله له منځه نه ځي او نه په جنت کې تیار شوي نعمتونه او په دوزخ کې عذابونه له منځه ځي، الله ﷻ د جنت په ستاینه کې فرمايي: ﴿أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾[آل عمران: ١٣٣] یعني دا د متقیانو لپاره تیار شوی دی. د دوزخ په اړه فرمايي: ﴿أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ﴾[البقرة: ٢٣] دا د کافرانو لپاره تیار شوی دی.

او په حدیث شریف کې راغلي دي: (په جنت کې داسې نعمتونه شته، چې نه سترګو لیدلي، نه غوږونو اورېدلي او نه د کوم بشر په زړه کې تېر شوي دي). [2]

همدارنګه له ابن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی، نبي ﷺ فرمایلي دي: (کله چې جنتیان جنت او دوزخیان دوزخ ته ولاړ شي، مرګ به راوستلای شي او د جنت او جهنم ترمنځ به ذبحه شي او اواز به وشي: اې جنتیانو، تردې وروسته تلپاتېوالی دی، مرګ نشته او اې د اور خاوندانو، تردې وروسته تلپاتېوالی دی. مرګ نشته؛ نو د جنتیانو به خوښي یو په دوه شي او د دوزخیانو به غم). [3]

---

١ دا حدیث امام بخاری په ٢٤٤٩ـ ٦٥٣٤ شمیره راوړی دی.

٢ ـ بخاری ٤٧٨٠ ترمذی ٣١٩٧ـ ٣٢٩٢.

٣ ـ مسلم ٥٩٩٣ شمیره.

## ارزونه:

۱ـ آیا د قیامت په ورځ له ظالم شخصه مظلوم ته حق اخیستل کیږي؟

۲ـ آیا جنت او دوزخ همدا اوس موجود دي که وروسته موجودیږي؟

۳ـ هغه حدیث چې د جنت او دوزخ په همیشوالي دلالت کوي، ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده:

د لوست لنډیز په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

نهه ویشتم لوست

## د قرآن کریم د آیتونو تر منځ غوره والی

والقرآنُ منزلٌ على رسولِ الله ﷺ ، وهُوَ في المصاحفِ مكتوبٌ.
وَآياتُ القرآنِ في معنى الكلام كُلُّهَا مُستَوِيَّةٌ في الفضيلةِ، والعظمةِ.
إلا أنَّ لِبَعضِهَا فَضِيلَةَ الذِّكرِ، وَفَضِيلَةَ المَذكُورِ مِثلَ آية الكرسي، لأن المذكورَ فيها جلالُ الله تعالى، وعظمتُه، وصفاتُه، فَاجتَمَعَت فِيهَا فضيلتانِ، فضيلةُ الذكرِ، وفضيلةُ المذكورِ.
ولِبَعضِهَا فضيلةَ الذكرِ فَحسب مِثلُ قِصَّةِ الكفارِ، وليس للمذكورِ فيهَا فضلٌ، وهم الكفارُ.
وكذلك الأسماءُ، والصفاتُ كُلُّهَا مُستَوِيَّةٌ في العَظَمَةِ، وَالفَضلِ لا تَفَاوُتَ بَينَهَا.

ژباړه: قرآن کریم د الله ﷻ له خوا پر نبي کریم ﷺ نازل شوی او په مصحفونو کې لیکل شوی.

د الله ﷻ د کلام په توګه د قرآن کریم ټول آیتونه په فضیلت کې سره یوشان دي.

خو ځینې یکې د ذکر او مذکور له امله پر نورو غوره والی لري، لکه آیة الکرسي، ځکه د الله ﷻ لویي او ډېر صفات پکې ذکر دي. دوه فضیلتونه پکې راټول شوي دي، یو د ذکر فضیلت چې د الله تعالی کلام دی او بل د مذکور فضیلت چې د الله تعالی جلال، عظمت، او صفات دي او ځینې آیتونه یوازې د ذکر فضیلت لري، لکه د کفارو د کیسو په اړه، چې په هغو کې مذکور څه فضیلت نه لري، چې هغه کفار دي.

او همدا شان د الله تعالی ټول نومونه او صفتونه په فضیلت کې یو شان دي او توپیر نه لري.

## شرح

## د محتوا له مخې د قرآني آيتونو ترمنځ توپير:

په دې لوست کې امام ابوحنيفه رحمه الله د قرآن کريم د سورتونو او آيتونو تر منځ د محتوا غوره والي ته پاملرنه کړې ده او دا راښيي چې ټول قرآني آيتونه د الله تعالى کلام دی، په درجه او غوره والي کې سره برابر دي او ترمنځ يې هيڅ توپير نشته، خو د مذکور له مخې يا په بله وينا د محتوا له مخې سره توپير لري. په کومو آيتونو کې چې د کافرانو کيسې او ناوړه کارنامې ذکر شوي دي، هغه يو فضيلت لري چې هغه د ذکر فضيلت دی، يعنې الهي کلام دی، خو په کومو آيتونو کې چې د الله تعالى نومونه او صفتونه او دده قدرت او عظمت ذکر شوی، هغه دوه فضيلتونه لري، يو د ذکر فضيلت او بل د مذکور فضيلت، يعنې د هغه داخلي محتوا. له همدې کبله د اخلاص سورت پر المسد سورت باندې فضيلت او غوره والی لري، ځکه په لومړي سورت کې دوه فضيلتونه شته؛ د ذکر فضيلت او د مذکور فضيلت او په دويم کې يوازې د ذکر فضيلت شته.

همدارنګه د ځينو آيتونو په فضيلت کې حديثونه هم راغلي دي، لکه د الفاتحة سورت چې ورته افضل القرآن ويل شوي او آية الكرسي ته سيدة القرآن ويل شوي، د يس سورت ته د قرآن کريم زړه او د الاخلاص سورت ته ثلث القرآن ويل شوي دي.

## د الله ﷻ د نومونو او صفاتو فضيلت

د الله ﷻ ټول نومونه او صفتونه په فضيلت او عظمت کې سره برابر او د مبنا او معنا له مخې څه توپير نه لري، ځکه دا ټول د الله ﷻ نومونه دي، په حديثو کې د الله تعالى د نومونو ترمنځ د (الله) د لفظ فضيلت بيان شوی دی او تر نورو نومونو غوره بلل شوی دی.

إمام غزالي رحمه الله ويلي دي، د الله ﷻ لفظ د رب العلمين په نومونو کې لوی نوم دی، ځکه ټول الهي صفات پکې را ټول شوي او په غير الله يې نه حقيقتاً اطلاق کېږی او نه مجازاً. هېڅوا ددې اطلاق په غير الله نه دی کړی، يعنې نه مسلمان د الله ﷻ نوم غير الله ته ورکړی، نه کافر او نه مشرک.

**ارزونه:**

۱ـ د قرآن کریم د آیتونو تر منځ غوره والی شته او که نه؟ بیان یې کړئ.

۲ـ د مذکور په اعتبار د آیت غوره والی څه معنا لري؟

۳ـ د الله تعالی په نومونو کې کوم یو افضل او اعظم دی؟

**کورنۍ دنده:**

د آیت الکرسي او داسې نورو آیتونو او یا سورتونو د فضیلت په هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ.

## د الله تعالی نږدېوالی، لرېوالی او د نبی کریم ﷺ معراج

وليسَ قُربُ اللهِ تعالى، ولا بُعدهُ من طَرِيقِ طُولِ المسافةِ، وقَصرِهَا، ولكن على معنى الكرامةِ، والهوانِ.

والمطيعُ قريبٌ منهُ بلا كيفٍ، والعاصي بعيدٌ منهُ بلا كيفٍ.

والقربُ، والبعدُ، والإقبالُ يَقعُ على المَناجي، وكذلك جوارُهُ في الجنةِ، والوقوفُ بين يديهِ بلا كيفيةٍ.

وإذا أشكلَ على الإنسانِ شيءٌ من دقائقِ علم التوحيد فَإنَّهُ ينبغي لهُ ان يعتقدَ في الحال ما هو الصوابُ عندَ الله تعالى إلى أن يجد عالماً فيسأله، ولا يسعُهُ تأخيرُ الطلب، ولا يُعذَرُ بالوقوفِ فيه، ويكفر إن وَقَفَ.

وخَبَرُ المِعراجِ حقٌ، من رَدَّهُ فَهُوَ مُبتَدِعٌ ضَالٌ.

ژباړه: الله تعالی ته نږدېوالی او لرېوالی د مسافې او واټن د لرېوالي او نږدېوالي په اساس نه دی، بلکې د عزت او ذلت په معنا دی.

نو مطيع او نيک کاره بنده الله تعالی ته بلا کيفه نږدې دی اوګناه ګار بنده له الله تعالی څخه بلاکيفه لرې دی.

نږدېوالی، لرېوالی او مخامخ کېدل خو په مناجات کوونکي (بنده) واقع کېږي. همدارنګه د الله تعالی په څنګ کې اوسيدل يا مخ کې دريدل تول بلا کيفه دي چې کيفيت يې الله تعالی ته معلوم دی.

که پر چا باندې د توحيد د کومې مسئلې حل ستونزمن شو، نو مناسبه ورته داده چې ووايي، ما په هغه څه باندې، چې د الله تعالی په وړاندې حق دي، ايمان راوړی دی، خو کله يې چې عالم پيدا کړ، نو د دې مسئلې په اړه دې ورڅخه پوښتنه وکړي او د عالم په پيدا کولو کې دې تأخير او توقف نه کوي، ځکه د توقف په صورت کې معذور نه ګڼل کېږي او توقف د کفر لامل ګرځي.

د معراج خبر حق دی څوک چې هغه رد کړي بدعت کوونکی او گمراه دی.

## شرح

په دغه لوست کې درې مهمې موضوعگانې ذکر شوې دي:

۱- الله تعالی ته د نږدېوالي او لرېوالی (قرب او بعد) معنا.

۲- د هغو عقیدوي مسألو حکم چې پوهېدل پرې ستونزمن شي.

۳- د نبي کریم ﷺ معراج.

### لومړی: د قرب او بعد معنا:

الله تعالی ته له نږدېوالي یا لرېوالي څخه د مسافې د طول او قصر معنا مراد نه ده، ځکه په دې سره د الله تعالی محدودیت او تشبیه لازمېږي، بلکې د قرب معنا دا ده چې مطیع بنده الله تعالی ته نږدې دی او څرنگوالی یې معلوم نه دی، عاصي ترې لرې دی، خو څرنگوالي یې معلوم نه دی. همدارنگه قرب، بعد او اقبال له الله تعالی سره مناجات، تضرع او د الله تعالی د رضا غوښتونکي بنده په هکله هم کارول شوي چې همدغه حقیقي بلا کیف معنا لري.

همدارنگه په جنت کې له الله تعالی سره د بنده جوار(گاونډیتوب) او یا د الله تعالی په مخکې د بنده وقوف (درېدل) ټول داسې معاني او الفاظ دي، چې موږ یې په څرنگوالي نه پوهېږو او د الله تعالی د عامو نومونو او صفاتو په څېر یې په بلاکیف ډول منو.

### ۲- پر ستونزمنو مسئلو د ایمان حکم

که چاته د توحید په اړه یوه مسئله ستونزمنه شي او نه پرې پوهېږي؛ نو هغه مهال دې ووایي، چې زما په هماغه څه ایمان دی، چې د الله ﷻ په اند سم وي، بیا به یې په اړه له یو عالم څخه پوښتنه کوي چې دا پوښتنه پرې لازمه ده. که پوښتنه یې وروسته کړه، گناهکار دی او په دې اړه د ده لپاره چپ پاتې کېدل عذر نه دی. که څوک چُپ پاتې شو او ځان یې پوه نه کړ؛ نو کافر کېږي.

### ۳- د نبي کریم ﷺ اسراء او معراج

**اسراء**: اسراء په شپه کې تللو ته ویل کېږي او دلته له اسراء څخه مراد دا دی چې نبي کریمﷺ

د شپې له مکې څخه بیت المقدس ته په خارق العاده توګه تللی و.

**معراج**: معراج له عروج څخه اخیستل شوی، عروج پورته ختلو ته ویل کېږي او د معراج له خبر څخه مراد آسمانونو ته د شپې له خوا د نبي کریمﷺ ختل دي. له راغلو احادیثو سره سم رسول اللهﷺ د پیغمبری په لسم کال د براق په وسیله د جبرئیل "امین" په ملګرتیا آسمانونو ته وختوت او د الله تعالی په ملاقات مشرف شو، دا پېښه د اسراء له پېښې سره یوځای وه.
د اسراء پېښه په څرګند ډول په قرآن کریم کې ذکر ده او معراج ته هم پکې اشاره شوې ده، لکه چې الله تعالی فرمایي: ﴿سُبْحَانَ الَّذِي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذِي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾ [بني اسرائیل،۱].
ژباړه: پاک دی هغه ذات چې یوه شپه یې خپل بنده له مسجد حرام نه تر هغه لرې مسجد (اقصی) پورې یوړ هغه ځای چې چاپېریال مو ورته برکتي کړی دی (ترڅو) پر هغه خپلې ځینې نښانې وګورو. په حقیقت کې هماغه د هرڅه اورېدونکی او لیدونکی دی.
په حدیثو کې د اسراء او معراج دواړه پېښې څرګندې ذکر دي.[1].
د اسراء او معراج سفر په حقیقي توګه په روح او بدن سره په ویښه تر سره شوی دی، امام طحاوي رحمه الله وایي: معراج حق دی، نبي کریمﷺ د شپې دغه سفر کړی دی، له روح او بدن سره آسمان او بیا هغه ځای ته اوچت شوی و، چې اللهﷻ غوښتی و؛ نو وحې یې ورته کړې وه او څه چې یې لیدلي وو، هغه رښتیا وو.

## په اسراء او معراج د ایمان حکم

اسراء صراحتاً په قرآن کریم کې ثابته ده؛ نو ایمان پرې فرض دی، که چا پرې ایمان رانه وړ، هغه کافر دی او د معراج معجزه په مشهورو حدیثونو سره ثابته ده، که چا پرې ایمان رانه وړ هغه بدعتي او ګمراه دی او د کافر حکم پرې نشي کېدای.

---

۱ ـ د حضرت انس رضي الله عنه دغه حدیث امام مسلم روایت کړی دی.

## ارزونه:

۱- الله ﷻ ته د بنده د قرب او بعد معنی څه ده؟

۲- آیا الله تعالی ته د قرب (نږدېوالي) او بعد (لرېوالي) په کیفیت موږ پوهیدای شو؟

۳- له اسراء او معراج څخه د منکر حکم څه دی؟

## کورنۍ دنده:

د قرآن شریف او نبوي احادیثو په استناد د معراج په هکله یوه مقاله ولیکئ.

# د قیامت نښې

وخروجُ الدجالِ، ويأجوجٍ، ومأجوجٍ،
وطلوعُ الشمسِ من مغرِبهَا،
ونزولُ عيسى عليه السلام من السماءِ،
وسائرُ علاماتِ يومِ القيامةِ على مَا وَرَدَت بِهِ الأخبارُ الصحيحةُ حقٌ كائنٌ،
والله تعالى يهدي من يشاء إلى صراط مستقيم.

ژباړه: د دجال، یأجوج او مأجوج راوتل.

له مغرب څخه د لمر راختل.

له آسمانه د عیسیعلیه السلام راکوزېدل.

او د قیامت نورې ټولې نښې دکومو په اړه، چې صحیح حدیثونه راغلي دي حق، ثابت او واقع کېدونکي دي.

او چاته چې الله جل جلاله وغواړي، نېغې لارې ته یې هدایت کوي.

## شرح

امام صاحب په لنډه توګه د قیامت څو نښې ذکر کړې چې هغه د د جال، یأجوج مأجوج راوتل، له مغرب څخه د لمر راختل او له آسمان څخه د عیسیعلیه السلام راکوزېدل دي او نورو نښو ته یې اشاره کړې ده.

### ۱ـ د دجال راوتل

دجال له ((دجل)) څخه اخیستل شوی چې خلط او تلبیس ته ویل کېږی. هر کله چې دجال حق له باطل سره ګډوډوي، نو ځکه په دې نوم یاد شوی دی.

د دجال د را وتلو په اړه صحيح حديثونه راغلي دي، چې له قيامت څخه به مخکې راوځي او د ده راوتل د قيامت له لويو نښو څخه ګڼل کيږي. حذيفة رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه روايت كوي چې ويې فرمايل: ﴿إِنَّ الدَّجَّالَ يَخْرُجُ وَإِنَّ مَعَهُ مَاءً وَنَارًا فَأَمَّا الَّذِى يَرَاهُ النَّاسُ مَاءً فَنَارٌ تُحْرِقُ وَأَمَّا الَّذِى يَرَاهُ النَّاسُ نَارًا فَمَاءٌ بَارِدٌ عَذْبٌ فَمَنْ أَدْرَكَ ذَلِكَ مِنْكُمْ فَلْيَقَعْ فِى الَّذِى يَرَاهُ نَارًا فَإِنَّهُ مَاءٌ عَذْبٌ طَيِّبٌ﴾.[1]

ژباړه: يقيناً چې دجال به راوځي اوبه او اور به يې په واک او اختيار کې وي. هغه څه چې خلك يې د اوبو په شكلويني هغه په حقيقت کې سوځوونكى اور دى او هغه څه چې خلك يې د اور په شكل کې ويني هغه په حقيقت کې يخې او خوږې اوبه دي. كه له تاسو څخه څوك دا حالت ووينې (ژوندى وي) نو كوم څه چې دده په نظر کې اور دى په هغه کې دې ځان واچوي، ځكه چې دا خوږې او خونږې اوبه دي.

## ۲ـ د يأجوج او مأجوج راوتل

يأجوج او مأجوج دوه قبيلې دي، چې د ځمكې په شمال ختيځ لور کې پرتې دي، دوى به په ځمكه کې فساد كاوه؛ نو ذوالقرنين ورته يو ديوال جوړ كړ او په هغه کې يې بند كړل، خو دا قبيلې به قيامت ته نږدې د عيسى عليه السلام په زمانه کې را وځي او په ځمكه کې به فساد خوروي، بيا د عيسى عليه السلام په دعا سره به نابودې شي. علماء وايي چې يأجوج او مأجوج د يافث بن نوح له اولادې څخه دي.

## ۳ـ د عيسى عليه السلام راكوزيدل

عيسى عليه السلام د اولوا العزمه انبياوو له ډلې څخه دى چې په خارق العاده ډول پرته له پلاره د پيغلې مريم "بتول"[2] څخه دنيا ته راغلى دى او په بني اسرائيلو کې په پيغمبرۍ مبعوث شو. درې كاله له بعثت څخه وروسته يهوديانو د روميانو په مرسته چې هغه وخت په فلسطين کې حاكمان وو، دده د وژلو هوډ وكړ. الله د هغوى له مكر څخه خلاص او آسمان ته يې پورته كړ او اوس هلته ژوندى كوي. حضرت عيسى عليه السلام به قيامت ته نږدې د دجال له راوتلو وروسته راكوزيږي. دجال به وژني او صليب به ماتوي

---

۱ - صحيح مسلم - (۸ / ۱۹٦)

۲ - څوك چې د الله تعالى ستاينې ته ځان وقف كړي.

او د حضرت مهدي او نورو مؤمنانو په مرسته به د اسلام دين د ځمکې پر ټوله کره باندې حاکموي، له کفارو څخه به جزيه نه قبلوي، بلکې ايمان راوړلو ته به يې اړ باسي چې په ځمکه کې به له اسلام څخه پرته بل دين پاتې نشي.

## ۴ـ له لويديځ څخه د لمر راختل

دا د نرۍ د ورانېدو لومړۍ نښه ده، چې يادونه يې په صحيح حديث کې راغلې ده. دغه څلور غټې نښې د قيامت له نښو څخه دي او له دې پرته نورې نښې هم شته، چې په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

۱ـ يو ډول لوږه راتلل. ۲- د حضرت مهدي راوتل. ۳-د دابة الارض راوتل. ٤ـ په ځمکه کې درې ځايه خسفونه. ٥ـ هغه اور چې خلك به محشر ته جمع کوي چې دا د قيامت له نښو څخه تر ټولو وروستۍ نښه ده.

## ارزونه

۱ـ د دجال معنى څه او دجال څوك دى؟

۲ـ د يأجوج او مأجوج په هکله، چې د قيامت له لويو نښو څخه دي، څرګندونه وکړئ.

۳ـ عيسىعليه السلام به له آسمان څخه له راکوزېدو وروسته کوم مهم کارونه کوي؟

٤- د قيامت له لويو نښو څخه شپږ نښې اجمالاً ذکر کړئ.

## کورنۍ دنده

د قيامت د نښو په هکله يوه مقاله وليکئ او د حذيفهرضي الله عنه له خوا روايت شوي حديثونه هم پکې له ژباړې سره راوړئ.

# د ایمان نواقض

مخکې مو د ایمان ارکان او بنسټونه وپېژندل. اوس د ایمان ماتوونکي شیان ذکر کوو چې ځان او نور ترې وساتو. دا په لاندې ډول دي.

**لومړی** - کفر: کفر په لغت کې د پټولو په معنا دی. کفر ته کفر ځکه وایي چې په هغه کې حق پټیږي او د شرع په اصطلاح کې کفر د ایمان ضد دی.

کفر مختلف ډولونه لري چې په لاندې ډول دي:

**۱- د تکذیب کفر**: یعنی د هغو ټولو یا ځینو څیزونو دروغ ګڼل چې رسول الله ﷺ د الله ﷻ له لوري راوړي دي.

**۲- د لویي کولو کفر**: د هغه چا کفر دی چې د اسلام حقانیت پیژني او بیا د الله او رسول له احکامو څخه د لویې او تکبر له امله اعراض کوي، لکه د ابلیس کفر.

**۳- د مخ اړولو کفر**: د رسول الله ﷺ له ټولو او یا ځینو راوړو احکامو څخه مخ اړول.

**۴- د شک کفر**: په هغه څه کې شک کول، چې نبي کریم ﷺ موږ ته راوړي دي.

**۵- د جحود کفر**: (انکار) یا د اسلام له بدیهي احکامو څخه انکار کول.

**دویم**: **شرک**: شرک د توحید ضد او د ایمان ماتوونکی دی، شرک له الله ﷻ سره د هغه په ذات، صفاتو او افعالو یا عبادت کې بل څوک شریک ګڼل دي، مثلاً په دې باور وي چې په کایناتو کې څه خدایان، متصرفان او پیدا کوونکي شتون لري، یا ځینو کسانو او ذواتو ته د هغو صفتونو نسبت کول چې هغه د الله ﷻ د صفتونو څخه ګڼل کیږي، لکه روزي ورکول، عزیزول یا ذلیل کول، په غیبو پوهیدل، شفا ورکول او داسې نور، یا د لمانځنې په کچه د غیر الله تعظیم کول یا له اسبابو څخه پورته د غیر الله نه مرسته غوښتل یا د غیر الله په وړاندې زارۍ او عذر کول، لکه چې الله ﷻ فرمایي: ﴿وَاعْبُدُواْ اللّهَ وَلاَ تُشْرِكُواْ بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ

**﴿إِحْسَانًا﴾**[النساء: ٣٦].

ژباړه: او تاسې ټول د الله بنده ګي وکړئ، له هغه سره هېڅ شريک مه نيسئ او له مور او پلار سره غوره چلن وکړئ.

**دريم: ارتداد (مرتد کېدل)**: د اسلام دين پرېښودل او پر ځای يې بل دين خپلول يا د دين له ضرورياتو (قطعي احکامو) څخه انکار کول، لکه لمونځ، روژه، زکات، جهاد او نور...

الله تعالی د مرتد په هکله فرمايي: **﴿وَمَن يَرْتَدِدْ مِنكُمْ عَن دِينِهِ فَيَمُتْ وَهُوَ كَافِرٌ فَأُوْلَئِكَ حَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَأُوْلَئِكَ أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُون﴾**.

[البقره، ٢١٧].

ژباړه: او له تاسې چې هر څوک له خپل دين څخه واوړي او د کفر په حالت کې مړ شي، د هغه عملونه به په دنيا او آخرت دواړو کې بابېزه او ضايع شي، داسې خلک ټول دوزخيان دي او تل به په دوزخ کې اوسېږي.

**څلورم: منافقت**: منافقت دې ته ويل کېږي، چې شخص په ظاهره مسلمان او په زړه کې کافر وي ځکه په عقيده کې منافقت کفر دی؛ خو د منافق او کافر تر منځ توپير دا دی، چې په دنيا کې په منافق د کفارو احکام نه جاري کېږي، ځکه د کفر اظهار يې نه دی کړی.

## ارزونه:

١- د کفر ډولونه ذکر کړئ.

٢- شرک څه ته ويل کيږي؟ تعريف يې کړئ.

٣- ارتداد(مرتد کېدل) ولې د ايمان له نواقضو څخه دی؟

٤- منافقت څه ته ويل کيږي؟ او حکم يې څه دی؟

## کورنۍ دنده:

د ايمان د نواقضو په اړه يوه لنډه مقاله وليکئ.

## په ژوند کې د ایمان اغېزې او ګټې

ایمان یوازې تصدیق او د زړه باور نه دی، بلکې عملي اغېزې او ګټې یې باید د مؤمنانو په فردي او ټولنیز ژوند کې څرګندې شي، کله چې د بنده په زړه کې ایمان خپلې رېښې کلکې کړي، نو د ده په عملي ژوند کې د هغه مېوې او اغېزې د نیکو عملونو او ښایسته اخلاقو په توګه څرګندېږي.

**د ایمان ځینې ګټې په لاندې توګه بیانېږي:**

**۱. پر الله تعالی باندې ایمان**: پر الله تعالی باندې ایمان او د هغه د اسماوو او صفاتو پېژندنه، د مؤمن په زړه کې له الله تعالی سره مینه او له ده څخه وېره را منځ ته کوي، د بنده زړه د الله تعالی د ښایسته او لویو صفتونو په وړاندې له وېرې، مینې او ډاډ څخه ډکېږي او په پایله کې په بشپړه توګه الله تعالی ته تسلیمېږي. د عارضي مینو له قیدونو او د مادي او دنیوي اړیکو څخه نجات مومي او د غیر الله وېره یې له زړه څخه وځي. په پایله کې یو خپلواک، متوکل، ډاډمن او په عین حال کې تابع او عاجز انسان ورڅخه جوړېږي، د ټولنې په یو ګټور عنصر او نېک غړي باندې بدلېږي او د دنیا او آخرت نېکمرغي لاس ته راوړي.

**۲. پر غیبو ایمان**: پر غیبو ایمان لکه د پرښتو او پېریانو په عالم ایمان، په آسماني کتابونو او داسې نورو ایمان، د انسان نظر پراخوي او هغه له نورو عالمونو سره آشنا کوي. د الله تعالی پېژندنه یوازې د آدم علیه السلام په اولاد کې نه خلاصه کېږي بلکې بې شمېره پرښتې او پیریان او آن ټول مخلوقات له جماداتو څخه نیولې تر نباتاتو او ټولو ساه لرونکو پورې د عالم پیداکوونکي ته غاړه ایښودونکي دي او هغه په پاکۍ یادوي. په دې پېژندنې سره انسان ځان یوازې نه ګڼي، بلکې په دې یې عقیده پخېږي چې له آدم علیه السلام څخه تر خاتم النبیین صلی الله علیه وسلم او تر قیامته پورې د تاریخ په اوږدو کې ټول مخلوقات الله تعالی پېژني او په پای کې د دواړو نړیو بریا د مخلصو مؤمنانو په برخه کېږي او د انسان په نفس کې په دې باور سره د ایمان او بندګۍ روحیه پیاوړې کېږي.

**۳. پر آخرت ایمان**: په آخرت ایمان د نېکو کارونو د انجام او له ناوړه کارونو څخه د ځان ژغورنې لامل کېږي. ځوک چې په آخرت ایمان لري او د الله تعالی په مطلق علم او مطلق عدالت باور لري پوهېږي، چې هېڅ وړوکی او لوی کار د الله تعالی په دربار کې نه ضایع کېږي او هر څوک له خپل نیت سره سم نېکه او یا بده بدله مومي. الله تعالی فرمايي: ﴿فَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَرَهُ * وَمَنْ يَعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَرَهُ﴾ [الزلزلة: ۷_۸]

ژباړه: بیا چې چا یوه ذره قدرې نیکي کړې وي وبه یې ګوري او چا چې یوه ذره قدرې بدي کړې وي وبه یې ګوري.

او همدا وجه ده چې د نېکو عملونو په کولو سره د انسان په زړه کې خوښي او له الله تعالی سره مینه او د بدو او ناوړو کارونو په کولو سره له الله تعالی څخه وېره پیدا کېږي.

**۴. پر قضا او قدر باندې ایمان**: پر قضا او قدر باندې ایمان په الهي پرېکړو باندې د خوښۍ لامل ګرځي او انسان دې ته هڅوي چې ناوړه پېښې او ترخه غمونه په پراخه تنده او سړه سینه قبول کړي او په هر ډول نعمتونو او هوساینو کې الله تعالی هېر نه کړي، ځکه هغه پوهېږي چې په دنیا او آخرت کې د الله تعالی له ارادې، تدبیر او قضا او قدر څخه پرته هېڅ شی منځ ته نشي راتلای او الله تعالی له قدرت او ځواکمنۍ سره حکیم، رحیم او مطلق عادل هم دی. الله تعالی چې هره فیصله کوي هغه د بندګانو په ګټه ده، لکه چې فرمايي: ﴿مَا أَصَابَ مِنْ مُصِيبَةٍ فِي الْأَرْضِ وَلَا فِي أَنْفُسِكُمْ إِلَّا فِي كِتَابٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ نَبْرَأَهَا إِنَّ ذَلِكَ عَلَى اللَّهِ يَسِيرٌ * لِكَيْلَا تَأْسَوْا عَلَى مَا فَاتَكُمْ وَلَا تَفْرَحُوا بِمَا آتَاكُمْ وَاللَّهُ لَا يُحِبُّ كُلَّ مُخْتَالٍ فَخُورٍ﴾ [الحديد: ۲۲_۲۳]

ژباړه: هېڅ مصیبت داسې نشته چې په ځمکه کې یا ستاسې پر خپل نفس نازلېږي او مور هغه له پیدا کولو نه مخکې په یو کتاب کې نه وي لیکلی. دغه کار د الله لپاره ډېر آسانه کار دی، (دا هر څه د دې لپاره دي) تر څو تاسې ته که هر زیان وي پر هغه باندې زړه ماتي نشئ او څه چې الله تاسې ته درکوي پر هغه مغرور نشئ. الله داسې خلك نه خوښوي چې خپل ځان لوی ګڼي او وياړي.

**فعالیت**:

ښاغلی ښوونکی دې د ټولګي زده کوونکي په مناسبو ډلو ووېشي او د لوست د مطالبو په اړه دې یو له بل سره بحث وکړي.

**ارزونه**:

١. پر الله تعالی باندې ایمان کومې ګټې رامنځ ته کوي؟

٢. پر غیبو ایمان څه ته ویل کېږي؟

٣. پر آخرت باندې ایمان د څه لامل کېږي؟

٤. پر قضا او قدر باندې ایمان درلودل څه ګټې لري؟

و من الله توفیق